Ketabton.com



(c) ketabton.com: The Digital Library



# فـهـرست

شمیره عنوان

١. د کتاب په اړه څو ټکي
٢. لومړی فصل= اسلامي اقتصاد څه ته وايي
٣. غربي اقتصادي نظرياتو ته لنډه کتنه
٤. د اسلامي اقتصاد ظهور
٥. د اسلامي اقتصادي سيستم اصول
٦. د اسلام له نظره د مصرف کوونکي تيوري
٧. اوسنی اقتصادي سيستم څه ډول اسلامي شي؟
٨. دوهم فصل – د اسلامي او غير اسلامي اقتصادي سيستمونو پرتله
٩. اسلام او سوسياليزم
١٠. اسلام او کپيټاليزم:
١١. اسلامي اقتصادي سيستم
١٢. په اسلامي اقتصادي سيستم کې ثبات
١٣. دريم فصل- اسلامي بانك
١٤. په نړۍ کې د اسلامي بانکونو لست
١٥. اسلامي بانکونه څرنګه کار کوي:
١٦. د اسلامي بانګي سيستم غوره والی



١٧. څلورم فصل - دتمويلولو اسلامي لارې
١٨. سود يا ربا:
١٩. ربا په قرآن او حديث کې:
٢٠. د سود په اړوند څو شبهات او اعتراضات:
٢١. د ربا(سود) د حراموالي اقتصادي منطق:
٢٢. د تمويلولواسلامي طريقې
٢٣. سکوك (اسلامي بانډ):
٢٤. پنځم فصل- اسلامي اقتصادي پرمختګ
٢٥. د اقتصادي پر مختګ د کچې لارې:
٢٦. پر مختګ د اسلام له نظره:
٢٧. ځنې غربي اقتصادي تيوريو ته کتنه
٢٨. داقتصادي پرمختګ غربي تيوريو په اړه څووروستۍ خبرې
٢٩. شپږم فصل-د اسلامي هيوادونو ترمينځ اقتصادي همکاري
٣٠. په اقتصادي برخه کې پر نورو تکيه کول او پايلې يې
٣١. اقتصادي يووالي ته ليوالتيا او په مخ کې پراته خنډونه
٥. د اقتصادي ائتلاف لارې
اووم فصل - انفلاسيون:
٣٤. د انفلا سيون ډولونه
٣٥. د انفلاسيون اغيزې:
٣٦. اسلامي اقتصاد او انفلاسيون:
٣٧. د انفلاسيون دکنټرول ځانګړې لارې
٣٨. اتم فصل- د اسلامي اقتصاد مهمی مسئلې
٣٩. نرخ ټاکل د اسلام له نظره
٤٠. بيمه (انشورينس):

(c) ketabton.com: The Digital Library




٤١. بيمه د اسلام له نظره: ٣
٤٢. دمروجې بيمې خلاف د اسلامي علماوو دلايل
٤٣. تكافل يا اسلامي بيمه ٤
٤٤. نهم فصل - په اقتصاد کې د حکومت رول
٤٥. د حکومت دندې
٤٦. د حکومت د عايد سرچينې
٤٧. لسم فصل -د اسلامي دولت مالي او پولي پاليسي
٤٨. د اقتصادي پرمختګ لپاره ضروري ټکي
٤٩. په اسلامي هيواد کې ماليه (ټکس)
٥٠. زکات
٥١. زکات او اقتصادي ثبات ٧
٥٢. د زکات او ټکس تر منځ توپير 1
٥٣. اسلامي پولي پاليسي 1
٥٤. ماخذونه ٧




# د معاصر اسلامي اقتصاد پيژندنه

بشير اللّه نجيمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهم چاپ**

**کال ۱۳۸۸/ ۲۰۰۹ م**



## د کتاب پیژندنه


| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | د معاصر اسلامي اقتصاد پیژندنه |
| تالیف | : | بشیر الله نجیمي |
| کمپوز | : | مؤلف |
| ناشر | : | د القلم د ژباړې او څېړنې خپرندویه اداره |
| آدرس | : | یونیورسټي روډ ، ارباب روډ ، ګل حاجي پلازه، اطاق: ٤٠٦ |
| شمیر | : | ۱۰۰۰ |
| نیټه | : | حمل ۱۳۸۸ ، مارچ ۲۰۰۹م |
| د چاپ نوبت | : | دوهم |


د چاپ حقوق خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب په اړه څو ټکي

علم نعمت دی، خو مونږ خوار افغانان له نورو نه زیات له دې لوی نعمت نه بې برخې یو، هغه افغان نیکمرغه او بختور دی چې پدې بده ورځ کې د زده کړې امکانات تر لاسه کوي، او زیات بختور خو هغه دی چې د لوړو زده کړو فرصت په لاس ورځي. پدې حساب زه هم ځان بختور شمیرم چې الله تعالی په داسې ځای کې د تحصیل شرایط راته برابر کړل چې د نورو ساینسي علومو ترڅنګ د اسلامي علومو ښوونه او تدریس هم په کې کېږي، زما مطلب د اسلام آباد نړیوال اسلامي پوهنتون دی، کوم چې پر نورو خدمتونو سربیره یې افغاني ټولنې ته هم زیات شمیر په پوهه او علم سمبال خادمان وړاندې کړیدي. ما د اسلام آباد په نړیوال اسلامي پوهنتون کې د اسلامي اقتصاد د لیسانس په دوره کې د خپلې زده کړې په دوران کې د غربي اقتصاد او اسلامي اقتصاد په اړه ګټور معلومات ترلاسه کړل او همغه وخت دا هیله راسره پیدا شوه چې د اسلامي اقتصاد په اړوند څه ولیکم، دا مې خپله دنده وبلله ځکه چې د اسلامي اقتصاد زده کړه او تدریس په ډېرو لږو اسلامي هیوادونو کې تر سره کېږي او زمونږ په هیواد کې خو د جنګونو او د کفارو د تېریو په وجه دې خواته هیڅ پاملرنه نه ده شوې .
له نېکمرغه چې د ماسترۍ په دوران کې د اسلامي اقتصاد یو مشهور او تکړه اقتصاد پوه ډاکتر عبد الرحمان یسري (1) له مصر څخه د اسلام آباد نړیوال اسلامي پوهنتون ته د تدریس لپاره تشریف راوړ او ما ته دا ویاړ راپه برخه شو چې له نوموړي څخه د Current issue in Islamic Economic په نامه د اسلامي اقتصاد یو مضمون ولولم. په دغه دوران کې مې د اسلامي اقتصاد په اړه د یوه داسې کتاب لیکلو ته پیل وکړ چې معاصرې اقتصادي نظریې او تیورۍ په کې رانغښتې وي. ددغه کتاب له

1- د مصر په سکندریه پوهنتون کې د اقتصاد استاذ دی.



لیکلو څخه زما هدف دا دی چې که وکولی شم د اقتصاد محصلینو ته د اسلامي اقتصاد په اړوند تازه مفکوره او نوي معلومات وړاندې کړم تر څو دوی دیته وهڅول شي چې د اوسني اقتصادي سیستم اسلامي کولو لپاره متې راونغاړي او پدې ډول سره ځانونه او ملت د دنیا او آخرت دواړو په کامیابیو سره سرلوړي کړي .
کوښښ کړی مې کړی په کتاب کې د اقتصاد د محصلینو اړتیاوې په پام کی ونیسم، ډېرې اقتصادي موضوګانې په لنډ ډول راونغاړم او له ډېر ژور او اوږده بحث څخه ډډه وکړم. همدا راز پدې کتاب کې ځینې اقتصادي ترمنالوژۍ او اقتصادي اصطلاحات کارول شویدي او دا فرض شوېده چې ګران لوستونکي به تر یوه حده د اقتصاد په بنسټیزو اصولو او قواعدو پوهېږي. همدا راز په کتاب کې اسلامي اقتصاد له غیر اسلامي اقتصاد سره په پرتلیزه توګه څېړل شوی او د اسلامي اقتصاد په اړوند معاصرو پرمختګونو او د اسلامي اقتصاد د عملي کولو هڅو ته پکې اشاره شویده.
دغه کتاب د اقتصاد پر محصلینو سربیره د هغه چا لپاره هم ګټور بولم چې غواړي د اسلامي اقتصاد په اړوند تازه معلومات تر لاسه کړي، خو هغوی شاید په ځېنو اقتصادي اصطلاحاتو او تحلیلونو کې له څه مشکل سره مخ شي، خو بیا هم تمه ده پوره ګټه ورنه واخلي. کوښښ مې کړی ټول هغه څه چې ما د تحصیل په دوران کې د اسلامي اقتصاد په اړوند زده کړي ولیکم او ددې ترڅنګ مې دا هم کړي چې د ځېنو اسلامي اقتصاد پوهانو مقالې په لنډه توګه راوژباړم او په کتاب کې ځای ورکړم . د یادولو وړ ده څرنګه چې زه په خپله د ډاکتر عبد الرحمان یسري له نظریاتو څخه ډېر متاثر یم نو ځکه دغه کتاب هم په زیاترو مسایلو کې د نوموړي د نظریاتو تر سیوري لاندې لیکل شویدی.
درنو لوستونکو، څرنګه چې دا زما لومړنۍ لیکنه ده، نو ښکاره خبره ده چې تیروتنې او غلطۍ به پکې شوې وي، که څه هم ما تر خپله وسه کوښښ کړی چې د اشتباهاتو مخه ونیسم، خو بیا هم کتاب له غلطیو نه تش نه وینم، نو که تاسو ښاغلو ته کومه غلطي په مخه درځي، هیله. ده چې په ښښنې سره مې ونماځئ او د خپلې مهربانۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې يې راته په ګوته کړئ تر څو په راتلونکې کې سمه او تصحيح شي.

په پای کې له محترم استاذ سلطان محمود صلاح څخه ډيره مننه کوم چې د کتاب په تصحيح او چاپ کې يې مرسته راسره وکړه او هم له محترمو ورونو هر يو عزت الله ، قاري محمد نعيم او محب الله رحيمي نه ډيره مننه کوم چې د ليکلو په بهير کې يې خپله مرسته نه ده رانه سپمولې.

له رحمان خدای نه د خپل دې عاجزانه خدمت د قبول سوال کوم او ټولو هغو دوستانو ته د اجر او ثواب دعا کوم چې له ما سره يې په دې برخه کې مرسته کړيده.

په درنښت

بشيرالله نجيمي

اسلام آباد ، پاکستان
۲۰۰۵/۹/۱۱



# لومړی فصل

## اسلامي اقتصاد څه ته وايي؟

په نړۍ کې درې غټ اقتصادي سيستمونه موجود دي چې هغه عبارت دي له: کپيټاليزم، سوسياليزم او اسلام څخه. سوسياليزم يا کمونيزم په ځينو هيوادونو لکه روس، چين او داسې نورو کې پلې شو، خو نن سبا دغه هيوادونه بيا دکپيټالزم په لور روان دي او کمونيستي اقتصادي سيستم له مينځه تللی دی. کپيټاليستي اقتصادي سيستم تر اوسه په پښو ولاړ دی مګر دغه دواړه وضعي اقتصادي سيستمونه يوازې د انسان مادي اړتياوو ته درناوی کوي او د هغې د لاسته راوړنې او پوره کولو لارې چارې ښيي، روحي اړتياوو ته په کې پام نه دی شوی، بل دا چې دا اقتصادي سيستمونه انسانانو د خپل فکر په اساس جوړکړي دي، د آسماني لارښوونو او اصولو په اساس نه دي ولاړ، نو ځکه کامياب او ګټور نه دي، خو اسلامي اقتصادي سيستم يوازينی سيستم دی چې د مادي او روحي اړتياوو دواړو د پوره کولو لارې چارې په کې ښودل شوې دي. (اسلامي اقتصادي سيستم له نورو سيستمونو سره په دوهم فصل کې په پرتليزه توګه څيړل شوی دی). اسلامي اقتصادي سيستم د الله (ج) د اوامرو او احکامو په رڼا کې جوړ شوی، خو متاسفانه چې داسلامي خلافت له زرينې دورې څخه وروسته په بشپړه توګه نه دی پلې شوی که څه هم په دې وروستيو کې په دې برخه کې هڅې روانې دي.

ولې اسلامي اقتصاد؟ غربيانو چې کوم اقتصادي سيستم جوړکړی دی هغه د دوی د خپلو اقتصادي او کلتوري عاداتو او حالاتو په نظر کې نيولو په اساس جوړ شويدی. د بيلګې په توګه سود، خود غرضي او داسې نور په کې ګډ شوي دي او د دوی ټول اقتصادي سيستم په همدغو اصولو ولاړ دی او څرګنده ده چې د دوی ټول اصول د انسانانو په وسيله جوړشوي دي، نو مونږ نشو کولای چې غربي اقتصادي تګلاره په ټټو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړګو عملي کړو، ځکه مونږ خپل بشپړ نظام لرو او الله (ج) د ځنې کارونو او اعمالو له کولو څخه منع کړي یو او څرنګه چې دا ژوند یوه آزموینه ده، نو مونږ باید نه یوازې د دنیا د ژوند په اړوند فکر وکړو بلکې آخرت هم باید په نظر کې ونیسو، په همدې بنسټ زمونږ اقتصادي سیستم باید دقرآن او احادیثو د اصولو په مراعاتولو او د هغې په رڼا کې جوړشي.

## غربي اقتصادي نظریاتو ته لنډه کتنه:

په عمومي ډول سره غربي اقتصادي تیوري په دوو برخو ویشل شوې ده کلاسیکل او کېنیزین اقتصادي مفکوره.

**کلاسیکل اقتصادي نظریه**: ددې نظریې اقتصاد پوهان پدې نظر دي چې په اقتصاد کې باید همیشه ټول وسایل پکار اچول شوي وي، بشپړ توظیف (Full Employment) وي نوځکه دوی فرض کوي چې د عمومي عرضې خط عمودي دی او دوی پدې نظر دي چې حکومت باید په مارکېټ کې هیڅ مداخله ونکړي، سربیره پردې دوی دا هم فرض کوي چې مارکېټ فعال (موثر یا Efficient) دی او د تنخوا اندازه بدلیدونکې ده (Flexible Wage) او که مارکېټ (تقاضا او عرضه) په خپل حال پرېښودل شي تعادل مینځته راځي.

مګر کلاسیکل اقتصادي سیستم د لوی زوال (Great depression 1930) نه وروسته له ناکامۍ سره مخ شو او دکېنز نظریو ډېر شهرت وموند.






## کېنزین اقتصادي نظریه:

کېنز وویل چې حکومت باید په مارکېټ کې فعال رول ولري او عمومي تقاضا (غوښتنه Aggregate Demand) باید ترتیب شي. پدې سیستم کې دوی دا فرض کوي چې د عمومي عرضې (Aggregate Supply) له اړخه کوم مشکل نشته او هر څومره شي چې وغواړو تولید کړو تولید کېدی شي، اصلي مشکل یوازې د تقاضا له اړخه دی.




او تقاضا باید د حکومتي لګښتونو په وسیله کنټرول شي، دوی دا هم وایي چې د تنخوا اندازه یا حد ثابت دی، (Wages are Rigid)




په دغه ګراف کې د عرضې د خط (Supply Curve) دری واړه برخې (

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښودل شوي دي   اسلامي هیوادونه ټول په اوسط حد کې واقع دي، ددې دا معنی شوه چې اسلامي هیوادونو خپل ټول وسایل په کار ندي اچولي او ددې ترڅنګ دوی د تولید له اړخه هم مشکلات لري.

مګر مونږ ته دا معلومه ده چې له اوو اسلامي هیوادونو (کویت، سعودي، لیبیا، قطر، متحده عرب امارات) څخه پرته چې ټول تیل تولیدونکي هیوادونه دي نور ټول اسلامي هیوادونه د غریبو یا وروسته پاتې هیوادونو په ډله کې راځي. زمونږ مارکیټونه او زمونږ مالي سیستم دومره موثر او فعال نه دی چې د غربي هیوادونو له حالت سره د برابرۍ وي او زمونږ حالات او شرایط له هغو شرایطو نه ډیر توپیر لري د کومو په بنا چې د لویدیځ اقتصاد پوهانو اقتصادي تیورۍ جوړې کړې دي.

له بل اړخه په اسلامي هیوادونو کې اصلي مشکل د عرضې (Supply) او یا تولید له لوري دی، تقاضا موجوده ده مګر مونږ د خپلې اړتیا وړ شیان په خپله نشو تولیدولی، اسلامي هیوادونو ته پکار ده چې د عرضې اړخ ته (Supply Side) ډیره پاملرنه وکړي ځکه د تقاضا له اړخه مشکل کم دی، په اسلامي هیوادونو کې چې کومه کمه تقاضا موجوده ده مونږ هغه هم په خپله نشو پوره کولای او د نورو بهرنیو هیوادونو څخه ډیر تجارتي وسایل اخلو.

نن سبا په غربي هیوادونو کې د اقتصادي ثبات ساتنه (Stabilization) غټه مسئله ده، یعنی د هغه بشپړ توظیف چې دوی ترلاسه کړی ثابت ساتنه او د هغې ترڅنګ د انفلاسیون کنټرولول یوه مهمه مسئله ده. خو زمونږ (اسلامي هیوادونو) مشکل دا نه دی، زمونږ په هیوادونو کې پوره توظیف (full employment) نشته، بېکاري زیاته ده، مونږ ته لومړی دا پکار ده چې خپل تولیدات زیات کړو، ترڅو خلکو ته روزګار برابر شي او د عوامو د ژوند سطحه ورسره ښه شي.

له بله پلوه غربي هیوادونو د الله (ج) اوامر له پامه غورځولي دي، دوی یوازې د مادي اړتیاوو (material need) د پوره کولو په هڅه کې دي او روحي خوشحالي یې له پامه غورځولې ده چې ددې په وجه د دوی په وګړو کې د ځان وژنې کچه ورځ په ورځ زیاتیږي



او سره له دې چې د ژوند ټول مشکلات یې هم حل دي بیا هم ذهني او روحي راحت او ډاډ نلري ددوی ځینو اقتصاد پوهانو دغه خبره منلې ده. یو غربي اقتصاد پوه وایي چې د مال او دولت زیاتیدل حتما د خوشحالۍ د زیاتیدو باعث نګرځي، بلکې یوازې د انتخاب ساحه (Range of Choice) ورسره زیاتیږي.

یعنی که یو سړی ۱۰۰۰۰ افغانۍ عاید ولري او بل سړی ۲۰۰۰۰ افغانۍ عاید ولري پدې صورت کې لومړنی سړی یوازې هغه شیان اخستلای شي چې قیمت یې د افغانیو۱-۱۰۰۰۰ تر مینځ وي او دوهم سړی د ۱-۲۰۰۰۰ افغانیو تر مینځ قیمت لرونکي شیان اخستلای شي دا د دې معنی ورکوي چې د لومړي سړي د انتخاب ساحه د دوهم سړي د انتخاب له ساحې څخه کمه ده، مګر دا ددې معنی نه ورکوي چې هرومرو دې هغه سړی چې ډېر عاید لري خوشحاله او آرامه وي ، کېدای شي چې هغه سړی چې کم عاید لري له هغه بل نه ډېر آرام او روحا سوکاله وي .

الله(ج) په قرآن کې فرمایي: [الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ]. (الرعد: **27**)

ترجمه: (دغه رجوع کوونکي) هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی دی او آرام نیسي زړونه ددغو (مومنانو) په ذکر دالله (ج) سره، واورئ خبردار شئ چې په ذکر دالله (ج) سره مطمئن کېږي آرام نیسي زړونه.

یعنی خوشحالي د الله(ج) له اړخه ده او هر څوك چې د الله (ج) اوامر مني او د هغه عبادت کوي الله (ج) هغوی خوشحاله او آرام ساتي.

سره له دې چې ډېرو اسلامي هیوادونو کوښښ وکړ چې د غیر اسلامي اقتصادي نظریاتو او فارمولو په عملي کولو سره، خپل اقتصادي مشکلات حل کړي مګر د دوی ټولي هڅې ناکامې شوې او ددې په وجه ډېر اسلامي هیوادونه د سود تر بوج لاندې راغلل، د مثال په ډول پاکستان د خپلو پیداوارو (داخلي ناخالص محصول(GDP) تقریبا ۲۵% یوازې د سود په ورکولو مصرفوي، نو مونږ ته پکار ده چې اسلامي اقتصاد عملي کړو او لدې لارې د دواړو دارینو کامیابي ترلاسه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داسلامي اقتصاد ظهور:

اسلامي اقتصاد په تدريجي ډول پرمختګ کړی، په تيرو وختونو کې له نورو علومو سره ګډ و، لکه د قرآنکريم په احکامو کې، د فقهاء او تاريخ ليکونکو په ليکوکې د اسلامي اقتصاد په برخه کې لاندنيو علماؤ ډېر کارکړی دی:

امام ابويوسف(d182/798)(2),ماوردي (d450/1058)،ابن حزم (d456/1046),الغزالي (d 505/1111), ابن تيميه (d 728/1328), ابن قيم(d 751/1350)،ابن خلدون ( d 808/1406) او شاه ولي الله (d 1176/1762) ډېر د قدر وړ کار کړی دی .مګر لکه څرنګه مو چې مخکې ذکر وکړ په دې دوران کې اسلامي اقتصاد له نورو علومو لکه فلسفه، فقه او نورو سره ګډ و .

د ابن خلدون کتاب (مقدمه)کوم چې د تاريخ د معرفت په اړوند ليکل شوې، خو ځينو اقتصادي نظريو ته هم پکې ډېره توجه شوې ده. ابن خلدون په دې کتاب کې د اقتصاد ، سياست، ټولنيزو عاداتو او رواجونو او د حکومتونو د زوال او عروج تر مينځ د اړيکو او تړاو مسئله څيړلې ده. د ابن خلدون ځينې اصول او نظريات کوم چې ده تقريبا شپږ پيړۍ وړاندې ويلي وو دومره پرمختللي وو چې د نننۍ زمانې له نظرياتو او تيوريو سره ډير ورته والی لري. ابن خلدون په هر صورت په داسې وخت کې ژوند کولو چې د مسلمانانو سياسي او ټولنيز زوال شروع شوی و. هغه صحيح ويلي وو چې: *علم او ساينس هغه وخت پرمختګ کوي کله چې يوه ټولنه په خپله د پرمختګ په حال کې وي*، له دې څخه وروسته کله چې مسلمانان د زوال سره مخ شول د اقتصاد په برخه کې کله ناکله پرمختګ مينځ ته راتلو مګر دا په پراخه پيمانه نه و، يعنی له ابن خلدون څخه وروسته پدې برخه کې چا کوم غټ کار ونکړ، پرته له يو څه کارڅخه چې ځينو علماؤ لکه المقريزي، الدواني او شاه ولي الله وکړ نور کوم د پام وړ کار ندی شوی.

پدې دوران کې غربي اقتصادي علومو ډېر پرمختګ وکړ، د ۱۸۹۰لسيزې په دوران کې د الفرډ مارشال لخوا د اقتصادي اصولو په نامه کتاب چاپ شو او لدې څخه وروسته د

[2]- **(d182/798) دغه ۱۸۲ ميلادي کال ، او د هغه لاندی ۷۹۸ هجري کال شيي**



اقتصاد علم په غرب کې د يوه مستقل علم په ډول وپيژندل شو. خو اسلامي اقتصاد تر دوهم نړيوال جنګ پورې همداسې له نورو علومو سره ګډ پاتې شو، زيات اسلامي هيوادونه له دوهم نړيوال جنګ څخه وروسته آزاد شول په دغه وخت کې اسلامي هيوادونه د خپلو ويجاړو سيستمونو ترڅنګ د اقتصادي سيستم د جوړولو او بيا پر پښو دريدلو په هڅه کې شول ځکه دغه سيستمونه د نړيوال جنګ او د کفارو د حملو په وجه له مينځه وړل شوي وو، څرنګه چې په هغه وخت کې نور اقتصادي سيستمونه په سود ولاړ وو او سود د اسلام له نظره ناروا دی (د اسلامي اقتصاد او نورو اقتصادي سيستمونو ترمينځ ډېر توپيرونه شته او يوازې سود ندی) نو ځکه دوی دا اړتيا وليده چې خپل اقتصادي سيستم د اسلام د اصولو او قوانينو په چوکاټ کې جوړکړي.

په هر صورت لکه څرنګه مو چې وړاندې يادونه وکړه انفرادي هلې ځلې په دې بريالۍ نشوې چې اسلامي اقتصاد د يوه مستقل علم په ډول نړيوالو ته ور وپيژني نو د ګډو هلو ځلو اړتيا پيداشوه. تر څو پورې چې په کال ۱۹۷۶ د فبروري په مياشت کې د اسلامي اقتصاد په اړه په مکه مکرمه کې لومړنی نړيوال کنفرانس جوړ شو ا و پدې وسيله اسلامي اقتصاد د يوه مستقل علم په ډول دنيا ته معرفي شو او همدې د اسلامي اقتصاد مشهورتيا او پدې لاره کې د کار کولو لپاره لاره برابره کړه. ددغه کنفرانس په جوړولو کې ډاکتر محمد نجات الله صديقي، ډاکتر محمد عمر او پروفيسر خورشيد احمد فعال رول ولوبولو.په دغه کنفرانس يا سيمينار کې د ډاکتر محمد نجات الله صديقي لخوا د پخوانيو اسلامي علماؤ د اقتصادي نظرياتو په باب يوه مقاله يا رساله وړاندې شوه، دغې مقالې په اسلامي اقتصاد باندې د بحث کولو بنسټ کېښود. ځينو نورو ادارو هم په دې اړوند مهم رول اداکړی دی چې لدې جملې څخه مهمې په لاندې ډول دي:

- دي اسوسيشن اف مسلم ساينټيسټ ( The Association of Muslim Scientist) داسلامي ساينسي علماؤ ټولنه، چې په۱۹۷۲ کال په امريکا کې جوړه شويده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دي اسلامك فونډيشن ، لايسيسټر ، بريتانيا (The Islamic Foundation, Leicester, UK,) ، اسلامي موسسه په برتانيا کې په کال1973 کې جوړه شوې ده.

- اسلامك ډيولوپمنټ بنك (Islamic Development Bank) اسلامي پرمختيايي بانك، اسلامي ريسرچ او ټريننګ اداره، كال ۱۹۸۳،جده سعودي عربستان.
- نړيواله اسلامي اقتصادي پوهنځۍ ماليزيا ، ۱۹۸۳كال.
- نړيواله اسلامي اقتصادي پوهنځۍ اسلام آباد ، پاكستان ۱۹۸۳

د اسلامي اقتصادي بانك په اړوند د ډېر كار په وجه اسلامي پرمختيايي بانك نړيوال اسلامي اقتصادي پوهنځۍ اسلام آباد ته يوه جايزه هم وركړېده (IDB Prize).

## اسلامي اقتصادي سيستم :

لکه څرنګه مو چې مخکې وويل مونږ نشو کولای غير اسلامي اقتصادي سيستم عملي کړو، نو ځکه را ته پکار ده چې يو داسې اقتصادي سيستم جوړ کړو چې د اسلام په اصولو ولاړ وي. اسلامي اقتصادي سيستم هغه سيستم ته وايي چې ټول اقتصادي مشکلات د قرآن او احاديثو په رڼا کې حل کړي.

دکتور عبدالرحمان يسري اسلامي اقتصاد په لاندې ډول تعريفوي:

اسلامي اقتصاد هغه علم دی چې له هغو اقتصادي وسايلو نه بحث او خبرې کوي کوم چې د الله تعالی له خوا د حلالو شيانو د لوړ امکاني توليد او هغو خدمتونو د برابرولو لپاره ورکړل شويدی کوم چې نن او په راتلونکې کې د ټولنې لپاره په کار راځي.

کپيټاليزم او نور اقتصادي سيستمونه وايي چې وسايل محدود دي او اړتياوې لامحدودې دي .مګر په اسلام کې دا نظريه نشته، اسلام وايي چې الله تعالی ټول وسايل او موجودات په يوه ټاکلې اندازه پيدا کړي دي لکه چې الله (ج) فرمايي :



"الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا" (الفرقان:1)

ترجمه: هغه (الله (ج) چې خاص هم ده ته دی ملك سلطنت د آسمانونو او د ځمکې او نه يې دی نيولی هيڅ ولد او نشته ده ته شريك (مل) په ملك سلطنت کې او پيدا کړی دی الله (ج) هرشي پس په اندازه کړی يې دی هغه (شي) په اندازه کولو سره.

لدينه دا څرګنديږي چې د وسايلو کمی نشته، مګر مشکل دا دی چې مونږ پدې نه يو توانيدلي چې ددغو وسايلو څخه په موثر ډول کار واخلو. ددې خبرې مطلب دا شو چې الله (ج) د انسانانو لپاره پوره وسايل او د اړتيا وړ شيان په دې ځمکه کې پيدا کړي دي، خو دا دې ته اړتيا لري چې مونږ د هغو د پلټنې او کارونې لپاره موثر ګامونه اوچت کړو او دا ويره غلطه او بې ځايه ده چې ځينې خلك وايي كه د نړۍ نفوس زيات شي نو انسانان به له لوږې سره مخ شي.

## اوس دا سوال پيداکيږي چې اسلامي اقتصادي سيستم ولې ندی عملي شوی؟

مونږ بايد پدې پوه شو چې اسلامي اقتصاد د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په وخت کې او د هغه نه وروسته وجود درلود، سود حرام شوی و، د زکات سيستم وجود درلود او اسلامي دولت په خپله زکات را ټولولو، حتی د حضرت عمر بن عبد العزيز رضي الله عنه په وخت کې د مسلمانانو اقتصاد دومره پياوړی شوی و چې داسې څوك نه پيدا کېدل د زکات پيسې واخلي، مګر وروسته بيا د کفارو له خوا اسلامي سيستم له مينځه يوړل شو او هم په وروستيو کلونو کې د اسلامي دولتونو مشرانو دې ته سمه توجه ونکړه. خو بايد ووايو چې پدې وروستيو کلونو کې اسلامي اقتصاد ته ډېر کار شوی دی او ډېر اسلامي بانکونه جوړشوي دي او څرنګه چې دغه بانکونه کامياب دي ، نو ځينو سودي بانکونو هم د اسلامي بانکونو کړکۍ (Islamic Banking window) خلاصې کړې دي لکه د سيټي بانك (City Bank) ,د چين د شانګهاي بانك ( Shang

(c) ketabton.com: The Digital Library



Hai Bank)، سنټر چارټر بانک او داسې نور غير اسلامي بانکونه اسلامي بانکي سيستم په مخ بيايي. نوره تفصيلي څېړنه د اسلامي بانک تر عنوان لاندې فصل کې کتلی شئ. ددې ترڅنګ غربي هيوادونه هم په دې هڅه کې دي چې د اسلامي اقتصاد په اړوند معلومات ترلاسه کړي چې په دې لړ کې په انګلستان کې د اسلامي اقتصاد او فايننس په نامه يوه پوهنځۍ هم جوړه شويده.

له نيکمرغه پدې وروستيو کې په ځينو اسلامي هيوادونو کې د اسلامي اقتصاد پوهنځۍ جوړې شوې دي لکه په پاکستان، ايران، ماليزيا، سعودي عربستان او داسې نورو هيوادونو کې، دوی کوښښ کوي چې د اسلامي اقتصاد د عملي کولو لپاره اسلامي اقتصاد پوهان وروزي او د اسلامي اقتصاد د پلي کولو لپاره لاره برابره کړي. پدې اړوند ډېر پرمختګ شوی دی او ان شاء الله په نږدې راتلونکې کې به په مکمل ډول د اسلامي هيوادونو اقتصاد اسلامي شي.

## د اسلامي اقتصادي سيستم اصول:

په لنډ ډول د اسلامي اقتصاد اصول په لاندې ډول دي، يعنی اسلاي اقتصاد په لاندنيو ستنو ولاړ دی:

### 1) د سود حراموالی:

سود چې په عربي کې ورته ربا وايي، داسې ندی چې يوازې د اسلام په دين کې حرام دی، بلکې په ټولو اسماني اديانو لکه نصرانيت، يهوديت کې هم حرام دی، خو متاسفانه چې اوس يهودانو او نصرانيانو خپل دين پريښی او سود خوري.

سود اخستل له کبيره ګناهونو څخه يوه لويه ګناه ده او څوك چې سود اخلي الله (ج) هغوی ته ويلي چې له الله (ج) سره د جنګ لپاره دې تيار شي، الله (ج) فرمايي:

"يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنتُمْ مُؤْمِنِينَ (*) فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللهِ وَرَسُولِهِ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُون.".
(البقرة: **۲۷۷-۲۷۸**)



ترجمه: اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړې دی وويرېږئ له الله (ج) نه او پرېږدئ هغه چې پاتې شوي دي له سوده که يئ تاسې مومنان. پس که ونه کړ تاسې (داکار) نو آګاه شئ (ځان تيارکړئ) تاسې په جنګ له (طرفه د) الله (ج) او رسول دده، او که توبه ګاره شوئ تاسې (له اخستلو د سوده) نو شته تاسو لره اصل د مالونو ستاسې مه کوئ تاسې ظلم (چې سود به هم غواړئ) او نه دې ظلم کاوه شي پر تاسو (چې له راس المال څخه مو څه کم کړی شي).

اوسني بانکونه چې ګټه ورکوي هغه سود دی. په اسلام کې د پانګونې ډېرې داسې لارې شته چې د سود څخه پاکې دي چې تفصيل به يې وروسته (د تمويلولو اسلامي لارې) تر عنوان لاندې راشي.

### 2) زکات :

زکات په لغت کې پاکوالي او په اصطلاح کې ودې او زياتوالي ته وايي. زکات د اسلام دريمه بنا ده، زکات د نصاب د پوره کيدو په صورت کې له لاندنيو دريو شيانو پرته په هر څه کې فرض دی:

- د توليداتو وسايل يا فکتورونه هغه وسايل چې يو شخص په خپل کاروبار کې ور څخه کار اخلي، مثلا يو سړی يوه کمپنۍ لري نو په هغه کمپنۍ باندې زکات نشته بلکې د هغې په توليد کې زکات فرض دی.
- لومړنۍ اړتياوې .لومړنۍ اړتياوې هغه دي چې د يوه شخص د ژوند لپاره ضروري وي چې په هغه باندې زکات نشته مثلا يو شخص يو کور لري او په خپله په کې اوسيږي، نو په هغه زکات نشته ، مګر که ډېر کورونه ولري او په کرايه يې ورکړي وي نو بيا زکات ور باندې شته.
- د نصاب له حد نه کمه شتمني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زکات په هر بډای مسلمان فرض دی او نصا ب یې په لاندې ډول سره دی (3):

- په بیکاره سپما او شتمنۍ (روپیو،پیسو) باندې 2.5% زکات دی.
- طبیعي زیرمې (معدنیات....) چې د زکات اندازه یې ۲۰% ده.
- هغه شیان چې په تولید کې یې له کپیټل (4) (capital) او محنت (labor) دواړو څخه کار اخستل شوی وي پدې ډول شیانو کې ۵% زکات دی.مثلا یو سړی یوه کارخانه لري او په هغه کې په خپله هم کار کوي په دې صورت کې نوموړی باید ۵% زکات ورکړي .
- هغه تولیدات چې په هغه کې یوازې د کپیټل یا محنت (labor) څخه استفاده شوې وي چې پدې کې د زکات اندازه۱۰% ده، مثلا یو سړی د شاتو د مچیو کار و بار کوي په دې کې د نوموړي سړي یوازې کپیټل په کار اچول شوی دی او دده څه خاص محنت په کې نه شته ، نو په دې صورت کې نوموړې باید ۱۰% زکات ورکړي .
- هغه ځمکه چې د باران په وسیله اوبه کېږي د هغې په پیداورو کې ۱۰% زکات دی او هغه ځمکه چې په بله وسیله اوبه کېږي مثلا د واټر پمپ په وسیله د هغې په پیداورو باندې ۵% زکات دی
- په څارویو کې هم زکات شته چې د نصاب حد یې مختلف دی، او د بحث د نه اوږدولو په خاطر یې دلته له یادولو نه تیریږو.

نوټ: دغه پورته ذکر شوې اندازې د زکات د ځینو معاصرو اسلامي علماوو او اقتصاد پوهانو نظریه ده او دوی خپل نظر د باراني او غیر باراني ځمکې د پیداوارو په زکات باندې قیاس کړی دی، خومشکل په دې کې دا دی چې څرنګه معلومه کړی شي چې په یوه کار و بار کې یوازې کپیټل او یا یوازې محنت کارول شوی دی؟ دغه کار لږ شانته

---

3- د زکات دغه حد(اندازه) یا ریټ د محترم استاذ حسن الامین د لیکچر څخه را اخستل شوې نوموړی د اسلام آباد په نړیوال اسلامي پوهنتون کې د اسلامي اقتصاد استاذ دی .

4- کپیټل هر هغه شي ته وایي چې اقتصادي ارزښت ولري لکه ماشین آلات، کور ، موټر او داسې نور.



مشکل دی او د دقت غوښتنه کوي .

## د زکات د لګښت ځایونه:

د زکات د لګښت د ځایونو په اړوند الله (ج) په قرآن شریف کې فرمایلي دي: (( إِنّمَا الصّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَاملينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلّفَة قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اَللهِ وَابْنِ السّبِيلِ فَرِيضَةً مِنْ اللهِ وَاللهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ)) (التوبة:59)

ترجمه:بیشکه همدا خبره ده چې صدقې (زکات صرفیږي) لپاره د فقیرانو او مسکینانو او عاملانو د هغه او هغو ته چې الفت اچولی شي په زړونو د دوی کې (له اسلام سره) او (صرفیږي) په (خلاصولو) د غاړوکې او پور وړو او په لاره د الله (ج) کې او مسافرانو (چې مال ورسره نه وي)،(مقرره او لازم کړې شوې ده دغه) فریضه (زکات) له ( جانبه) د الله (ج) او الله (ج) په هرڅه ښه پوه او د حکمت خاوند دی.

په دغه آیت شریف کې الله (جل جلاله) د زکات آته مستحقین ذکر کړي دي :

I. فقراء
II. مساکین
III. العاملین ( دزکات راټولونکي یا د زکات راټولولو عمله)
IV. مولفه القلوب (هغه کسان چې زړونه یې اسلام ته مایل شوي وي )
V. ابن السبیل ( مسافر)
VI. في الرقاب (غلامان چې ځانونه پرې آزاد کړي.
VII. في سبیل الله ( جهاد).

زیات شمیر اسلامي علماء پدې نظر دي چې د زکات پیسې یوازې په دغه پورته ذکر شویو آتو لارو کې مصرف کېدای شي او حکومت نشي کولی چې دا په نورو حکومتي کارونو او خدماتو کې لکه سړك جوړولو او داسې نورو کې مصرف کړي، خو ځنې نور معاصر علماء عقیده لري چې دغه پورته ذکر شوي لست ته وسعت ورکولی شو، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چې په العاملين کې نه يوازې زکات راټولونکي شامل دي بلکې پدې کې د حکومت ټول مامورين شامل دي او په في سبيل ا لله کې نه يوازې مجاهدين او جهاد شامل دی بلکې دا حکم هر نيك کار ته شامل دی لکه د ښوونځيو، سړکونو او روغتونونو جوړول او داسې نور.

د زکات نور تفصيل په لسم فصل کې داسلامي دولت مالي او پولي پاليسي تر عنوان لاندې ولولئ.

## 3) عدل او د عايد منصفافه ويش:

عدل په اسلام کې د ملا د تير حيثيت لري، نو په اقتصادي چارو او د عايد په ويشلو کې عدل ډير ضروري دی. اسلام ددې خلاف دی چې دولت د څو کسانو په لاس کې جمع او ذخيره شي او د ټولني نور وګړي په غربت کې ژوند وکړي. د عايد د منصفانه ويش او له غريبانو سره د مرستې په خاطر زکات فرض کړی شوی دی، لدې څخه علاوه شتمنو مسلمانانو ته د صدقې او خيرات ورکولو توصيه هم شوی ده، چې دغه پورته ذکر شوي شيان د عايد د منصفانه ويش او عدل د مينځ ته راتګ لارې برابروي. د عدل د تامين او فقر د له منځه وړلو په هکله ډيرې اسلامې لارښوونې وجود لري د مثال په توګه په يوه حديث شريف کې راځي :

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ وَمَا أَكَلَتْ الْعَافِيَةُ مِنْهُ لَهُ بِهِ صَدَقَة [5]

ترجمه:د جابر بن عبدلله څخه روايت دی چې رسول الله (ص) وفرمايل: چا چې شاړه ځمکه آباده کړه نو دا د هغه شوه............

لدې نبوي ارشاد څخه دا څرګنديږي چې وسايل بايد په موثر او عادلانه ډول وويشل شي او داسې کوښښ وشي چې ټول شته وسايل وکارول شي او خلك ترې ګټه اوچته کړي ددې

---

[5]-المصدر:سنن احمد، الکتاب: باقي مسند المکثرين، الباب: مسند جابربن عبدالله (رض)، رقم الحديث: ١٤٥٥٠



تر څنګ دا هم بايد له ياده و نه ايستل شي چې دا جواز نلري چې يو کس ډيره ځمکه ونيسي او بيا د هغه د آبادولو توان ونه لري او شاړه پاتې شي . د عدل په اړوند الله تعالی فرمايي:

[يَاأَيُّهَا الّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوّامِينَ للّه شُهَدَاءَ بِالْقسْط وَلَا يَجْرِمَنّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتّقْوَى وَاتّقُوا اللهَ إِنّ اللهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ] (المائدة: **7**)

ترجمه:((اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړې دی (يعنی اې مومنانو!)اوسئ تاسې محکم ولاړ(په حق باندې) لپاره دالله (ج) (اوسئ تاسې!)شاهدان په قسط (عدل او انصاف)سره)).........

اسلام د عايد د عادلانه ويش امر کوي او له اميرانو څخه غواړي چې د ټولنې له غريبانو سره مرسته وکړي او څوك چې د غريبانو سره مرسته نه کوي، زکات نه ورکوي او تل د مال او دولت د جمع کولو په هڅه کې وي دهغوی په اړوند الله (جل جلاله ) فرمايي:

........وَالّذِينَ يَكْنِزُونَ الذّهَبَ وَالْفِضّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ فَبَشّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ (التوبة: **33- 34**)

ترجمه: ((او هغه کسان چې خزانه کوي سره زر او سپين زر او نه لګوي هغه په لاره د الله (ج) کې، نو زيری ورکړه دوی ته په عذاب دردناك سره، په هغه ورځې چې سختې سرې به کړی شي دغه خزانې په اور د جهنم (دوزخ)کې نو داغلی به شي په هغه سره وچولي (تندې) د دوی او اړخونه د دوی او شاګانې د دوی ((او ويلی به شي ورته)) دا هغه شي دی چې خزانه کړې وو تاسې د پاره د نفسونو(ځانونو) خپلو، نو وڅکئ تاسې ((خوند د سزا)) هغه ((مال)) چې وئ تاسې چې خزانه کاوه به مو ((په دنيا کې اوس درته بلا شو په عقبا کې))

## 4) اقتصادي آزادي:

اسلام کې ټول وګړي او ادارې په خپلو اقتصادي فعاليتونو کې پوره خپلواکي لري. او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت بې ځایه مداخله نشي کولی، مګر دغه آزادي د شریعت تر چوکاټ پورې محدووده ده، هغه پدې معنی څه شي چې شریعت منع کړي هغه منع دي د بیلګې په توګه یو صنعت کار نشي کولی چې په یوه اسلامي هیوا د کې شراب تولید کړي .

## 5) د شخصي ملکیت حق:

د شخصي ملکیت مطلب دا دی چې یو وګړی کولی شي شخصي دارایي او شتمني ولري او حکومت بیځایه په هغه کې د مداخلې حق نه لري، نا ویلي دې پاتې نه وي چې په کمونیستي سیستم کې د شخصي ملکیت حق نشته.

## 6) حلال او حرام:

اسلامي اقتصادي سیستم د نورو اقتصادي سیستمونو په خلاف د حلا ل او حرام سرحدونه لري دا په دې معنی چې هر هغه شي چې شرعا ناروا دی په اسلامي هیواد کې څوك ددې حق نه لري چې هغه تولید کړي او یا هغه وپلوري. د بیلګې په توکه څوك ددې حق نه لري چې شراب تولید کړي او یا د خنزیر غوښه وپلوري که څه هم خلك یې غوښتنه وکړي. په دې اړوند الله (ج) تعالی فرمایي:

[یَاأَیُّهَا النَّاسُ کُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَیِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّیْطَانِ إِنَّهُ لَکُمْ عَدُوٌّ مُبِینٌ] (البقرة:**167**)

ترجمه: اې خلکو! خورئ تاسې له (ځینو هغو) شیانو څخه چې په ځمکه کې دي حلال پاك (بې شبهې) او پیروي مه کوئ تاسې د(اثر د) قدمونو د شیطان! (شیطان پسې مه ځئ!او دده په وسوسه د هوی او هوس متابعت مه کوئ!) بیشکه چې شیطان تاسې لره دښمن دی ښکاره .

## 7) د عایدېه لګښت کې اعتدال (د اصراف، او تبذیر منع):

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي:



[ یَابَنِي آدَمَ خُذُوا زِینَتَکُمْ عِنْدَ کُلِّ مَسْجِدٍ وکُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا یُحِبُّ الْمُسْرِفِینَ] (الأعراف:**30**)

ترجمه: اې زامنو د آدمه! واخلئ تاسې زینت (ښایست) خپل په نزد د(وخت)د هر لمانځه (په آغوستلو د پاکو کالیو د عورت ستر) او خورئ او څښئ او اسراف ((بې ځایه خرڅ)) مه کوئ تاسې، بېشکه چې الله (ج) نه خوښوي مسرفان (بې ځایه خرڅ کوونکي).

لدینه څرګندیږي چې مسلمانان د بیځایه مصرف (په نا موثر ډول سره د وسایلو د کارونې) څخه منع کړی شویدی. موږ کولی شو چې د اسلامي اقتصادي سیستم دغه پورته ذکر شوي اصول او ځانګړنې په لاندې شکل کې وښیو:



(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتني شکل کې وينو چې اسلامي اقتصاد په عدل ولاړ دی او د اسلام د حکم په اساس توليد بايد يوازې تر حلالو شيانو پورې محدود وي او د شيانو تبادله بايد د دواړو خواوو په خوښه وي، لګښت کې اعتدال يا ميانه روي عملي شي او عايد بايد په عادلانه ډول وويشل شي او شتمني د يو څو کسانو په لاسونو کې جمع نه شي.

### 8) د ميراث اسلامي قانون:

د ميراث د اسلامي قانون په مراعاتولو سره فيوډاليزم له مينځه ځي او په ټولنه کې د امير او غريب تر مينځ د توپير په کموالي کې لويه مرسته کيدلی شي. مونږ په دې ځای کې د ميراث د احکامو او د هغې د ويش د لارو چارو له يادونې څخه تيريږو ځکه هغه ځانګړی بحث دی او ددې کتاب موضوع نه ده.

### 9) د حکومت مثبت رول:

په اسلامي اقتصاد کې حکومت د يوې مرکزي پلان جوړونکې ادارې په شکل کار نه کوي، لکه څرنګه چې په کمونستي اقتصادي سيستم کې دی بلکې په اسلام کې حکومت د اقتصادي سيستم د خرابيو يا کمزورتياوو د ليري کولو لپاره کارکوي، د احتکار د له منځه وړلو او په مارکېټ کې د شرعي قوانينو د پلي کولو دنده په غاړه لري. د موضوع نور تفصيل په نهم فصل کې په اقتصاد کې د حکومت رول تر عنوان لاندې راځي.

### 10) د غرر، قمار، نجش او دوکې منع:

غرر د قرارداد يا تړون پير او پلور د معاملې د له مينځه وړنې (فسخه) کولو له اهمو اسبابو څخه يو دی. غرر په لغوي ډول سره د خطر (Risk) او دوکې معنی ورکوي. د غرر



تعريف (6) امام سرخسي (Sarakhsi) په دې ډول کړی دی: غرر هغه وخت مينځ ته راځي کله چې د يوه تړون يا سودا پايله او انجام مبهم او ناپيژندل شول وي يدې معنی چې که د يوه قرار داد يا سودا پايله او عواقب مبهم پاتې شي ، نو غرر منځه ته راځي.
د ابن خلدون له نظره په خرڅلاو کې هغه وخت غرر مينځ ته راځي کله چې پلورونکي ته دا نه وي معلومه چې هغه څه خرڅ کړي دي او پيرودونکي (اخستونکي) ته دا نه وي معلومه چې څه يې پيرودلي دي.
مثال: په يوه تړون کې دوې بيعې : دا معنی ورکوي چې يو قرارداد يا سودا په دوو عقدونو يا تړونونو پورې تړاو ولري، دا په دې ډول چې پلورونکی (بائع)، پيرودونکي (مشتري) ته ووايي چې زه دا څيز (شي) په تا باندې په ۱۰۰ افغانيو نقدو او په ۱۵۰ افغانيو قرض خرڅوم، او پيرودونکې يې قبول کړي، ووايي قبوله مې ده خو بې له دې څخه چې نرخ مشخص کړي چې په کوم قيمت به يې اخلي، په نقدو يې اخلي او که په قرض؟. په دې کې غرر، نا معينتوب شته يعنی نرخ يا قيمت ټاکلی او معين نه دی.ځکه چې پلورونکی په دې نه پوهيږي چې په کوم قيمت يې ورنه واخيست.

د ګټې او يا پيسو تر لاسه کولو ټولې هغه طريقې او لارې کومې چې په خالص ډول سره په قسمت پوري تړلې (متکي) وي د قمار تر حکم لاندې راځي. همدا راز دوکه ورکول هم د اسلام په مبين دين کې په کلکه منع شويده، په قرآنکريم کې الله(ج) تعالی فرمايي:
[ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ.] (المائدة: **89**)
ترجمه: اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنی اې مومنانو!) بيشکه هم دا خبره ده چې شراب او قمار او بتان او غشي (د فال، دا څلور واړه ټول) پليت دي له کار د شيطان څخه دي نو ځان وساتئ تاسې له دې څخه له پاره ددې چې نجات ومومئ تاسې (په ځان ساتلو سره).

[6]- د ډاکټر طاهر منصوري کتاب (Islamic law of contract) ، آتم فصل ، صفحه ۹۵- ۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه حدیث شریف کې د دوکې په اړوند پیغمبر (ص) فرمایي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا فَقَالَ مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ قَالَ أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَيْ يَرَاهُ النَّاسُ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي. [7]

ترجمه: له ابو هریره (رض) څخه روایت دی چې نبي کریم (ص) د غلې (خوراك) په یوه درمن تیرشو، خپل لاس یې پکې ورد ننه کړ ګوتې یې لمدې شوې نو ویې فرمایل دا څه دي اې د غلې څښتننه! هغه وویل باران پرې شوی دی اې د الله (ج) رسوله، رسول (ص) وفرمایل: نو دا لاندِه غنم دې سرته نه راوړل چې خلك یې ویني، ځوك چې چل ول كوي له مونږ څخه نه دي.

نجش (تیزول) هم منع دي، او هغه دا چې یو ځوك د یوه شي د پیرودلو لپاره قیمت جګ ووایي خو د اخستلو اراده یې نه وي بلکه صرف ددې لپاره چې بل سړی پری ورتیز کړي لوړه بیه وایي تر څو دغه شي بل ځوك په لوړه بیه واخلي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم او د هغه ځینو اصحابو به په مارکېټ كی پیرودل او پلورل مشا هده کول او نظارت به یې کولو او لدینه یې هدف په مارکېټ کې مداخله نه وه بلکه هدف یې د ظلم (دوکې او فریب) مخنیوی و.

الله پاك په سوره المطففین کې فرمایي.

[ وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ (1) الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ (2) وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ].

ترجمه: افسوس، هلاك، خرابي یا کنده د دوزخ ده کم کونکېو لره (په پیمانه او تول کې) هغه (کسان) هر کله چې ځان ته اخلي پیمانه نو پوره اخلي او کله چې پیمانه ورکوي یا یې تلي هغوی ته نو کمي کوي (پوره یې نه ورکوي).

7- المصدر: صحيح مسلم، الكتاب: الايمان، الباب: قول النبي من غش فليس منا، رقم الحديث: ۱۴۷



## 11) احتکار:

12) احتكار كونكی هغه شخص دی كوم چې په قصدي ډول غذايي مواد ذخيره كوي او يا يې ددې لپاره پټوي چې بيه لوړه کړي.

په اسلام کې احتكار (يا انحصار) منع دی، نبي كريم صلی الله عليه وسلم داسې فرمايلي دي: عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ احْتَكَرَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ طَعَامًا ضَرَبَهُ اللهُ بِالْجُذَامِ وَالْإِفْلَاسِ [8]

ترجمه: له عمربن الخطاب (رض) څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله (ص) څخه واوريدل چې ويل يې: ځوك چې له مسلمانانو نه غله منع کړي (احتكار وکړي)، الله پاك به يې د جزام په ناروغۍ او په تنګدستۍ اخته کړي.

## د اسلام له نظره د مصرف کونکي تیوري

د غير اسلامي اقتصادي سيستمونو فكري مشران وايي چې انسان خود غرضه دی او غواړي چې صرف خپلې اړتياوې پوره کړي. او د دوی په اند د انسان اړتياوې (ضروريات) لامحدود دي. خو سمه خبره دا ده چې حتمي نده ټول خلك په عام ډول او مسلمانان په خاص ډول خود غرضه واوسي، د بیلګې په توګه که يو بډايه سړی يوه غريب سړي ته خيرات ورکړي پدې سره هغه (شتمن) ته روحي خوښي ورپه برخه كېږي او مونږ وينو چې ځينې كفار هم بيله كوم شخصي هدف څخه د غريبانو مرسته كوي، خو ټول دا ډول ندي.

كفار يوازې د دنيوي خواهشاتو پوره كول خپل هدف ګڼي، مګر مسلمانان په خپلو مصرفي فعاليتونو کې آخرت هم په نظر کې نيسي او د خپلې شتمنۍ يوه برخه د الله (ج) په لاره کې او بله برخه د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره كاروي. په عامه توګه د انسانانو اړتياوې په درې ډوله دي:

8- المصدر: سنن ابن ماجه، الكتاب: التجارات، الباب: **الحكرة والجلب، رقم الحديث: ۲۱۴۶**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-ضروريات    ۲ -احتياجات.    ۳-تحسينيات.

پورته ذکر شوې اړتياوې ځنې لړ او ځنې نورې ډېر اهميت لري.

## د وسايلو په ويش کې د مصرفونکي انتخاب:

په لاندې چارټ کې د مصرف کونکي مصارف په ترتيبي ډول سره ښودل شويدي:




**په اړتياوو د وسايلو د توزيع يا ويش قانون**: وسايل لو مړی ضروورياتو، بيا احتياجاتو او که بيا هم وسايل پاتې شي نو تحسينياتو ته ګوښي کېدی شي



## په کپيټالستي سيستم کې د مصرفونکي  انتخاب:

لکه مخکې مو چې يادونه وکړه په کپيټاليزم کې مصرف کونکی خپل عايد د دنيوي شيانو له جملې څخه په هغو توکېو يا شيانو مصرفوي چې هغه ته ډېره يوټيليټي (فايده ، خوند) پکې ښکاره شي په لاندې شکل کې مونږ فرض کوو، چې يوا زې دوه اجناس موجود دي   x1 او   x2




.نو مصرف کونکی به خپل عايد په دغه دواړو اجناسو په داسې ډول ويشي يا مصرفوي چې د دواړو اجناسو څخه لاسته راتلونکی يوټيليټي يا خوند اعظمي شي. او په دغه شکل کې هغه د (A) په نقطه کې مينځ ته راځي چيرې چې د توپير د نه موجوديت منحني (Indifference Curve) د بوديجې (Budget Line) له خط سره مماس دی.

## د لگښت لپاره د اسلام عادي فورمول:

مسلمان مصرفونکي(Consumers)خپل عايد يوازې په دنيوي توکېو (شيانو) باندې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرفوي بلکې د الله (ج) په لاره کې هم مصرف کوي او د هر شي پیرودل (اخستل) نه غواړي د مسلمان اړتیا تر مصلحت پورې اړه لري، هرهغه شي چې مصلحت په کې وي هغه د مسلمان اړتیاده.

د امام شاطبي له خوا مصلحت په پنځه ډوله ښودل شوی دی چې هغه ته المقاصد الشرعیه هم ویلاي شو او هغه پنځه مصلحتونه په لاندې ډول دي:

١-د ځان ساتنه ٢-د دین ساتنه ٣- د مال ساتنه ۴-د عقل ساتنه ۵- د نسل ساتنه. نو هر هغه شي چې له انسان سره د پورته ذکر شوو مصلحتونو په ساتنه کې مرسته کوي مصلحت ګڼل کیږي، خو ټول مصلحتونه یو شان اهم ندي. د بیلګی په توګه که یو سړی له ډیر ي لوږې سره مخامخ شي چې دده د مرګ خطر وي پدې حالت کې ډیر مصلحت پدې کی دی چې یو څه وخوري حتی چې مرداره هم خوړلی شي، اما که یو څوک موړ وي او بیا هم یو شي اخلي نو پدې کې کم مصلحت دی.

احتیاجات دری مرحلې یا پولې لري، او هغه په لاندې ډول دي :

**١**- د اړتیا هغه حد یا پوله چې د پورته ذکر شویو پنځو مصلحتونو(شرعي مقاصدو) ساتنه وروباندې کیږي.

٢- د اړتیا هغه حد چې د پنځو مصلحتونو(شرعي مقاصدو) محا فظت نور هم وروباندې تقویه کیږي.

**٣**- د اړتیا هغه حد چې د دغو مصلحتونو(شرعي مقاصدو) ساتنه ورسره ښه یا غوره کیږي.

په لاندې شکل یا ګراف کې د یوه مسلمان لګښت ښودل شوی دی او په دې ډول سره یو مسلمان د دنیوي او اخروي لګښت یا اهدافو تر مینځ حرکت کولی شي.






د اسلام له نظره یو سړی خپل عاید په دوو شیانو مصرفوي یو دنیوي اړتیاوې او بل د الله په لاره کې(اخروي اړتیاوې )که چیرې فرض کړو ددغه سړي د دنیا اړتیاوې (X1)وي، نو دغه شخص به د خپل عاید (Y1) برخه د الله په لاره کې په مصرف رسوي او ددغه سړي تعا دل د (A)په نقطه کې مینځ ته راځي پدې ځای کې مونږ د توپیر د نه شتون خط (Indifference Curve)مفکوره نه کاروو، د (A)نه پورته ټولې نقطې غوره دي معنی دا چې د الله په لاره کې چې څومره ډیر مصارف وشي هغومره ثواب لري، مګر دنیوی اړتیاوې هم له پامه نشو غورځولای . اوس سوال دا دی چې څومره لګښت با ید وشي؟ ددې لپاره یو خاص قانون نشته مګر تر ټولو ښه منځنی لګښت یا اوسط مصرف دی، رسول الله (ص) فرمایي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ الْمُزَنِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ السَّمْتُ الْحَسَنُ وَالتُّؤَدَةُ وَالِاقْتِصَادُ جُزْءٌ مِنْ أَرْبَعَةٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنْ النُّبُوَّةِ .

ترجمه: عبدالله بن سرجس مزني (رض) وایي چې رسول الله (ص) فرمایلي: غوره اخلاق ، دوستي او میانه روي د نبوت له څلورویشتمې برخې نه یوه برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو مونږ باید په دنیوي کارونو کې اصراف ونکړو ځکه چې هغه نا روا دی. په غیر اسلامي سیستم کې د یوه سړي ضرورت یا خواهشات د ټولنې له اړتیاوو سره په ټکر کې واقع کېدي شي، مګر په اسلام کې د یوه شخص ضرورت د مصلحت په بنا ټاکل کېږي او هغه شخص یې په خپله نه ټاکلی شي مګر شخصي مصلحت د ټولنې له مصلحت سره سمون لري یعنې په تضاد کې نه واقع کېږي .د بیلګې په توګه د اسلام له نظره یو سړی نشي کولی چې شراب وخوري او یا یې تولید کړي که څه هم دا سړی اصرار وکړي چې زه دیته ضرورت لرم او یا دا چې د شرابو په تولید کې ګټه کوم، ځکه چې دا لومړی مصلحت ندی او که چیرې شخصي مصلحت د ټولنې له مصلحت سره په تضاد کی واقع کېږي نو بیا د ټولنې مصلحت د اولیت حق لري.

ددې لپاره چې مقاصد شرعیه تر لاسه شي دوه ډوله موسسې یا اداري پکاردي:

**۱**-داوطلبانه اداره: دغه ته فرض کفایي کارونه هم ویلي شو چې یو مسلمان له بل سره په داوطلبانه ډول مرسته کوي او یو بل ته امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي (په نیکو کارونو امر او له بدو څخه منع کوي)

**۲**-اجرایي اداره : دغه اداره ددې لپاره جوړېږي تر څو مصرف کونکي له ناروا کارونو څخه منع کړي او هغوی دیته اړ باسي چې د اسلام مطابق کار وکړي دغه ادارې ته حکومت ویلی شو چې د مصرف کونکي په عمل کې په لاندې صورتونو کې مداخله کولی شي:

I.د حرامو شیانو پیرودل - پلورل

II.په تحیسنیاتو او یا حاجیاتو کې اسراف

III. په تحسینیاتو ټول یا زیات مصرف کول او د ضروریاتو له پامه غورځول.



## اوسنی اقتصادي سیستم څه ډول اسلامي شي؟

ټول اسلامي امت په دې باندې توافق لري چې د اسلامي هیوادونو اوسنی اقتصادي سیستم په داسې اصولو ولاړ دی چې له اسلامي شریعت سره په تضادکې دی. لدینه مو مخکې هم یادونه وکړه . ټول مسلمانان دا هیله لري چې زر تر زره اسلامي اقتصادي سیستم جوړشي تر څو د دنیا او آخرت دواړو بری تر لاسه کړي. اوس دا سوال پیداکېږي چې څرنګه کولی شو خپل اقتصادي سیستم اسلامي کړو او هغه اعمال چې له اسلامي شریعت سره په تضاد کې دي څه ډول له مینځه یوسو؟پدې اړوند اسلامي اقتصاد پوهان دوه نظریې لري:

۱-یو دم اسلامي کول

۲- په تدریجي توګه اسلامي کول

یو دم اسلامي کول: ددې نظریې پلوي اقتصاد پوهان لکه دکتور سید طاهر [9] پدې نظر دي چې اسلامي حکومت ته پکار ده یو دم ټولې اقتصادي ادارې په اسلامي اصولو برابرې کړي یعنې په ټولو ادارو کې لکه بانکونو او داسې نورو کې سود بند کړي او ددې تر څنګ نور اسلامي قوانین عملي کړي. د دوی دلیل دا دی چې اسلام مکمل دین دی او د اسلام د اصولو نه مراعاتول لویه ګناه ده که څه هم د لږ وخت لپاره وي، دغه ډله اقتصاد پوها ن د قرآنکریم په دې آیت باندې استدلال کوي چې فرمایي: االْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِإِثْمٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ . (المائدة**2**)

ترجمه:نن ورځ نا امیده شول هغه کسان چې کافران شوي دي له (ابطاله د) دین ستاسې نو مه ویرېږي له دغو (کفارونه اې مومنانو)او وویرېږئ له مانه، نن ورځ مکمل کړ ما

[9]- دکتور سید طاهر د اسلام آپا د په نړیوال اسلامي پوهنتون کې د اسلامي اقتصاد استاذ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې ته دین ستاسې او تمام (پوره مې کړ پر تاسې ) نعمت (ددین په اکمال) او غوره کړ ما تاسې ته اسلام له جهت ددین، نو هر څوك چې اړشو (خوراك دحرام شي ته) په سخته لوږه کې حال دا چې نه وي مائل ګناه ته پس بې شکه چې الله (ج) ښه مغفرت کونکی دی (د خطایاتو) ډیر رحم والا.

دغه ډله اقتصاد پوهان وایي چې د اسلام دین مکمل دین دی نو اقتصادي سیستم باید په تدریجي ډول سره نه بلکې یو دم اسلامي کړی شي.

**۲- تدریجي اسلامي کول:** دغه ډله اقتصاد پوهان لکه دکتور عبد الرحمان یسري (10) او داسې نور دا وایي چې ننني اسلامي هیوادونه د شریعت د اصولو څخه لیرې تللي دي او په لنډ وخت کې دا ممکنه نده چې ټول اقتصادي سیستم اسلامي کړي شي، ددې لپاره یو څه وخت ته اړتیا شته او دوی وایي چې دغه کار باید په تدریجي ډول سره وشي، او دوی له غیر اسلامي اقتصادي سیستم څخه اسلامي سیستم ته اوړیدل په مختلفو مراحلو ویشي:

## د ضرورت مرحله:

په اسلامي فقه کې دا قاعده شته چی وایي: [الضروریات تبیح المحضورات] یعنی کله داسې حالات راتلای شي چې یو مسلمان دیته اړ باسي په موقتي ډول د شریعت له عمومي حکم څخه لیرې شي، سرغړونه وکړي او دا استثنایي حالات دي، دبیلګې په توګه که څوك له سختې لوږې سره مخامخ شي یعني دمرګ خطر یې وي او د خوراك لپاره حلال څه نه وي هغه کولی شي مرداره، یا د داسې حیوان غوښه وخوري چې د غوښې خوړل یې په عادي حالت کې حرام وي. دیته ضرورت ویل کېږي، مګر دومره باید

[10]- پروفیسور دکتور عبد الرحمان یسري د مصر په سکندریه پوهنتون کې د اقتصاد استاذ دی، او د اسلامي اقتصاد له غټو علماوو څخه شمیرل کېږي.



وخوري چې یوازې ژوندی پرې پاتې شي او ځان پرې مړول جواز نلري.

په اوسني وخت کې د اسلامي اقتصادي سیستم د پلي کولو لپاره ډېر کمزوري کوښښونه روان دي او هغه هم په تیت او پرك ډول سره، نو ځکه اوس اضطراري حالت دی او ددې لپاره چې اقتصادي سیستم د شریعت د اصولو مطابق وګرځولي شي، په موقتي ډول سره به د ځینو غیر شرعي کارونو له سرته رسولو څخه خلاصی شونی نه وي. په دې مرحله کې اقتصاد پوهان باید لاندې تحقیق (څیړنه) وکړي:

(الف): اسلامي اقتصاد پوهان باید اضطراري حالت وڅیړي او هغه پروژې یا کارونه چې خلك یې ضروري او اضطراري بولي وڅیړي او د هغې په اړوند ډیټا او معلومات راجمع کړي او هم ددیني علماؤ او فقهاوو سره وربانديې مشوره وکړي ، چې آیا دا ضرورت دی اوکه نه؟

(ب): هغه کسان یا پروژې چې په رښتیا ضرورت لري هغوی ته باید لارښوونه وشي، او هغوی ته ددغه مشکل داسې حل وښودل شي چې شریعت ته نژدې وي (البته که پوره شرعي حل ممکن نه وي) او هم د ضرورت د اوږدوالي موده وټاکل شي ځکه ضرورت د شریعت په بنا یو موقتي شي دی نه دایمي، نو اقتصاد پوهان با ید په ډېر دقت او احتیاط سره د ضرورت د مرحلې اوږدوالی وټاکي.

مثال:که اوسنی اقتصادي سیستم په نظر کې ونیسو په ډېرو اسلامي هیوادونو کې اسلامي بانکونه وجود نلري،که چیرې یو مسلمان صنعتکار د خپلې فابریکې د چلولو لپاره قرض ته اړتیا ولري او داسې څوك وجود ونلري چې له ده سره مرسته وکړي او دغه صنعتکار په سود باندې د قرض اخستلو د شرعي حکم په اړوند فتوی وغواړي او ووایي چې زه دا منم چې سود حرام دی، خو زه پیسو ته اړتیا لرم آیا د ضرورت په بنا په موقتي ډول سودي قرض واخلم او که نه؟ اسلامي اقتصاد پوها ن ددیني علماؤ سره په مشوره دا باید وڅیړي او وګوري چې دا د ضرورت تر حکم لاندې راتلی شي او که نه؟ او دا دې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پام کې ونیسي چې که دغه سړی پور وانه خلي نو کېدی شي دده کمپنۍ بنده شي او په دې سره به ډېر غریب کارګران له کاره ګوښه شي او دا هم له یاده ونه باسي چې په اسلام کې یوه فقهي قاعده ده که چیرې څوک له دوو غیر شرعي کارونو سره لاس او ګریوان وي او له دواړو څخه خلاصی نا شونی وي، نو هغه کار به کوي چې کمه ګناه ولري.

## I. اوسطه مرحله

په منځنۍ یا اوسط مرحله کې د ځینو ټاکل شوو اهدافو لاسته راوړل ضروري دي. مخکې لدې څخه چې آخري مرحله (Structural Change) عملي کړی شي. په دغه مرحله کې باید په عوامو او ټولنه باندې کار وشي تر څو زیات کسان یا یوه لویه ډله جوړه کړی شي چې د اسلامي اقتصاد اصول قبول کړي او د تقویې هڅه یې وکړي. ددې تر څنګ ځنې داسې پروژې یا فابریکې جوړې شي چې د شریعت په اصولو برابرې وي .

په دغه مرحله کې اسلامي اقتصاد پوهانو ته بنایي لاندې کارونو ته پاملرنه وکړي:

(الف): د هغو قواوو او ځواکونو په اړوند معلومات او ډیټا راجمع کول چې د اسلامي اقتصاد د اصولو خلاف دي او د اقتصادي سیستم د اسلامي کولو په مخ کې خنډ واقع کېږي او بیا ددغو ځواکونو کمزورې او پیاوړې نقطې (ټکي) معلوم شي او بیا ددې کوښښ وشي چې لومړی د هغوی ضعیفې نقطې له مینځه یوړل شي او په موقتي ډول د هغوی قوي ټکي یا عناصر پریښودل شي.

(ب):اقتصادي محققین (څېړونکي) باید دغه کمزوري ټکي په خپلو څېړنواو مطالعو کې په نښه کړي او داسې لارې او پالیسۍ وښیي چې هغه ورباندې له مینځه یوړل شي.

(ت): داسې پروژې پیداکول او په هغوی باندې تحقیق کول کومې چې په بشپړه توګه د اسلامي اقتصاد په اصولو جوړیدی شي. دغه پروژې به د آخري مرحلې لپاره د ستنې یا



بنسټ شکل ولري او په دغو پروژو باندې به آخري مرحله (Structural change Phase) ولاړه وي.

(ث): د اسلامي اقتصاد اصول او ګټې با ید د خبري رسنیو(Media)له لارې عوامو ته وښودل شي او ددې تر څنګ په منځنیو، عالي ښوونځیو او پوهنتونونو کې زده کوونکو ته د اسلامي اقتصاد په اړوند زده کړه ورکړل شي .

مثال: په هغو قواوو کې چې د اسلام د اصولو د پلي کولو په مخ کې خنډ ګرځي یو کمزوری ټکی انحصار(Monopoly) دی، چې د ډېرو اسلامي هیوادونو وګړي ورسره مخ دي. ددې مسئلې اسلامي حل دا دی چې ددغو شیانو یا تجارتي توکښو بدیل (Substitute) جوړشي، خو پداسې شکل دا ډول پروژې او یا کمپنۍ جوړول په کار دي چې دغه شیان تولید کړي او پرینږدي چې قیمتونه یې ډېر جګ شي او په دغو پروژو یا کمپنیو کې د اسلامي لارو په وسیله لکه د مشارکت او یا د مضاربت پاڼو ( Mudaribah Certificate) د عرضه کولو په ذریعه او یا د تمویلولو د یوې بلې اسلامي لارې په وسیله د زیات شمیر خلکو ګډون یقیني کړی شي. په دغه شکل سره به په راتلونکی کې د انحصار(Monopoly) [11] د مینځ ته را تګ مخنیوی وشي.

دوهم مثال: انفلاسیون هم یو له هغو مشکلاتو څخه دی چې اسلامي هیوادونه ورسره مخ دي او دا په مخالفو قواوو کې (غیر اسلامي اقتصاد کې) یو ضعیف ټکې دی ، اوس ددې لنډ مهاله اسلامي حل په مینځنۍ مرحله کې تر څو پورې چې مکمل سیستم اسلامي کېږي څه کول په کار دي؟ په داسې حال کې چې په اسلامي هیوادونو کې مالي او پولي پالیسۍ په سودي سیستم باندې ولاړې دي؟ په موقتي ډول د انفلاسیون حل با ید پیداکړی شي. ددې لپاره چې دانفلاسیون مضر اثرات کم کړی شي. دغسې حل با ید د

---

[11]- مناپولي هغه حالت ته وايي چې په هغه کې یوه کمپنی یا یو سوداګر په دې وتوانیږي په انفرادي ډول سره په نرخ باندې اغیز وکړي یعنې کم یا زیات یې کړی شي. چې زیاتره وخت نوموړی شخص د خپل شخصي مفاد لپاره په بې انصافه ډول قیمتونه جګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شريعت لخوا تصديق شي او دا بايد په تدريجي توګه وي تر څو مکمل اسلامي حل پيدا کړي شي. د مثال په ډول آيا انډيکسيشن (12) کېدی شي او که نه؟ او يا کوم بل حل وموندل شي. بل مثال:وګوری د ټيکس سيستم چی په اسلامي هيوادونوکې په ځانګړې توګه په حقيقي مسلمان باندې کوم چې د زکات په اداکولو کې صادق دی لوی فشار او بوج دی .

آيا دا ممکنه ده چې په سياسي سطحه کې داسې يو حرکت په کار واچول شي چې د زکات پيسې له ټيکس څخه کمې کړي او پدې اړوند اقتصاد پوها ن تحقيق وکړي چې په دې کار سره فوايد عامه (Public Interest) ته زيان نه رسيږي.او همدا رنګه اقتصاد پوهان با يد دا وڅيړي که چيرې د زکات په وسيله ټيکس عوض شي نو عواقب به يې څه وي.

## II. وروستۍ مرحله ( The structural change phase

دا د اسلامي اقتصاد داصولو د پلي کولو وروستۍ مرحله ده ، او يوازې هغه وخت شروع کېدی شي چې د منځنۍ مرحلې اهداف لاسته راوړل شي. په دې مرحله کې به د اقتصاد پوهانو کار يا څيړنه دی شيانو ته شامله وي: په موثر ډول کارونه، په عادلانه توګه د عايد ويش، او د شريعت د اصولو پر بنا د زياتو پروژو جوړول او ددې تر څنګ د لوی اقتصاد (Macro Economic) جوړل د شريعت د اصولو مطابق، او د داسې پاليسيو جوړول چې د هغو په وسيله ټول هغه کارونه او اداري وتړل شي کومې چې د شريعت د اصولو مطابق کارنکوي.

---

[12]- انډيکسيشن ديته وايي چې د پيسې ارزښت په بل شي مثلا سرو زرو پورې وتړل شي په دې ډول سره چې اوس په دغه روپيو دومره طلا کيږي نو کله چې ته ماته قرض بيرته راکوې دومره پيسې به راکوې تر څو چې دغه اندازه سره زر ورباندې واخستل شي.



# دوهم فصل

## داسلامي او غير اسلامي اقتصادي سيستمونو پرتله

د اسلامي اقتصادي سيستم او نورو اقتصادي سيستمونو تر مينځ ډېر توپيرونه وجود لري چې مهم يې په لاندې دول دي :

- اسلامي اقتصاد د اسلامي دين او ژوند لپاره د اسلامی دود لارې يوه بر خه ده او نور اقتصادي سيستمونه د انسانانو پر نظريو او قوانينو ولاړ دي.
- په اسلامي اقتصادي سيستم کې زکا ت شته په نوروسيستمونو کې زکات نشته.
- په اسلام کې سود حرام دی مګر په نورواقتصادي سيستمونو کې سود کارول کېږي.

اوس به په هر يوه باندې په لنډ ډول سره رڼا واچوو.

### اسلام او سوسياليزم:

سوسياليزم د انفراديت يوه نظريه ده، چې په هغه کې حکومت ته پراخ واك ورکول کېږي. سوسياليزم د کارل مارکس په وسيله مينځ ته راغی لومړی په روسيه او وروسته په شمالي کوريا ، کېوبا ، چين او د شرقي اورپا په ځينو هيوادونو کې عملي شو، پدې وسيله يې ډېر شهرت پيدا کړ. مارکس دا نظريه درلوده چې مادي او اقتصادي حالات د تاريخ د مهمو پېښو د راوړل کېدو اساسي وجه يا عامل دی او دغه فکتور(ماده،اقتصادي حالت) د ټولنې دود ، عنعنات او طبيعت جوړوي او نور ټول فکتورونه لکه کلچر ، مذهب، دين، ټولنيز تعلقات او سياسي کارونه ټول په اقتصاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې تړاو لري.

مارکس د تاریخ په شرحه کې د دیالیکتیک ماتریالیزم (Dialecticmaterialism) له نظریې څخه کار اخستلو. سوسیالیزم په حکومتي ملکیت (Public ownership) باندې ولاړ دی او په اکثرو مسا ئلو کې حکومتي پلان ضروري ګڼي او ددې تر څنګ عاید په مساوي ډول ویشي.د سوسیالزم له مخې د ټولو بد بختیو او حوادثو اصلي عامل د شخصي ملکیت حق دی او له همدې ځایه دوی عقیده لری چې د شخصي ملکیت حق باید له چا سره نه وي .

### د سوسیالزم مهم خواص:

- د تولید د وسایلو عمومي ملکیت: یعنې د تولید ټول وسایل باید له عوامو څخه واخستل شي یا د حکومت په کنټرول کې شي او یا اشتراکي فارم ورته جوړ شي چې ټول وګړي په کې په ګډه کار وکړي.
- مرکزي اقتصادي فلان: د حکومت له خوا د اقتصادي امورو له پاره لکه تجارت، صنعت او داسې نور مرکزي پلان جوړیږي او د همغه اهدافو د لاسته راوړلو له پاره هر شخص یا هرې فابریکې ته وظیفه ورکول کېږي چې لازم عمل وکړي .
- د شخصي آزادۍ له مینځه وړل: په دې سیستم کې ټول وګړي مکلف دي چې د مرکزي پلان مطابق کار وکړي، ټول د ټولنې خدمتکار ګڼل کېږي او اقتصادي آزادي نه لري.
- د عاید مساویانه ویش: په سوسیالیستي یا کمونستي اقتصادي سیستم کې عاید په مساویانه ډول سره ویشل کېږي پرته له دې چې طبیعي توپیر په نظر کې ونیول شي او دا ددې باعث ګرځي چې خلك له کار کولو څخه ډډه وکړي.په اسلام کې د عاید ویش په عادلانه ډول سره دی خو طبیعي توپیر په نظر کې نیسي د بیلګې په توګه که څوك ډیر کارکوي ډیر عاید به لاسته راوړي او که کم کار کوي کم عاید به لاسته راوړي .

### د سوسیالیزم ناوړه اغیزې:



- له کار کولو څخه ډډه کول : لکه څرنګه مو چې مخکې ذکر وکړ په سوسیالیزم کې د شخصي ملکیت حق نشته او عاید په مساویانه ډول سره ویشل کېږي نو ځکه څوك دیته زړه نه ښه کوي چې ډیر کار وکړي ځکه پدې کې دوی ته خاصه ګټه نه وي.
- زیاتره وخت عرضه له تقاضا څخه کمه وي ځکه حکومت د ځینو شیانو نرخ له خپل اصلي قیمت څخه کم ټاکي او دا ددې باعث ګرځي چې تقاضا زیاته کړي او په مقابل کې یې عرضه دومره نه وي، چې دا بیا د راشن کولو باعث ګرځي او په ځینو حالاتو کې د تور مارکېټ د مینځ ته راتګ باعث هم ګرځي چې په هغه کې بیا شیزونه له حکومتي ټاکل شوي قیمت څخه په لوړ قیمت خرڅیږي .
- څرنګه چې د تولید وسایل لکه فابریکې او داسې نور د حکومت په لاس کې وي نو دا د کمپنیو تر مینځ د رقابت د کمولو او یا له مینځه وړلو باعث ګرځي او په دې سره د وسایلو د موثر استعمال مخنیوی کېږي.

## اسلام د مارکس نظریه په مکمله توګه ردوي

کارل مارکس له مذهب څخه انکار کوي او مذهب د اقتصادي حالت تابع ګڼي چې دده دا ادعا حقیقت نلري. د مارکس د دیالیکتیک ماتریالیزم(Dialecticmaterialis) نظریه هم د منلو وړ نده او د نړۍ ډیر جنګونه او تاریخي پیښې صرف په مادي شیانو او اقتصادي حالت پورې ندي تړلې، لدینه علاوه اسلام شخصي ملکیت ته اجازه ورکوي کوم چې د مارکس په فلسفه کې وجود نلري.

د ۱۹۹۰ کلونو په پیل کې دکارل مارکس په فلسفه ولاړ سوسیالیستي سیستم د روسیې د ماتې سره یو ځای له زوال سره مخ شو، او سوسیالیستي هیوادونو د سوسیالیزم یا کمونیزم د ۷۵ کلنې تجربې څخه وروسته سوسیالیستي سیستم پریښود او کپیټالیستي سیستم ته بیا را وګرځیدل

ددې تر څنګ کمونیزم دکپیټالیزم په شان عقیده لري چې خوشحالي او ذهني سکون د مادي اړتیاوو په پوره کولو پوری تړلی دی چې دا هم حقیقت نلري او دا موضوع مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې یاد کړې وه ، خو په لنډ ډول ویلی شو چې روحي خوشحالي د الله (ج) له طرفه ده او په دولت او دارایۍ پورې مکمل تړاو نلري الله تعالی فرمایلي:..... أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ (الرعد 27). یعنې بیشکه چې د ا لله په ذکر سره زړونه سکون مومي.

د پخواني شوروي اتحاد له ړنګیدو وروسته د کپیټالیزم آزاد مارکېټ نورهم قوت ومونډ سربیره پر دې د ګلوبلایزشن ناره نور هم د کپیټالیستي سیستم د تقویه کولو کوښښ کوي. مګر په پوره آزاد مارکېټي سیستم کې هم ډېر مشکلات شته، لکه انحصار (Monopoly)، د مارکېټ نا موثریت، او د امیر او غریب تر مینځ د توپیر زیاتوالی.

د اسلام له نظره د حکومت رول محدود مګر اړین (ضروري او اهم) دی او دا موضوع، د حکومت رول په اقتصاد کې، تر عنوان لاندې په تفصیل سره ذکر شویده. دلته یوازې پدې بسنه کوو چې د ځینو عام المنفعه شیانو برابرول د حکومت وظیفه ده او شخصي سکټور ته د هغوی ورکول موثر ندي او یا په بل عبارت دا د عوامو په ضرر تمامیږي.

## اسلام او کپیټالیزم:

کپیټالیزم یو اقتصادي سیستم دی په کوم کی چې د تولید ټول او یا زیات وسایل لکه مځکه، فابریکې، سړکونه ... او د ویش سیستم تر شخصي اداري (Management) لاندې کارول کېږي چې ګټه ترلاسه کړي. په لومړنیو مراحلو کې به په دغه سیستم کې ټوله سلسله د زیات رقابت په وسیله مخکې بیول کېده چې په دې سره د څو کسانو سره د دولت د جمع کېدو میل نور هم پیاوړی شو ، مګر وروسته لوی شرکتونه مینځ ته راغلل او د حکومت مداخله او کنټرول په مارکېټ کې زیات شو(13).

کپیټالیزم د صنعتي انقلاب په دوران کې مینځ ته راغی او په انفرادیت

13- Webstor's new college dictionary, pp 208



(Individualism) اوخود غرضی یا شخصي مفاد (Self interest)باندې تکیه لري.

## د کپیټالزم مهم خواص:

- اقتصادي آزادي : په کپیټالیزم کې پوره اقتصادي آزادي شته څوک چې هرڅه وغواړي تولید کړي تولیدولی یې شي. هر څوک کولی شي چې خپلې پیسې بل چاته په سود ورکړي او یا په سود سره قرض واخلي او داسې نور پداسې حال کی چې په اسلام کې سود ناروا دی او د حلال او حرام مفکوره شته ده.
- د شخصي ملکیت حق: د شخصي مکلیت حق په کپیټالیزم کې شته هر فرد کولی شي چې خپل عاید څرنګه چې وغواړي ویې کاروي او خپل دولت او شخصي مال زیات کړي حکومت په کې د مداخلې حق نه لري. په اسلام کې هم د شخصي ملکیت حق شته مګر تر شرعي اصولو لاندې.
- د حکومت محدود رول: د کپیټالیستي اقتصادي سیستم بل صفت دا دی چې حکومت باید په مارکېټ کې مداخله ونه کړي، خو پدې وروستیو کې په کپیټالیستي سیستم کې هم په اقتصادي فعالیتونو کې د حکومت لاسوهنه تر یوه حده منل شویده، مګر د حکومت رول په کې محدود دی. په اسلامي اقصادي سیستم کې د حکومت رول محدود مګر مهم دی او هغه په تفصیل سره په نهم فصل کې راغې.

## د کپیټالیزم ناوړتیا:

- د عاید غیر عادلانه ویش: کپیټالیستي سیستم داسې اصول لري چې د هغې په وجه سره امیر نور هم امیر کېږي او غریب نورهم غریب کېږي، په دغه سیستم کې شتمن د غریبو خلکو له غریبۍ څخه ناوړه ګټه اخلي، سود په دغه سیستم کې وجود لري چې په دې سره له شتمنوسره د دولت جمع کېدل شروع کېږي او په ټولنه کې دوه طبقې مینځ ته راوړي یوه لویه غریبه طبقه او بله کوچنۍ امیره طبقه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- غیر مفید اقتصادي فعالیتونه: ځنې وخت کله چې ښه فصل یا ښه تولید شوی وي او عرضه له تقاضا څخه زیاته شي نو په کپیټالیستي سیستم کی تولیدونکی د نرخونو د کمیدو له ویرې خپل تولید کړي توکي له مینځه وړي تر څو نرخونه کښته نشي. په داسې حال کې چې ډیر خلك به هغه شي ته اړتیا لري . ددې ډیرعملي مثالونه شته دي چې یو یې د نرخونو د ښکته کیدو او ګټې د کمیدو له ویرې د امریکا د متحده ایالاتو له خوا غنم په سمندر کې اچول دي .
- مضر رقابت:په کپیټالیستي سیستم کې د فابریکو او صنعت کارانو تر مینځ سخت رقابت موجود وي، رقابت د اقتصادي پرمختګ او د نویو شیانو او تکنالوژۍ د ایجاد لپاره ښه دی مګر چې هغه تعمیري رقابت وي خو له بده مرغه ځنې وخت داسې رقابت صورت نیسي چې په هغه سره یو قوي صنعت کار یا فابریکه یوه ضعیفه فابریکه یا صنعت کار له پښو غورځوي چې دغه ډول رقابت غیر مفید دی. د مثال په توګه کله چې یوه نوې کمپنۍ مارکېټ ته داخلیږي ددې له ویرې چې په راتلونکی کې به قیمتونه ښکته شي د مارکېټ پخوانۍ کمپنۍ په قصدي ډول سره د محدود وخت لپاره د خپلو تولیداتو قیمتونه ښکته کوي او کله چې هغه نوې داخله شوې کمپنۍ مجبورا له مارکېټ څخه ووزي دغه کمپنۍ بیا خپل نرخونه ډیر او چت کړي او په دې وسیله له عوامو سره زیاتی او ظلم کوي.

د نولسمې پیړۍ په آخر کې سوسیالیستانو او کارګرو پدې سیستم باندې ډیرې نیوکې وکړې، او د ادم سمیت کپیټالیزم (آزاد مارکېټ سیستم )یې د مشکلاتو سره مخ کړ، او د حکومت د مداخلې غوښتنه یې وکړه. په شلمه پیړۍ کې د اقتصادي لوی زوال ( Great depression) ۱۹۲۹_۱۹۳۳ په وجه ډیر شیان بدل شول او په کپیټالیستي سیستم کې ډیر بدلون راغی چې په هغه کې یې د حکومت مداخله قبوله کړه.د انحصار (Monopoly) په ضد قانون جوړ شو ددې تر څنګ د کارګرو منظمې او فعالی ټولنې جوړې شوې.

یو ډیر اهم شي چې اسلامي اقتصاد له نورو څخه بیلوي هغه نظریه ده، اسلام د نړۍ



ژوند یو امتحان بولي .اسلامي اقتصادي سیستم د اسلامي اصولو په نظر کې نیولو په بنا جوړ شویدی، کوم چې د انسانانو لپاره د دواړو جهانونو کامیابي غواړي نو ځکه ددغه سیستم ریښې په اسلامي شریعت کې دي.

ددغه سیستم هدف په یوه وخت کی د ژوند د مادي او روحي اړتیاوو پوره کول دي، بالعکس کپیټالیزم په مادي فلسفه باندې ولاړ دی او په مکمل ډول په مادي پرمختګ او غوره کیدو تمرکز لري هغه هم یوازې په دې جهان کې، آخرت له پامه غورځوي. د اسلامي اقتصاد بل صفت دا دی چې ټول اقتصادي کارونه یا فعالیتونه لکه مصارف، پانګه اچونه، تولید ، او اقتصادي پرمختګ او داسې نور په پټه توګه د اسلامي اخلاقو تابع وي لدې امله شخصي مفاد (خود غرضي) او د شخصي ګټې قوانین په مکمل ډول سره د عملي کېدو وړندي، یانه کارول کېږي .له بله اړخه خود غرضي او معاشرتي ګډوډي له کپیټالیزم څخه سر چینه اخلي.

ورورګلوي او ساده ژوند د اسلامي اقتصا د یو صفت دی بالعکس ځان ښودنه او ناوړه رقابت د کپیټالیزم غوښتنه ده.

د اسلام له نظره له انسان سره چې کوم مال او دولت دی هغه ورسره د امانت په ډول ایښودل شویدی او هغه باید د الله (ج) د اوامرو مطابق وکارول شي، خو د کپیټالیستي نظریې مطابق هر سړی د خپل مال اصلي مالك ګڼل کېږي او هر رنګه یې چې وغواړي کارولی (استعمالولی ) شي.

په اسلامي اقتصادي سیستم کې د حکومت رول د معاشروي اهدافو په لاسته راوړلو کې ډیر فعال او اهم دی مګر په کپیټالیستي سیستم کې دومره فعال ندی.

اسلام د یوه او یا څو کسانو سره د دولت د جمع کېدو خلاف دی، زکات او صدقه د دې رنځ او مشکل مخنیوی کوي مګر په نورو سیستمونو کې دا ډول علاج وجود نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## اسلامي اقتصادي سيستم:

اسلام د ژوند مکمل نظام دی او په دې کې ټول درې واړه سیستمونه اقتصادي ، ټولنیز او سیاسي سیستمونه یو له بل سره تړاو لري او د یوه او بل په موثریت باندې زیاته اغیزه لري.او ددوی ټولو مرکزي ټکی یا اصل اخلاقي (شریعت،عقیده) سیستم دی.




داسلامي اقتصادي سیستم اساسي خواص مخکې ذکر شوي دلته یوازې یو څو بیا تکرارو.

- اسلامي اقتصاد د اخلاقو په وسیله تنظیم شوی اقتصادي سیستم دی او د اسلام د اخلاقي فلسفې یوه برخه ده. مګر په مقابل کې غیر اسلامي اقتصادي سیستمونه اخلاق په نظرکې نه نیسي.
- شخصي فعالیتونه آزاد دي مګر د شریعت تر چوکاټ لاندې، داسې مطلقه آزادي کومه چې په کپیټالیستي سیستم کې شته په اسلام کې نشته او داسلام له نظره د هر شي اصلي مالك الله (ج) دی او مونږ با ید د هغه د اوامرو مطا بق عمل وکړو.
- اسلامي اقتصاد یو واضح هدف لري او هغه د ټولنیزې هوساینې او وروګلوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینځ ته راوړل او ساتنه ده.

- کار د تولید اهم فکتور دی او کار د عاید د تولیدولو او ویشلو او د عاید د لاسته راوړلو قانوني لاره ده.
- سود حرام دی د اسلام له نظره.پیسې یوازې د پیر او پلور (Exchange) وسیله او د شتمنۍ ذخیره (Store of wealth) ده او په پیسو باندې د سود اخستل حرام دي.

## په اسلامي اقتصادي سیستم کې ثبات:

په اسلام کې سود سخت منع شویدی. اسلامي اقتصاد غواړي چې د پیسو برابرونه په کاروبار کې د شراکت (Equity) په بنا وشي، نه د سودي قرض او پروژو په بناء، بلکې لازمي ده د نورو اسلامی لارو لکه مشارکت، مضاربت او داسې نورو په بنا تمویل (Financ) شي. لدې څخه څرګندیږي چې اسلامي اقتصاد په ونډو یا شراکت (Equity base) ولاړ سیستم دی او بالمقابل کپیټالیستي سیستم په سودي قرض باندې ولاړ دی.

**د ثبا ت د کتلو لارې:** د یوه اقتصادي سیستم ثبات کېدی شي چې په تجربي (Empirical) او یا په تحلیلي(Analytical)ډول سره وڅیړل شي. څرنګه چې تر اوسه داسې یو هیواد نشته چې په پوره ډول یې اسلامي اقتصادي سیستم عملي کړی وي . نو مونږ کوښښ کوو چې له تحلیلي طریقې څخه کار واخلو او په دې ډول د اسلامي اقتصادي سیستم ثبات وښیو، ددې هدف لپاره کولی شو چې لږ ترلږه دری دلیلونه وړاندې کړو.

1) ډېر اقتصاد پوهان په دې نظر دي چې دکپیټالیستي سیستم د نا ثباتۍ یوه اهمه وجه دا ده چې دا سیستم په سودي قرض باندې ولاړ دی یعنې زیاترې پروژې او یا فابریکې په سودي قرض باندې چلیږي چې دغه د بې ثباتۍ غټ عامل دی.یو اقتصاد پوه



((مینسکي(Minsky)) دا نظر لري چې معاصر کپیټالیستي سیستم په لنډ مهاله قرضو باندې ولاړ دی، یعنې د کمپنیو زیاتره ماشین آلات یا کپیټال[14] په قرضي پیسو باندې اخستل شوي دي او کله چې ددغه لنډ مهاله قرضونو د بیرته سپارلو وخت راشي کمپنۍ نور لنډ مهاله قرض اخلي تر څو پخوانی قرض سره له سوده ادا کړي او دا سلسله دوام پیداکوي.که چیرې کمپنۍ خوش قسمته وي او ګټه زیاته وکړي نو ښه تر ښه ټول قرض به اداکړي، خو که کمپنۍ تاوان وکړي او یا اقتصادي زوال مینځ ته راشي نو بیا د کمپنۍ سره پیسې نه وي چې قرض ادا کړي نو پدې صورت کې به یا کمپنۍ له مینځه ځي، یا (Bank carupt) کېږي.

هینري سایمن (Henry Simon) یو بل اقتصاد پوه وایي: د اقتصادي بې ثباتۍ خطر هغه وخت کمیدلی شي چی قرض وانه خستل شي خصوصا لنډ مها له قرض، یعنې که چیرې د شراکت (Equity)په بنا پانګونه وشي غوره به وي.

2) سفته بازي (Speculation): د پیسو هغه ډول تقاضا او ساتنه چې لوړ سود ورباندې وګټل شي یا د پیسو احتکار آمیزه تقاضا (Speculative demand of Money) د اقتصادي سیستم د بې ثبا تۍ یو عامل ګڼل کېږي. په اسلامي سیستم کې د نا ثباتۍ دغه عامل او وجه ډېره کمه وي، ځکه له یوه اړخه په اسلام کې سود منع دی او له بله اړخه د زکات عملي کول خلك دیته هڅوي چې اضافي پیسې له ځان سره ونه ساتي کومې چې ددې (Speculation) هدف له پاره په کاریږي، همدارنګه اسلامي اخلاقي اوامر احتکار سخت منع کوي نو ځکه پدې سیستم کې د (Speculative) فعالیت کم دی

3) نړیواله پانګونه: (International Finance):

که چیرې نړیواله پانګه اچونه او د پیسو انتقال له یوه هیواده بل هیواد ته په نظرکې ونیسو نو د معمولي سود (Interest rate) په فرق سره د یوه هیواد څخه بل هیواد ته

---

14- هر هغه شي ته وایي چه یو اقتصادي ارزښت ولري لکه کور،مځکه، ماشین الات، موټر ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلك پيسې نقلوي او پدې وجه په يوه هيواد کې کله پيسې زياتيږي او کله کميږي چې دا هم د اقتصادي بې ثباتۍ يو عامل دی.
کله چې په يوه هيواد کې د سود حد زيات وي هغه هيواد ته له بهر څخه پيسې داخليږي (Capital inflow) او کله چې د سود اندازه کمه شي، نو له هغه هيواد څخه پيسې بهرته انتقاليږي، يعنی (Capital outflow) صورت نيسي، چې په دې سره د يوه هيواد د پولي واحد ارزښت را لويږي.
په اسلامي اقتصادي سيستم کې سود نشته او پانګه اچونه دګټې او تاوان د شريکولو په بنياد کيږي، يعنې اسلامي سيستم په حصصو يا ونډو (Equity Shares) باندې ولاړ دی او دا د اوږدې مودې لپاره وي، نو ځکه که په يوه اسلامي هيواد کې دګټې اندازه زياته او يا کمه شي عوام په لنډ وخت کې پيسې له يوه هيواد نه بل ته نه انتقالوي، يعنې که د ګټې معمولي توپير وجود هم ولري ډېر خلك نه غواړي چې خپل حصص ونډې (Shares) له يوه هيواد څخه بل هيواد ته يوسي (په يوه هيواد کې يې خرڅ او بل کې يې واخلي) ځکه دوی د اوږدې مودې لپاره پانګونه کړې وي.



# دريم فصل

## اسلامي بانک

اسلامي بانك د لومړي ځل لپاره د شخصي(انفرادي)کوښښونو په نتيجه کی را مينځته شو ځکه چې معاصر بانکونه په سود باندې ولاړ وو اوسود د اسلام له نظره ناروا دی، نو ځکه ځنې ويښ مسلمانان د حکومتونو له بې تفاوتۍ څخه مايوسه شول او په انفرادي ډول يې دا هلې ځلې شروع کړې خو وروسته ځنې اسلامي هيوادونه په دې کوښښ کې ورسره شامل شول لکه پاکستان،ايران،سوډان....
لومړنی اسلامي بانك په کال ۱۹۶۳م کې د مصر په يوه وړوکي ښار چې د بيت عمر په نوم يادېږي جوړشو، دغه بانك ديو څوکسانو د شخصي هلوځلو په نتيجه کی جوړشو د حکومت مرسته ورسره نه وه ملګرې. په هغه وخت کې د سياسي ملاحظاتو په وجه دوی دغه بانك ته د اسلامي بانك نوم نه و ورکړی. لدينه وروسته د اسلامي بانکونو جوړيدل پيل شول چې مهم يې په کال ۱۹۷۵ کې د اسلامي پرمختيايي بانك جوړيدل و. دغه بانك د يوه نړيوال بانك يا مرستندويه اداري په ډول چې بې سوده قرض ورکوي جوړشو.
په همدغه کال کې د دوبۍ اسلامي بانك جوړ شو او ورپسې په کال ۱۹۷۸کې د مصر د الفيصل اسلامي بانك او د سوډان او کويت بانکونه(FinanceHouse) جوړشول لدينه وروسته د ډېرو نورو اسلامي بانکونو د جوړيدو لړۍ پيل شوه او تر اوسه داوم لري.
د کويټ اسلامي بانك څوارلس څانګې لري، د مصرد الفيصل اسلامي بانك څلورويشت څانګې لري چې د مصر په ټولو ښارونوکې خورې دي.اسلامي پرمختيايي بانك د پانګونې او پرمختګ اوه څانګې لري. د اسلامي هيوادونو له جملې څخه د سوډان هيواد تر ټولو ډېر اسلامي بانکونه لري لکه البرکه بانك، فيصل اسلامي بانك، اسلامي بانك د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مغربي سوډان لپاره، د سوډان اسلامي بانک اوځني نور چې ټول بې سوده پانګونه(سرمايه اچونه)او قرض برابروي وجودلري.
د اردن اسلامي بانک څوارلس څانګې لري او له برياليو بانکونو څخه دی دا بانک ۶۵۰۰۰ څخه زيات پيسې اچونکي او مالي حساب لرونکي (Depositor)لري . د نورو اسلامي بانکونو بر خلاف دې بانک ته کمپنۍ ويل کېږي او ددې د حصصو يا ونډو(Shares) تجارت د عمان د حصصو د راکړې ورکړې په مارکېټ يا سټاک اکسچينج کې ترسره کېږي. او ددې بانک ونډې د اردن د ټولو نورو بانکونو له حصصو څخه ښه فعاليت کوي .

په لنډ ډول ويلی شو چې تر اوسه پورې د ټولو اسلامي بانکونو شميره تقريباً له ۲۶۵ څخه زياته ده او په ټولو اسلامي بانکونو کې د$۲۴۰ بيلونه روپيو څخه زياته سرمايه (کپيټل) په کار اچول شويده .
اسلامي بانکونه د سود پرځای د ګټې او تاوان د شريکولو پر بنياد ولاړ دي . د اسلامي بانکونو وده يا پرمختګ (Growth rate)په کال کې د ۱۰% څخه تر ۲۰% پورې دی. په پيل کې له خلکو سره دا ګمان و چې اسلامي بانکونه به کامياب نه شي او د غربي او په سود ولاړ سيستم د مقابلې توان به ونلري مګر ددغو توقعاتو برخلاف اسلامي بانکونه ډېر برياليي وختل او د غربي بانکونو ښه مقابله يې وکړه او په همدې وجه غربي بانکونه متاّثر شول او ځينو غربي بانکونو هم د اسلامي بانکونو کړکۍ خلاصې کړې او زيار يې وکړ تر څو د اسلامي بانکارۍ تقليد وکړي د دغو بانکونو څخه څو مهم په لاندې ډول دي

- سټنډرډ چارټر بانک
- سيټي بنک (City Bank) چې په کال ۱۹۸۳ کې يې د اسلامي بانک کړکۍ خلاصه کړه
- Klient Benson(Unit Trust)Credit, Swiss
- First Boston(Personal Investment account)
- Austrian Leader's Bank (Unit trust)



- د چين دشانګهاي بانک

## په نړۍ کې د اسلامي بانکونو لست(15):

اسلامي بانکونه په ټوله نړۍ اسلامي او غير اسلامي هيوادونو کې خواره دي په لاندې لست کې مونږ په هر هيواد کې يو څو اسلامي بانکونه د بيلګې په توګه را اخستي دي:

| داسلامي بانک نوم | هيواد |
|---|---|
| عرب البنين اسلامک بانک، تيرانه | البانيا |
| بانک البرکه د الجيري، الجيريز | الجزاير |
| مسلم کميونيټي کواپريټو اسټراليا | استراليا |
| مسلم کميونيټي کريډيټ يونين | استراليا |
| الامين کمپني فار سيکيوريټيز انډ انوسټمنټ فنډ | بحرين |
| البرکه اسلامک انويسټمنټ بانک | بحرين |
| عرب اسلاميک بانک | بحرين |
| بحرين اسلامک بانک | بحرين |
| بحرين اسلامک انوسټمنټ کمپنۍ | بحرين |
| انوسټر بانک | بحرين |
| فرسټ اسلامک انوسټمنټ بانک | بنګلديش |
| اسلامک بانک ،بنګلديش | بنګلديش |
| فيصل اسلامک بانک | بنګلديش |

[15]- دغه لست مکمل نه دي که تاسو غواړي چې مکمل لست وګورئ نو د اسلامک ايکنامکس په نوم کتاب چې پروفيسرعبدالحميد ډار او پروفيسر ميا محمد اکرم ليکلی له ۳۰۸ مخ څخه تر ۳۲۰ مخ پورې وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| اسلامك بانك اف بروناي،برحد ،دارالسلام | بروناي |
| اسلامك ډيولوپمنټ بانك اف بروناي،برحد | بروناي |
| تبونګ امانه اسلامي ،بروناي | بروناي |
| سوسايټي جنرل | فرانسه |
| کپيټل ګايډينس | فرانسه |
| الجيرين سوعدي ليزينګ هولډنګ کمپني | فرانسه |
| عرب ګمبين اسلامك بنك | ګمبيا |
| بانك سيپه ايران | جرمني |
| کامرس بانك | جرمني |
| ډچ بانك | جرمني |
| المين اسلامك فاينشل انډ انوسټمنټ کارپورشن،لميټيډ | هند |
| بانك موسكات انټرنشنل | هند |
| الفلاح انوسټمنټ لميټيډ | هند |
| البركه اسلامك انوسټمنټ بانك | اندونيزيا |
| بانك معاملات اندونيشيا ،جكارتا | اندونيزيا |
| دل مال اسلامك ټرسټ | اندونيزيا |
| بانك كشاورزي ،تهران | ايران |
| بانك مسكن ايران،تهران | ايران |
| بانك ملت،تهران | ايران |
| بانك تجارت. | ايران |
| عراقي اسلامك بانك فار انوسټمنټ انډ ډولوپمنټ | عراق |
| بانك سيپا ،ايران | ايټاليا |
| جوردن اسلامك بانك | اردن |
| انټرنيشنل انوسټمنټ ګروپ | کويټ |



| | |
|---|---|
| البركه بانك | لبنان |
| بانك اف بيروت | لبنان |
| فيصل فايننس | لكسامبورګ |
| فيصل هولډنګ لكزامبرګ | لكسامبورګ |
| تكافل | لكسامبورګ |
| عرب ماليزين مرچنټ بانك،برهډ ،كولالمپور | ماليزيا |
| بانك اسلام برهډ ، كلالمپور | ماليزيا |
| اسلامك بانكنګ انډ تكافل ډيپارټمنټ بانك | ماليزيا |
| فيصل فايننس، مراكو | مراكش |
| فيصل فايننس،(نيدرلنډ) | مراكش |
| حبيب نايجيرين بانك لميټيډ | نايجيريا |
| احمد زركې انډ كو | نايجيريا |
| بانك مسقط انټرنيشنل | عمان |
| عمان عرب بانك | عمان |
| الفيصل انوسټمنټ بانك لميټيډ ،اسلام آباد | پاكستان |
| التوفيق انوسټمنټ بينك لميټيډ ، لاهور | پاكستان |
| فيصل بينك لميټيډ | پاكستان |
| عرب اسلامك بانك | فلسطين |
| عرب اسلامك انټرنيشنل بانك | فلسطين |
| دفلسطين انټرنيشنل بانك | فلسطين |
| قطر انټرنيشنل اسلامك بانك | قطر |
| قطر اسلامك بانك دوحه | قطر |
| بدر بانك | روس |
| اسلامك ډولوپمنټ بانك ،جده | سعودى |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| نیشنل کمرشل بانك لمتیډ ،جده | سعودی |
| سعودي امریکن بانك ، جده | سعودی |
| سعودي هالنډ بانك | سعودی |
| بانك الجزیره | سینیګال |
| بانك اسلامي سینیګال | جنوبي افریقا |
| البرکه بانك لمیټیډ ،ډوربن | سریلانکا |
| امنتا اسلامك بانك | سوډان |
| امنتا تکافل لمیټیډ | سوډان |
| سوډانیز اسلامك بانك | سوډان |
| کوپوله اسیټ منیجمنټ،جنیوا | سویس |
| دارالمال اسلمي ټرسټ، (اس .اي) ،جنیوا | سویس |
| فیصل فاینس (سویزرلنډ)اس.اي،جنیوا | سویس |
| یونایټیډ بانك اف سویزرلنډ | سویس |
| البرکه تورکش فاینس هوز،استنبول | ترکیه |
| فیصل فاینس انسټیټیوشن،استنبول | ترکیه |
| ابو دوبي اسلامك بانك | امارات |
| ګلپ انټرنیشنل بانك،ابو دوبي | امارات |
| نیشنل بانك اف دوبي | امارات |
| البرکه انټرنیشنل لمیټیډ ،لندن | انګلستان |
| البرکه انوسټمنټ کو.لمیټیډ ،لندن | انګلستان |
| الصفا انوسټمنټ فنډ | انګلستان |
| بانك سیفا ،ایران | انګلستان |
| تکافل (یو.کي)لمیټیډ ،لندن | انګلستان |
| المیزان کموډیټي فنډ في اي سي،ډربن | ایر لینډ |



| | |
|---|---|
| د اسلامك انوسټمنټ کمپني ،اس ټي.هیلیر | ایر لینډ |
| المنزل اسلامك فایننشل سرویس | امریکا |
| امریکن فایننشل هوز | امریکا |
| یونایټیډ مورګیج | امریکا |
| امین هوزنګ کواپریټو،سانفرانسیسکو | امریکا |
| صبا اسلامك بانك،صنعا | یمن |
| فیصل اسلامك بانك | یمن |
| یمن اسلامك بانك | یمن |
| یمن نیشنل انوسټمنټ کمپني،صنعا | یمن |

## اسلامي بانکونه څرنګه کار کوي؟

اسلامي بانکونه د سود پرځای د اسلامي پانګونې (سرمایه اچونې)طریقې کاروي اوددې تر څنګ نور عادي بانکي خدمتونه هم وړاندې کوي

د پانګه اچونې اسلامي شکلونه په لاندې ډول دي :

- مشارکت
- مضاربت
- مرابحه
- بیع سلم
- بیع موجل
- اجاره
- استصناع

(c) ketabton.com: The Digital Library



- قرض حسنه

دغه تول په پنځم فصل کې په تفصیل سره ذکر شويدي او دلته يې يوازې د نومونو يادول کفايت کوي.

## بانکي خدمتونه:

د اسلامي بانك لخوا وړاندې کېدونکي خدمتونه په لاندې ډول سره دي.

1) جاري حساب (Current account): اسلامي بانکونه هم د نورو عادي بانکونو په شان دا خدمت سرته رسوي يوازيني توپير يې دا دی چې له پيسې اېښودونکي نه ددې اجازه اخلي چې دغه پيسې په خپلو نورو بانکي فعاليتونو کې وکاروي .بانك په دې باندې کومه ګټه نه ورکوي او يوازې د ساتنې دنده لري او مالك يې هر وخت کولی شي له خپل بانکي حساب څخه پيسې وباسي، بانك ددغه بانکي حساب ضامن دی او د دوی لخوا تضمين کېږي.

2) د پس اندازحساب (Saving account): اسلامي بانک دغه خدمت د څه مصرف (لګښت) څخه پرته اجراکوي، هيڅ سود او يا ګټه نه ورکوي مګر د بيرته سپارلو په وخت کې شايد څنې بانکونه پيسې اچونکي ته د تشويق پخاطر يو خاص امتياز ورکړي. د بيلګې په توګه : د يوې وړې پروژې تمويلول او يا څنې تحفې ورکول او دا هغو کسانو ته ورکول کېږي کوم چې زياته سپما (saving) کوي او دا سود نه ګڼل کېږي ځکه له مخکې معين شوی ندی او د بانك په خوښه پورې اړه لري چې ورکوي يې او که نه او که ورکوي يې نو څومره ورکوي؟ ددې د جواز دليل د نبي کريم صلی الله عليه وسلم (ص) يو حديث دي چې فرمايي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ لِرَجُلٍ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِنٌّ مِنْ الْإِبِلِ فَجَاءَهُ يَتَقَاضَاهُ فَقَالَ أَعْطُوهُ فَطَلَبُوا سِنَّهُ فَلَمْ يَجِدُوا لَهُ إِلَّا سِنًّا فَوْقَهَا فَقَالَ أَعْطُوهُ فَقَالَ أَوْفَيْتَنِي أَوْفَى اللهُ بِكَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ خِيَارَكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً (**16**)

[16]- المصدر: صحيح بخاري، الكتاب: الوكاله، ،الباب: وكاله الشاهد والغائب جائزه ، رقم الحديث: ۲۱۴۰



ترجمه: له ابي هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: د يو سړي په نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوښ پور ؤ، نو راغی د خپل پور غوښتنه يې کوله، نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل ورته وريې کړئ، اصحابو رضي الله تعالی عنهم اوښ ولټاوه خو هغه ته برابر يې ونه موند ، بلکې له هغه نه يې ښه وموند ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل ورته وريې کړئ، هغه سړي ووېل زما حق دې پوره راکړ، الله پاك دې ستا حق پوره درکړي، نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: بيشکه ستاسې غوره ستاسې غوره راکړه ورکړه کوونکي دی.

ددغه پورته حديث څخه څرګنديږي چې دا زيادت سود نه بلکه د احسان په معنی دی او احسان ګڼل کېږي.

۳) د پانګونې حساب (**Investment deposit**): دغه ډول بانکي حساب د اسلامي بانکونو ځانګړی خدمت دی ، چې له "سپرده پس انداز و يا سپرده ثابت" سره څه اندازه ورته والی لري، خو تر مينځ يې ډېر توپير هم شته.

د تيوری له مخې دا پيسې اچونه (deposit) نده بلکې بانك ته پيسې ورکول دي چې هغه يې د مضاربت په اساس دده له اړخه وکالتا وکاروي پدې صورت کې پيسې اېښودونکی رب المال يا د مال خاوند او بانك مينجر(مضارب) يا وکېل دی. پيسې پدې شرط بانك ته ورکول کېږي چې ګټه او تاوان پکې شريك وي خو دګټې حصه يا اندازه له وړاندې نه د بانک او پيسې ورکونکي له خوا ټاکل کېږي. يا په بل عبارت د دغو پيسو له کارونې نه چې کومه ګټه لاسته راځي هغه د دوه اړخيزې موافقې په اساس ويشل کېږي او بانک نشي کولی له مخکې نه دا ووايي چې پيسې اچونکي ته به څومره ګټه ورکوي مثلا لس زره، شل زره ....بلکې يوازې فيصدي يې ټاکل کېږي د مثال په توګه داسې موافقه کيږي چې د ګټې ۶۰% به د پيسې ورکونکي او پاتې ۴۰% به د بانك برخه وي.

## د پيسو د ليږدونې خدمت:

اسلامي بانك د نورو بانکونو په شان له يوه ځای نه بل ته د پيسو په ليږدونه کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته کوي او ددې خدمت په بدل کې کميشن (مزدوري) اخلي او همدارنګه د تجارت په کولوکې له تجار سره مرسته کوي او ددې په بدل کې هم يوه اندازه مزد يا اجوره اخلي چې دا شرعاّ جواز لري.

## د اسلامي بانګي سيستم غوره والی:

اسلامي بانك پر سودي بانکونو باندې په څلورو دلايلو سره غوره والی لري:

1) عدل
2) موثريت
3) ثبات
4) پرمختګ يا وده

دا په لاندې ډول سره په لنډه توګه شرحه کوو او ورسره به په دغو څلورو شيانو کې اسلامي بانك له نورو بانکونو سره پر تله کړو.

**١) عدل**: د اسلامي بانك بنسټ پر عدل ولاړ دی د پيسو ورکونکي (Depositor) او سرمايه کارونکي (Investor) تر منځ پوره انصاف کوي يعنې ګټه او تاوان يې سره شريك دی. په سودي سيستم کې ظلم دا دی چې پيسې ورکونکي ته ټاکلی سود ورکول کېږي او د اړونده پروژې په ګټه پورې څه تړاو نه لري هغه ګټه که زياته وي او که کمه د پيسو ورکو نکي لپاره سود ټاکل شويدی او په ځينو حالاتو کې د پيسو ورکونکي حقيقي ګټه د انفلاسيون له امله منفي هم شي ځکه پدې سره د پيسو د اخستنې قدرت کميږي يعنې پيسې بې قدره کېږي.

حقيقي سود=نامينل سود-انفلاسيون. په هره اندازه چې انفلاسيون زياتيږي په هغمه اندازه سره حقيقي سود کميږي .

همدارنګه سودي بانکونه له پيسو کارونکي (investor) څخه غواړي چې راس المال سره له سوده (په قرض اخستل شوې پيسې+سود) واپس کړي که هغه ګټه کړې وي او که



تاوان، يعنې هرومرو به پيسې سره له سوده بيرته ورکوي چې پدې سره ځنې وخت نوموړی ديته اړ کېږي چې خپله کمپنۍ له اصلي قيمت څخه په کمه بيه خرڅه کړي تر څو په سود اخستل شوې پيسې واپس ور کړي چې په دې سره ډېر وګړي بيکاره کېږي. په اسلامي اقتصادي سيستم کې څرنګه چې سود ناروا دی نو بانکونه د ګټې او تاوان د شريکولو په بنياد پروژې تمويلوي او د پيسو ورکونکي ګټه د پروژې له ګټې سره تړلې ده.

**٢) موثريت**: په اسلامي بانکي سيستم کې تمويلول (Financing) دکار يا پروژې پر موثريت ولاړ دی او يوازې هغو پروژو ته پانګه ورکو ل کېږي کومې چې ډېره ګټه ولري ځکه چې بانك په خپله په ګټه او تاوان کې شريك دی او که په کوم کار کې ګټه ونه شي نو بانك هيڅ شي نه شي تر لاسه کولای. بالعکس په سودي بانکې سيستم کې بانك دکار و بار له برياليتوب او ګټې سره څه خاصه علاقه نلري د دوی هدف يوازې د خپلو پيسو سره له سوده ترلاسه کول دي، ګټه که لږ وشي که ډېره ددوی سود ټاکلی دی او ددې لپاره چې ددوی پيسې سره له سوده واپس شي دوی زياته ګروي اخلي، او هغه چا ته پور ورکوي کوم چې شتمن وي که څه هم هغه کار يا پروژه د کومې لپاره چې دغه سړی پور اخلي غير موثره يا بې فايدې وي، مطلب دا چې بانك يوازې د پور اخستونکي (Credit worthiness) د ضمانت ارزښت ته ګوري، د کار له موثريت سره يې علاقه نه وي.

**٣) اقتصادي ثبات**: څرنګه چې په اسلامي بانکي سيستم کې پيسې برابرونه (Deposit) او پيسې کارونه (Investment) دګټې ا و تاوان د شريکولو پر بنسټ ولاړ دي، نو ځکه مسووليت(Liability) او شتمنی (Asset) دواړه بدلون منونکی دي، چې په دې وجه هميشه تعادل برقرار وي. ددې لپاره چې دا موضوع څرګنده شي يو څه تشريع ته اړتيا لري ، مونږ ته دا معلومه ده چې په سودي سيستم کې سود له مخکې ټاکل کېږي او د پيسو کارونکي ته به هرومرو همغه اندازه ګټه ورکوي، نو په ځينوحالاتو کې چې د هغه شخص همغه کار و بار يا کمپنۍ دکومې لپاره يې چې پيسې اخستي دي ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونکړي او د پیسو او ورسره د سود د ورکولو وخت راشي، بانک نوموړی شخص مجبوروي چې خپل کار و بار او یا کمپنۍ بنده کړي، سامان یې خرڅ کړي تر څو ددوی پیسې ورکړی شي چې په دې وجه په ټولنه کې بیکاري نوره هم زیاتیږي.
سربیره پر دې که چیرې مونږ سودي سیستم په نظر کې ونیسو نو سود په خپله د ناثباتۍ یو مهم عامل دی او هغه په دې ډول که چیرې په یوه هیواد کې سود لږ کم شي او یا په یوه بانك کې سود کم کړي شي، نو خلك خپلې پیسې له دې بانك څخه بل بانك او یا بل داسې هیواد ته نقلوي چې لوړ سود ورکوي او دغه د پیسو انتقال (capital flight) د داخلي اقتصادي سیستم دګډوډۍ او رکود باعث ګرځي. له نیکمرغه چې په اسلامي بانکي سیستم کې ګټه او تاوان سره شریك دي نو دګټې د نه کېدو په صورت کې بانك ته هیڅ هم نه ورکول کېږي او د هغه سړي کار و بار دوام مومي تر څو ګټه وکړي.

**۴) اقتصادي پرمختګ (Growth):** اقتصادي پر مختګ هغه وخت ممکن دی چې د نوي تکنالوژۍ، پرمختللې بشري قوې اویا دکومې بلې وجې په اثر د یوه مللك پیداوار زیات شي او په دې سره د خلکو د ژوند سطحه لوړه شي.
د نوې او پرمختللې تکنالوژۍ او د تولید د نویو لارو پیدا کول ډېرو تجربو او زیات لګښت ته اړتیالري، ورسره د تاوان احتمال هم پکې زیات وي ځکه ځنې وخت نوي ایجاد شوې تکنالوژۍ او یا تجارتي توکي مارکېټ نلري او یا ښه کار نه کوي نو ددغه پورته ذکر شویو دلایلو په وجه صنعت کار دیته زړه نه ښه کوي چې په دې ډول پروژو باندې پانګه ولګوي ځکه که تاوان هم وشي دی به هرومرو سود او اصل پیسې بانك ته واپس ورکوي. خو څرنګه چې په اسلامي اقتصادي سیستم کې ګټه او تاوان شریك دي نو صنعت کار او یا کار و بار کونکی په ډاډه زړه په نویو پروژو باندې پانګه لګولی شي ځکه د بانک او صنعت کار تر منځ ګټه او تاوان دواړه شریك دي.



# څلورم فصل

## د تمویلولو اسلامي لارې

څرنګه چې په اسلام کې سود حرام دی نو مونږ باید د تمویلولو(Finance) داسې لارې پیدا کړو چې له سود څخه پاکې وي، له نیکمرغه ډېرې داسې اسلامي لارې شته چې له سوده پاکې او د ګټې او تاوان د شریکولو پر بنیاد ولاړې دي لکه مضاربت، مشارکت، بیع سلم، بیع موجل، مزارعه، استصناع.
ربا یا سود یوازې په اسلام کې حرام ندی، بلکې له اسلام څخه مخکې په یهودي او نصراني ادیانو کې هم الله (ج) سود حرام کړی و. د سود نظام اسلامي هیوادونو ته د ۱۹ - ۲۰ پیړیو په دوران کې د غربي سیکولر هیوادونو او د هغوی د بانکونو په وسیله رانقل شو، ځکه په دغه دوران کې ډېر اسلامي هیوادونه دکفارومستعمرې وې.
مخکې له دې چې د تمویلولو پورته ذکر شوې اسلامي لارې و څیړو لازمه بولو د سود په اړوند څه معلومات وړاندې کړو:

### سود یا ربا:

ربا په لفظي ډول زیاتوالي او اضافه والي ته وایي.الله (ج) فرمایي.
[وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَا فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوا عِنْدَ اللهِ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ ] (الروم:**38**)
ترجمه: او هغه څه چې ورکوی یې تاسې له سود نه، د پاره ددې چې زیات شي په مالونو د خلکو کې پس نه زیاتیږي هغه په نزد د الله (ج) او هرهغه څه چې ورکوی یې تاسې له زکات څخه چې اراده لری تاسې په هغه سره د ثواب (او رضا) د الله (ج) پس دغه هم دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي زياتونكي (دحسناتو خپلو)..

ابوبكر جصاص ربا داسې تعريفوي:(دا يو داسې قرض دی چې د يوې ټاكلې مودې لپاره پدې شرط وركول كېږي چې قرض اخستونكې به د بيرته سپارلو په وخت له اصلي قرض سره سره ټاكلې زياتوالی هم وركوي).

پورتنی تعريف لاندينی برخې يا اجزا لري:

- ربا زياتوالی دی په اصل مبلغ باندې
- دا پر اصلي مبلغ داسې يو تفاضل دی چې بيرته وركول يې يوه معاهدوي يا پخپله خوښه منل شوې وجيبه ده .
- دا يو معين تفاضل دی چې د معين وروسته تاديه كولو يعنې ټاكلې مودې په مقابل كې اخستل كېږي.

## ربا په قرآن او حديث كې:

د ربا په اړوند په قرآنكريم كې لاندې آيتونه نازل شوي دي.او زه يې دلته په د نزول د ترتيب په اساس ذكركوم:

i. [ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَا فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوا عِنْدَ اللهِ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ ] (الروم**38**)

ترجمه:او هغه څه چې وركوی يې تاسې له سود نه، د پاره ددې چې زيات شي په مالونو د خلكو كې پس نه زياتيږي هغه په نزد د الله (ج) او هرهغه څه چې وركوی يې تاسې له زكات څخه چې اراده لری تاسې په هغه سره د ثواب (او رضا) دالله (ج) پس دغه هم دوی دي زياتونكي (دحسناتو خپلو).

ii. [ وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ](النساء**160**)

ترجمه: او (په سبب ) د اخستلو د سود حال دا چې په تحقيق منع كړي شوي وو دوی (په تورات كې) له غه (سوده) او (په سبب د) خوړلو د دوی مالونه د خلكو په ناحقه سره، او



تيار كړی دی مونږ له پاره دكافرانو د دوی څخه عذاب دردناك.

iii. [ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ.] (آل عمران**129**)

ترجمه:اې هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی يعنې اې مومنانو! مه خورئ سود! په دې حال چې دوه چنده په دوه چنده ( وي )او له الله تعالی نه وويريږئ چې بری مو په برخه شي.

iv. [ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَنْ جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَانْتَهَى فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللهِ وَمَنْ عَادَ فَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ] (البقرة**274**)

ترجمه:هغه كسان چې خوري (يعنې اخلې) سود (له خلكو) نه پاڅيږي دوی (دقيامت په ورځ كې) مگر لكه چې پاڅيږي هغه څوك چې حواس يې خراب كړي وي شيطان (دعربو په گمان) له (خپله) اثره. دا (حال د دوی) په سبب د دې دی چې دوی ويل بيشكه هم دا خبره ده چې تجارت خو هم داسې دی (په جواز كې) لكه سود حال داچې حلال كړی دی الله (ج) تجارت او حرام كړی يې دی سود....

v. [ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ] (البقرة**277**)

ترجمه:اې هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی وويريږئ له الله (ج) نه او پريږدئ هغه چې پاتې شوي دي له سوده كه يئ تاسې مومنان.

## د ربا په اړه يو شمير احاديث:

i. عَنْ جَابِرٍ قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا وَمُؤْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَشَاهِدَيْهِ وَقَالَ هُمْ سَوَاءٌ [17]

ترجمه:له جابر (رض)څخه روايت دی وايي: چې رسول اکرم(ص) **لعنت** ويلی په سود خوړنکي، سود ورکونکي او سود ليکونکي او شاهدانو يې او ويې فرمايل چې دوی سره برابر دي په ګناه کې.

**ii.** ... أَبَا سَعِيد الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ جَاءَ بِلَالٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ بَرْنِيٍّ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَيْنَ هَذَا قَالَ بِلَالٌ كَانَ عِنْدَنَا تَمْرٌ رَدِيٌّ فَبِعْتُ مِنْهُ صَاعَيْنِ بِصَاعٍ لِنُطْعِمَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ أَوَّهْ أَوَّهْ عَيْنُ الرِّبَا عَيْنُ الرِّبَا لَا تَفْعَلْ وَلَكِنْ إِذَا أَرَدْتَ أَنْ تَشْتَرِيَ فَبِعِ التَّمْرَ بِبَيْعٍ آخَرَ ثُمَّ اشْتَرِهِ [18]

**iii.** ترجمه:له ابوسعيد (رض)څخه روايت دی بلال (رض) نبي کريم (ص) ته برني خرما (يو ډول غوره خرما ده) راوړه، نو نبي کريم (ص) ورته وفرمايل، چې د ادې له کومه کړه؟ بلال(رض) وفرمايل: له مونږ سره بيکاره خرما وه، نو دوه پيمانې مې په يوه پيمانه خرڅې کړې ترڅو نبي کريم (ص) ته يې ورکړو چې ويې خوري، نو نبي کريم (ص) وفرمايل: وئ وئ، اصل سود اصل سود ، داسې مه کوه، اوکله دې چې غوښتل چې ښه خرما واخلې نو خپله بيکاره خرما خرڅه کړه او نوره ښه په بيله بيعه واخله.

**iv.** عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِت قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ يَدًا بِيَدٍ فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هَذِهِ الْأَصْنَافُ فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ [19]

ترجمه: له عباده بن صامت (رض) څخه روايت دی چې نبي کريم (ص ) وفرمايل: سره زر په

17- المصدر:صحيح مسلم ، الكتاب: المساقاة. الباب :لعن اكل الربا و موكله، رقم الحديث: ٢٩٩٥

18- المصدر: صحيح البخاري، الكتاب: الوكاله ، الباب: اذا باع الوكيل شيئا فاسدا فبيعه مردود، رقم الحديث: ٢١٤٥

19- المصدر:صحيح مسلم ، الكتاب: المساقاة. الباب : الصرف وبيع الذهب بالورق نقدا،رقم الحديث ٢٩٧٠



سرو زرو، سپين زر په سپين زرو، غنم په غنمو او وربشې په وربشو ،خرما په خرما، او مالګه په مالګه، يو رنګ او يو برابر، لاس په لاس، خو کله چې دا ډولونه سره مختلف وو بيا مو چې څرنګه خوښيږي هغسې يې خرڅ کړئ ، خو لاس په لاس.

**v.** عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَبِيعُوا الدِّينَارَ بِالدِّينَارَيْنِ وَلَا الدِّرْهَمَ بِالدِّرْهَمَيْنِ (20)

ترجمه:له عثمان بن عفان (رض) څخه روايت دی چې نبي کريم (ص) وفرمايل:يو دينار په دوه ديناره او يو درهم په دوه درهمو مه خرڅوئ.

## د ربا ډولونه:

ربا په دوه ډوله ده، ربا الفضل او ربا النسيئه:

۱- ربا الفضل (سود په وسيله د زيادت):دا د دوه همجنسو توکېو يا شيانو غير مساويانه تبديلولو په صورت کې مينځ ته راځي.مثلا يو کيلو غنم په دوه کيلو غنمو باندې. ربا الفضل په همجنسو شيانو کې صورت نيسي، يعنې که يو سړی له بل سړي سره همجنس شي تبادله کوي نو بايد په مساوي اندازه باندې وي (وزن، شمير، پيمانه) او که يو اړخ زيات ورکړي دا بيا سود کېږي.

۲- ربا النسيئه (د وروسته والي سود):دا هغه ربا ده چې د همجنسو يا غير همجنسو شيانو د تبديل په صورت کې مينځ ته راځي په دې ډول چې زيادت د وخت په مقابل کې وي. مثلا که څوک يوه کس ته اوس درې کيلو غنم ورکړي په دې شرط چې يو کال وروسته به دی څلورکيلو غنم ورکوي دا ربا نسيئه شوله ځکه په دې کې دغه زيادت (يوه کيلو اضافه غنم) د وخت په مقابل کې ترې اخستل کېږي

20- المصدر:صحيح مسلم،الكتاب: : المساقاة، الباب:الربا، رقم الحديث: ٢٩٦٧

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سود په اړوند څو شبهات او اعتراضات:

ځینو علماؤ د ربا او بانکي سود (Interest)تر مینځ د توپیرکولو کوښښ کړی:

- ځنې حضرات دا وایي چې د ربا حرمت یوازې تر ربا مضاعفه پورې محدود دی، ځکه چې په قرآنکریم کې راغلي دي:

[یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا تَأْکُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُونَ ] (آل عمران**129**)

ترجمه:اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی یعنې اې مومنانو! مه خورئ سود !په دې حال چې دوه چنده په دوه چنده (وي).

او لدې آیت شریف څخه دا مطلب اخلي چې مرکب (Compound) سود حرام دی، مګر ساده سود نه دی حرام.

مګر دا خبره غلطه ده له قرآن او حدیث څخه دا څرګندیږي چې دواړه قسمه سود حرام دی. په قرآنکریم کې الله (ج) فرمایلي دي: [ وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادکُمْ خَشْیَةَ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِیَّاکُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ کَانَ خِطْئًا کَبِیرًا] ((الإسراء**30**)

ترجمه: مه وژنئ تاسې اولاد خپل د ویرې د فقره، ځکه چې هم دا مونږ روزي ورکوو دوی ته او تاسې ته هم ، بیشکه چې قتل د دوی ده خطا (ګناه) لویه.

د پورتني آیت مطلب دا نه دی چې له بلې وجه یې ووژنئ.نو ددې څخه څرګندیږي چې هر ډول سود(ساده او مرکب) دواړه ناروا دی.

- دکور په کرایه باندې قیاس: ځنې کسان وایي څرنګه چې د کور د استعمال په بدل کې کرایه اخیستل جواز لري په همدې ډول د پیسو د استعمال په بدل کې د سود اخستل جایزدي. مګر کور او پیسې ډېر توپیر سره لري کور استهلاکي شي ندی او پیسې، مالګه، غنم او داسې نور استهلاکي شیان دي او دکور په استعمال سره کرایه دار له کور څخه منفعت اخلي او کور خرابیدی هم شي.
- صرفي او استهلاکي قرض : یوه عالم محمد دولي په کال ۱۹۵۰ کې داسې نظر ورکړ چې سود په استهلاکي (consumption goods) شیانوکې راځي.مګر هغه قرض چې



د پانګې اچونې او یا د تولید او کار و بار لپاره اخستل شوي وي په هغه ګټه ورکول (سود)جایزدی.مګر دغه ادعا او دلیل د سود جواز نشي کېدی ځکه له قرآنکریم او احادیثو نه دا څرګندیږي چې دواړه قسمه سود ناروا دی .

- ځینو اقتصادپوهانو کوښښ وکړ چې د انفلاسیون په وجه د سود جواز پیداکړي. دوی وایي چې څرنګه د پیسو ارزښت د وخت په تیریدوسره د انفلاسیون په وجه کمیږي نو د بانك سود یوازې د انفلاسیون په مقابل کې ورکول کیږي تر څو د پیسو اصلي ارزښت ثابت پاتې شي. خو حقیقت دا دی چې په دې وجه مونږ سود نشو حلالولی، ددې ترڅنګ که چیرې نرخونه کم(deflation) شي او یا ثابت پاتې شي بیا دا نظریه خپله دفاع نشي کولی.او ځوك به دیته حاضر نشي چې د خپلو پیسو څخه کمې له بانك څخه واخلي.د انفلاسیون د مضرو اثراتو د له مینځه وړلو په خاطر شاید منا سب انډیکسیشن (Indexation) د منلو وړ وي. او یا باید مونږ داسې پولي سیستم جوړ کړو تر څو د پیسو ارزښت ثابت پاتې شي.
- ضرورت: سنهوري یو بل عالم وایي چې نن سبا د قرض په وسیله د کار و بار او پروژو تمویلول ډېرعام شویدي، حتی دا د ضرورت مرحلې ته رسیدلي دي. مګر دا ضرورت له هغه ضرورت سره مشابه نه دی کوم چې دشرعي ضرورت مرحلې ته رسیږي په کومه مر حله کې چې حتی دخوګ د غوښې خوړلو جواز هم پیداکیږي.

اوس دغه کپیټالستي سیستم چې پر اسلامي هیوا دونو د بهرلخوا تپل شوی او یا دوی پخپله غوره کړی، دا په سود باندې ولاړ دی او په اسلامي هیوادونو کې یې یو اضطراري حالت جوړکړی.نو دغه حالت په اسلامي هیوادونوکې د سود د منع کولو د قانون نرم والی غواړي پدې ډول هغه وایي چې د لنډ وخت لپاره تر څو چې ټول سیستم په مکمل ډول اسلامي کیږي ساده سود(Simple interest) ته جواز ورکړل شي او مرکب سود(Compound Interest) منع شي،مګر دغه نظریه د سودي سیستم د نورې تقویې سبب ګرځي نو ځکه د منلو نده.

تر اوسه دا ټول کوښښونه چې د سود د جواز (روا توب) لپاره شویدي ناکام شویدي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې نه دي توانيدلي چې رښتينو مسلمانانو ته قناعت ورکړي ددې تر څنګ د مصر د الازهر د ريسرچ اکاډيمۍ، د پاکستان اسلامي نظرياتي انجمن، د اسلامي کانفرنس د فقهي اکاډيمۍ او نورو اسلامي هيوادونو د فقهي اکاډيميو ددې ډول نظرياتو له منلو څخه انکار کړی او ټول هغه کوښښونه او افکار يې ناکام کړي او مردود يې شميرلي چې د سود د جواز لپاره وړاندې شوي دي.

## د ربا(سود) د حراموالي اقتصادي منطق:

• د وسايلو توزيع: په سود باندې ولاړ اقتصادي سيستم، وسايل په موثر ډول پر توليدي عواملو(Factor of Production) نشي ويشلی يعنې وسايل د مختلفو کمپنيو او پروژو ترمنځ د توليدي موثريت په بنا نه ويشي. په سودي سيستم کې بانکونه کمپنيو او پروژو ته د هغوی د توليدي موثريت په بنا نه بلکې د هغوی د (Credit worthiness) (د ضمانت د ارزښت) په بنياد پيسې ورکوي هغوی ته مهم صرف دا دي چې د دوی پيسې سره له سوده بيرته تر لاسه شي. د هغه کار او کمپنۍ په ګټه کې د دوی څه فايده نشته د دوی برخه يوازې سود ده.

خو اسلامي اقتصادي سيستم کوم چې د ګټې او تاوان د شريکولو پر بنسټ ولاړ دی د سودي اقتصادي سيستم يو ډيره غوره بديل راپه ګوته کوي . او دا سيستم د کمپنيو او پروژو تر مينځ د وسايلو ويش د موثريت او ګټورتيا په بنا کوي ځکه چې اسلامي بانک په خپله د کمپنۍ يا پروژې په ګټه او تاوان کې شريك دی نو ځکه د هغه پروژې يا کمپنۍ کاميابيدل او پيداواري صلاحيت (موثريتEfficiency) ورته مهم دی او دلته د هغه شخص يا کمپنۍ مالي ارزښت (Credit Worthiness ) په نظر کې نه نيول کيږي.

سودي بانکونه وړې کمپنۍ له پامه غورځوي دا سره له دې چې د دوی هغه پروژې چې پيسې ورته اخلي يا دوی يې د تمويلولو غوښتنه کوي ډيره احتمالي فايده لري خو څرنګه چې دوی د غټو کمپنيو په مقابل کې په مالي ډول مستحکمې نه وي نو بانکونه ورته توجه نه کوي. خو په اسلامي بانکونو کې داسې نه کيږي ځکه بانك د پروژې له



موثريت او ګټورتوب سره علاقه لري او يوازې د کمپنۍ مالي ځواك مستحکموالی (Credit worthiness) ورته د ارزښت وړ ندی ځکه بانك د پروژې په ګټه او تاوان کې شريك دی.

• **دعايد توزيع**: سودي سيستم يو داسې حالت مينځ ته راوړي چې په هغه کې عايد په غير عادلانه ډول توزيع کيږي يعنې بيله دې چې کوم اقتصادی منطق په نظر کی ونيول شي اميرانو او غټو کمپنيو ته ډيره او غريبانو او وړو کمپنيو ته لږ برخه ورکول کيږي، د بيلګې په توګه بانکونه غټو کمپنيو ته په کم سود پيسې برابروي ،مګر وړو کمپنيو ته خو اول څوك قرض نه ورکوي او که بيا يې ورکړي هم په ډير لوړ سود باندې يې ورکوي او د هغوی څخه ډيره ګروي اخلي.

• سودي سيستم په معاشره کې يو غير مفيد عادت پياوړی کوي هغه دا چې عوام د خپل ځان سره پيسې ساتي او په کار يې نه اچوي يعنې په بانك کې يې اچوي او سود پرې اخلي چې دا د اقتصادي پرمختګ لپاره ګټور ندی.

## د تمويلولواسلامي طريقي (21):

1) مشارکت
2) مضاربت
3) اجاره
4) مرابحه
5) بيع موجل
6) بيع سلم

[21]- دتمويلولو دغه اسلامي لاري چه ښکته ذکرکيږي د نړيول اسلامي پوهنتون د (رئيس) دکتور محمود احمد غازي لخوا د ليکل شوي کتاب (اسلام مين ربا کي حرمت اور بلا سود سرمايه کاري) څخه سره له لنډيزه را ژباړل شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



7) مزارعه

8) استصناع

9) بيع بالوفا

10) د حصصو(ونډو) پلورل يا عرضه کول(Issue of Securities)

اوس به په لنډ ډول پورته ذکر شوې لارې وڅیړو

## (۱) مشارکت:

مشارکت او مضاربت د سود له ختمیدو وروسته د هغه اصلي او غوره بدیل دی. دلته ځنې هغه مختصر بنیادي اصول ذکر کوم چې له امله به یې دا په ډاګه شي چې د مشارکت د تصور په بنیاد د بانکاری مقاصد څه ډول حاصلیدی شي.

د مشارکت (شرکه) څخه مراد دا دی چې دوه یا زیات کسان په یو ه کار کې د سرمایې په شریکولو سره شریک شي او دکار و بار ګټه او تاوان د دوی تر مینځ شریک وي.

- نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې په مشارکت کی ګټه په هر داسې یوه نسبت ویشل کېدی شي چې ټولو شریکانو له مخکې نه اتفاق ورباندې کړی وي. خو که تاوان وشي نو دا به هم د ټولو شریکانو د سرمایو په نسبت ویشل کېږي.یعنې که د چا سرمایه ۱۰% وي نو لس فیصده تاوان به ګالي او که د چا ۹% سرمایه وي نو ۹% تاوان به ګالي.
- ټول شریکان تر مخکې شرایطو لاندې دا طې کولی شي چې کار و بار به څوک چلوي او پاتې شریکان به څه خدمت سرته رسوي. د ګټې ویش به همیشه د فیصدی په لحاظ کېږي او د هیچا لپاره به معین مبلغ نه ټاکل کېږي.
- کار و باري اداره یا کمپنۍ د شریکانو په اجازې سره قرضه او یا کوم بل مالي مسئولیت اخستی شي.
- یوه مشارکه کمپنۍ له نورو کمپنیو سره مشارکت یا مضاربت کولی شي په دې شرط چې د دواړو کمپنیو شریکانو دا اجازه ورکړې وي.د امام ابو حنیفه په نظر د



مضاربت لپاره له شرکاوو نه اجازه اخستل ضروري ندي.

- په کومو مشارکه کمپنیو کې چې د بانك لخوا سرمایه ولګول شي باید ددغه کمپنۍ په انتظام او اداره کې د بانك عمل داخل شي. د مثال په توګه بانك باید د خپلې سرمایې په تناسب د کمپنۍ په چلونکې ډله (مدیره هیئت یا بورډ اف ډایریکټر) او ځنې نورو چاورکې خپل ارکان یا نماینده ونوموي.
- بانك چې کله وغواړي د مشارکه کمپنۍ کاغذات،اسناد رسیدونه اوداسې نورې کتنې د ځان د تسلې او د غبن د مخنیوي په خا طر کولی شي.

1) **مضاربت:** مال یا سرمایه د یوکس یا یو ګروپ له خوا او عمل د بل کس یا ګروپ لخوا او ګټه د مخکینۍ موافقې په اساس ویشل کېږي.که تا وان وشي هغه صرف د سرمایی د مالك وي او دکار و بارکونکی عمل ضایع کېږي مالي تاوان نه وي ورباندې.

## د مضاربت مهم احکام په لاندې ډول دي:

- مضاربت د متعین او ټاکل شوي مبلغ پر بنا کېږي. په کوم غیر معین مال او یا جایداد باندې نه کېږي.اوپه داسې قرض باندې هم نه کېږي چې هغه تر اوسه پورې (د مضاربې تر پیل پورې) نه وي وصول شوی.
- مضاربت عام او خاص کېدی شي، عام په دې معنې چې کمپنۍ په هر کار کې چې مناسب یې وګڼي سرمایه لګولی شي، مګر په خاص مضاربت کې کمپنۍ صرف په هغه کار و بارکې سرمایه لګولی شي چې سرمایه لګونکي یې ورته اجازه ورکړې وي.په خاص مضاربت کې د ځای، نوعیت او داسې نور شرطونه هم لګیدی شي.
- کوم مبلغ چې په طور د امانت له چاسره وي ، د مالك په اجازې سره یې په مضاربت کې لګولی شي.
- سرمایه په عملي ډول کمپنۍ یا مضارب ته حواله کول اړین دي ،که چیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمایه له مالك سره پاتې شي مضاربت صحیح نه دی.

• د ګټې نسبت باید له مخکې څخه وټاکل شي، یعنی دا څرګنده شي چې کمپنۍ او سرمایه ورکونکي ته به د ګټې څومره حصه ورکول کېږي.

• هر هغه شرط منسوخ دی، چې د هغه پر بنا د تاوان ګالل په کمپنۍ (مضارب) پوري وتړل شي .

• که مضاربه کمپنۍ (مضارب) داسې کار و بار وکړي دکوم چې اجازت نه وي ورکړل شوی نو پدې صورت کې مسئولیت د مضاربه کمپنۍ په غاړه دی.

• مضاربه کمپنۍ خپل ضروري مصارف د مضاربت له عاید څخه اخستی شي ددغه ضروري مصارفو تعیین د بازار د رواج او د زمانې د عرف په بنا کېدی شي.

## ۳) اجاره (Leasing):

د سرمایه کارۍ دغه طریقه هم د شریعت له نظره جایزه او روا ده او په پرمخ تللو هیوادونو کې په پراخه کچې له دې څخه کار اخستل کېږي بالخصوص په بانکدارۍ کې. په یاد ولرئ چې په بنیادي ډول اجاره د اسلامي فقهاوه ایجاد و او په لویدیځ کې هم دا تصور په نژدې ماضي کې مینځته راغلی دی.په انګلستان کې دا رواج د ۱۹۶۰ ع عشرې څخه شروع شو او ډېر زر یې په کار و باري کړیو کې مقبولیت تر لاسه کړ.ددې اندازه له دې څخه کېدی شي چې په ۱۹۷۹ع کال کې ټول دوه زره ملیونه پونډه اجاره شوي و کومه چې د ټولې سرمایه کارۍ لس فیصده و.

د اجارې نه مطلب داسې لین دین دی چې په هغه کې دیوه جایز شي ملکیت له ځان سره وساتل شي، مګر د هغې څخه دګټې اخستلو حق (حق الانتفاع) دیوې معینې مودې لپاره په بل چا خرڅ کړی شي.

د اجارې مهم احکام په لاندې ډول دي:

• د اجاره کړی شوي شي منفعت یا د کارونې حق معلوم وي.او له مخکې څخه طي شوی او ټاکل شوی وي او که د استعمال کوم حق غیر معین وي نو معاهده صحیح



نده. دا هم اړینه ده چې دا له مخکې نه تعیین او وټاکل شي په اجاره باندې اخستل شوي شي به چیرې، څرنګه او دکومو مقاصدو لپاره استعمالیږي ؟ البته د احنافو په نزد دکور او دکان په اجاره کې تعینول ضروري ندي ،چې په دې کې کرایه دار په خپله اوسیږي او که بل څوك او په دکان کی څه کار و بارکوي۔ددغه شیانو داسې استعمال چې په هغه ځای کې معروف نه وي او کور ته په کې تاوان رسیږي د مالك د اجازې نه پرته جوازنلري.

• د اجارې مودت، تاریخ ، پیل او ختم باید له وړاندې نه معین وي

• د داسې عمل لپاره چې شرعاً او یا عادتاً صحیح نه وي اجاره ورکول ناجایز دي.

د بیلګې په توګه د شرابو جوړولو لپاره ځای په کرایه ورکول اوداسې نور.

• په څرګنده توګه د کرایې اندازه ټاکل.

## ۴)مرابحه:

له بیع مرابحه نه مطلب دا دی چې یو شي د هغه په پخوانۍ بیه واخستل شي (وپیرودل شي) د اخستنې بیه طي او څرګنده شي او له ټاکلې ګټې (مفاد) اچولو نه وروسته بیا خرڅ کړی شي.

ددې د جواز لپاره لاندې قوانین ضروري دي:

• د پخواني قیمت معلومول او تعیین ضروري دی. یعنې لومړنی اخستونکې به واضح او په ډاګه وایي چې دا شي ما په دومره اخستي که یې نور مصارف پرې شوي وي د هغه ذکر کول هم ضروري دي او بیا ووایي چې زه دومره ګټه وربانديې اخلم او دا شي اوس په دومره خرڅوم.

• د ګټې د شرحې یا اندازې فارمول له مخکې نه ټاکل.

• دکوم سامان چې مجموعي قیمت معلوم نه وي د هغه د ممکنه قیمت د فیصدۍ له مخې د ګټې تعیینول جایز ندي. مثلا چې په دې دکا ن کې موجود ټول سامان په ۱۰% نفع واخله دا سودا صحیح نده_لومړی باید د سامان قیمت (نرخ) تعیین شي او بیا پر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵%یا ۱۰% ګټه وویل شي. د طلا، سپینو زرو او یا د یو قسم پولي واحد مرابحه بیع جایزه نده ځکه دا سود ګڼل کېږي . ددغې طریقې په کارولو سره لوی ماشین الاتو او نورو شیانو کې ښه کار اخستل کېدي شي.

## ۵) بیع مؤجل:

له دینه مطلب په قرِض باندې خرڅول دي. یعنې پدې کې قیمت یو ځل او یا په قسطونو خو څه موده وروسته اداکېږي، خو قیمت له مخکې نه تعیین وي او د قیمت ورکولو تاریخ هم ټاکل شوي وي او دا هم ذکر وي چې یو ځلي او که په قسطونو به وي.

د بیع موجل احکام په لاندې ډول دي:

- پلورونکی د هغه شي مالك وي چې خرڅوي یې او هغه یې په تصرف (قبضه)کې وي.
- د قیمت د تر لاسه کولو لپاره له پلورونکي (بایع) سره دا اختیار شته که وغواړي چې د اخستونکي (مشتري) کوم شي دګروی په توګه وساتي.
- د خرڅ شوي شي قبضه فوراً باید اخستونکي ته ورکړل شي.
- په بیع سلم کې قیمت مخکې وصول کېږي یا اخیستل کیږي او مال وروسته ورکول کېږي، ددې بر عکس په بیع موجل کې مال مخکې ورکول کېږي اوقیمت وروسته تر لاسه کېږي، په دواړو صورتونو کې دا ضروري ده چې یو شي (مال یا قیمت ) مخکې فوراً ادا کړی شي.

## ۶) بیع سلم:

دا هغه بیعه ده چې قیمت پکې نقد یا په لاس ادا کړی شي او شي وروسته ورکړی شي. د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د یو تقریري حدیث څخه ددې جواز څرګندیږي، اصحاب کرامو د بیع سلم کار و بار کولو نبي کریم صلی الله علیه وسلم لدې څخه دوی منع نه کړل خو یوڅه اصلاحات یي پکې وکړل.



## د بیع سلم ضروري احکام په لاندې ډول دي:

- دکوم شي چې پیر و پلور کېږي هغه باید متعین او طي شوی وي.
- قیمت په فوري ډول ادا شي، که د قیمت سپارل قرض وي نو بیا دا بیع ناجایزه ده-البته امام مالك (رح) دومره رعایت ورکړی چې که د قیمت سپارل له معاهدې نه دوی دری ورځې وروسته وشي نو دا هم نقد سپارل ګڼل کېږي.
- د کومو شیانو تبادله چې کېږي هغه باید له یو جنس څخه نه وي. د بیلګې په توګه غنم د غنمو په بدل کې یا سره زر د سرو زرو په مقابل کې نه وي.
- د سامان د تیارولو او سپارلو حتمي تاریخ او ځای له مخکې نه ټاکل کېږي ځکه له رسول الله (ص) څخه روایت دی چی فرمایي: که له تاسو نه کوم شخص بیع سلم وکړي نو هغه دې په معین مقدار، وزن، او مودې سره کوي ، تاریخ حتمي او ټاکلی وي . مثلا دا صحیح نده چې ځوك ووایي کله چې فصل راغونډ کړی شي یا حاصلات واخستل شي بیا به یې سپارو، بلکې د میاشتې او نیټې تعینول ضروري دي.
- کله چې اخستونکی د شي قیمت اداکړي، شي یې ملکیت ګرځي او د تصرف ټول حقوق ورته حاصلیږي.
- دکوم مال د تیارولو او سپارلو وعده چې شوې وي هغه باید په بازار کې وجود ولري او په مقرره وخت او ځای یې تیارول او سپارل هم امکان ولري. داسې شي دکوم چې تیارول ناشوني وي اویا د معاهدې کونکي په توان کې نه وي د دې بیع سلم سمه نده.

مثلا:فرض کړي چې یو سړي د بوټ جوړولو فابریکه لري او هغه د نویو ماشین الاتو د واردولو لپاره لس لکه پیسو ته اړتیا لري هغه بانك یا کوم پانګوال (سرمایه دار) سره بیع سلم کولی شي، یعنې د بیع سلم په ډول په هغه دکانداربانديې د لس لکو په ارزښت سامان (بوټ) خرڅوي د هغه څخه نقدې پیسې اخلي او په مقرره وخت کې بوټان ورته تیاروي .اوس بانك یا سرمایه دار کولی شي چې دغه بوټان په بازارکې وپلوري اصل مبلغ او ورسره ګټه تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷) عقد استصناع:

دا بیع سلم ته ورته عقد دی. د استصناع له عقد نه مراد کوم کارګر یا صنعت کار ته د څه شي د جوړولو په بدل کې پیشکي قیمت یا مخکې بیه ورکول دي

## د استصناع د عقد مهم احکام:

- د احنافو له نظره ددې قیمت مخکې ، وروسته او پخپل وخت ورکول کېدی شي.
- د شي نوعیت، ډول، مقدار، قیمت او نور ضروري اوصاف ټاکل ضروري دي.
- د سامان د تیارولو لپاره د وخت حتمي تعیینول ضروري ندي البته که فریقین په خپله مدت تعیین کړي نو حتما به یې پابندي کوي.
- کله چې صنعتکارد مطلوبو شرایطو او اوصافو مطابق مال تیارکړي او نمونه یې وښیي نو امر ورکونکی یا مقابل لوری یې د قبلولو پابند دی .

## ۸) مزارعت:

مزارعت ته چې د کوم شرعي بنیاد په اساس جواز ورکړل شوی دی هغه نژدې نژدې همغه دی کوم چې د مضاربت د جواز سبب کېږي. که مزارعت په نوي انداز سره ترتیب شي نو د زراعتي پورونو(قرضونو) نظام د شریعت مطابق جوړیدی شي.

## د مزارعت ضروري احکام:

- د مزارعت د معاهدې په نتیجه کې چې کوم پیداوار حاصلیږي باید د هغه



نوعیت معلوم او ټاکلی وي

- پیداوار د تعیین شوي تناسب په حساب د فریقینو تر مینځ وویشل شي .
- د ځمکې مکمل انتظام او بند و بست کارکونکي ته وسپارل شي
- د معاهدې موده ټاکل شوې وي
- د زراعتي امورو ټول لګښت د دواړو اړخونو (فریقینو) په ذمه دی او د طې شوې ګټې په تناسب سره به یې برداشت کوي، هر هغه شرط منسوخ دی چې د هغه په بنیاد لګښت (مصرف) د کارکونکي په ذمه شي
- په دې عمل باندې د مضاربت حکم جاري کېږي ، نو ځکه شریکان په ګټه او تاوان کې سره شریك دي او که دکوم آفت په وجه هیڅ پیداوار و نه شي نو یو لوری هم څه نشي ترلاسه کولی.

## ۹) بیع بالوفا:

دا هغه بیعه ده چې پدې شرط سره تر سره شوې وي که چیرې خرڅونکی پیسې واپس کړي نو اخستونکی به شي واپس کوي یعنې بیرته به یې سپاري. دا په یوه اعتبار د پیراو پلور (خریداو فروخت) او په بل اعتبار د دین (ګروی) معامله ده. اخستونکي ته ورنه د ګټې (انتفاع) ټول حقوق حاصلیږي لیکن نه یې خرڅولی شي او نه یې چا ته رهن اینښودی شي .

## د بیع بالوفا ضروري احکام:

- په بیع بالوفا باندې د رهن د ډېرو احکامو اطلاق کېږي ځکه چې پیرودونکی (اخستونکی) د مال اصلي مالك نه وي نو ځکه پلورونکی چې کله وغواړي شي یا جایداد واپس اخستی شي.
- دا بیع نقد هم کېدي شي او موجل هم.
- فریقین کولی شي چې د عقد لپاره موده تعیین کړي چې له هغې څخه وروسته خرڅونکی نشي کولی د قیمت په واپس کولو سره خپل مال بیرته تر لاسه کړي بلکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاکلې مودې له پوره کیدو وروسته اخستونکی اصلي مالك ګرځي.

- ضروري نه ده چې قبضه فورا مشتري ته ورکړي-که څه هم قیمت نقد وي خو قبضه وروسته هم ورکول کېدی شي.
- که چیرې دکوم پور په عوض کې جایداد د بیع بالوفا په ډول په قرض ورکونکي باندې خرڅ کړل شي، نو دغه به رهن وي ځکه د قرض په مقابل کې اضافي ګټه اخستل سود دی.
- بیع بالوفا د بانکونو په ډېرو معاملاتو کې کارول کېدی شي. د فقهاوو له نظره دا کوم معیاري او مثالي طریقه نده، بلکې په دې کې دکراهت ډېر اړخونه لیدل کېږي. د لومړني دور فقهاو دا نا جایزه ګڼلې ده ځکه چې پدې سره د ربا (سود) دروازې خلاصیدی شي- لیکن وروستنیو فقهاوو یې ترځینو شرایطو لاندې اجاز ورکړیده.

## سکوک (اسلامي بانډ):

سکوك اسلامي بانډ ته ویل کېږي او سکوك د عرفي بانډ سر ه معادل فرض کولی شو، په استثنا ددې چې سکوك د شرعي احکامو په مراعات کولو سره جوړشویدي او کوم معین سود نه ورکوي ددې پر ځای سکوك لرونکي ته په معینه موده کې ګټه یا فایده(periodic Payment) ورکوي. سکوك دیوه اسیټ (22) نه تقسمیدونکې حصه ښیي کوم چې د ګټې د تولید په منظور په کار اچول شویده اوسکوك لرونکو ته د پانګونې دګټې څخه حصه ورکول کېږي .بانډ په عمومي ډول سره یو سودي قرض ګڼلی شو.څرنګه چې اسلام سود منع کړیدی نو ځکه په اسلامي هیوادونو کې په سود ولاړ قرضي مارکېټ یا سندونه (سرټیفکیټ) ښه مارکیټ نلري یا نشي چلیدلی، نو ځکه په دې هیوادونو کې د سکوك یا اسلامي بانډ ډېر طلب شته او ډېر لوی مارکېټ لري.

[22]- Asset هر هغه شي ته وایي چه یو اقتصادي ارزښت ولري لکه کور،ماشین الات. موټر او داسي نور ، پیسې هم په اسیټ کې راځي مګر دا په مالي اسیټ کې شمیرل کېږي او په فزیکې اسیټ کې نه شمیرل کېږي.



ددې لپاره چې دا موضوع ښه واضح شي یو مثال ته اړتیالري فرض کوو چې یوه کمپنۍ ځمکې، یا ماشین الاتو ته اړتیالري ددې لپاره چې ددغه ځمکې، یا ماشین الاتو لګښت تمویل کړی شي د اجارې سکوك عرضه کولی شي او بیا دغه ځمکه، یا ماشین آلات په اجاره باندې هغه کمپنۍ اخلي او یا یې بل چاته په اجاره ورکوي او د اجارې څخه لاسته راغلې پیسې (کرایه) بیا دا جارې په سکوك لرونکو باندې په معینو وختونو کې ویشل کېږي. که چیرې مونږ فرض کړو چې د ځمکې اخستلو لپاره ۲۰۰۰۰ افغانۍ پکار دي کمپنۍ کولی شي چې د ۱۰۰روپیو ۲۰۰ د اجاره سکوك پاڼې یا اسناد په بازار کې عرضه کړي او په دې وسیله دځمکې لګښت تمویل کړي.

## د سکوک ډولونه:

1. سکوك ډېر ډولونه لري چې دا کتاب یې د بشپړ بیان توان نلري، نو مونږ به په دې ځای کې په لنډ ډول سره لاندیني سکوك وپیژنو:
2. سکوك المشارکه (د مشارکت سکوك):دغه د مساوي ارزښت لرونکي اسناد دي چې د پروژو د تمویلولو په منظور بازار ته عرِضه کېږي او په دغه وسیله لاسته راغلو پیسو باندې به په یوه موجود کار و بار یا پروژه کې شراکت لاسته راوړل کېږي. سکوك لرونکي د هغه پروژې شریکان(**Co-owner**)ګرځي چیرې چې هغه پیسې کارول شویدي.څرنګه چې د ټولو سکوك لرونکو لپاره به دا شونی نه وي چې د شراکت کار و بار په اداره کولو او چلولو کې په مستقیم ډول سره برخه واخلي، نو دوی په مشترك ډول سره کولی شي چې یو وکیل یا نماینده وټاکي او هغه د دوی کار و بار په چلونه کې ونډه واخلي دغه سړی کېدی شي چې مسلکي سړی هم وي.

3. سکوك الاستصناع: داستصناع سرټیفکیټ د مساوي ارزښت لرونکي هغه اسناد دي کوم چې پدې موخه صادرېږي چې د یوه معین شي د تولید لپاره سرمایه تر لاسه کړي، هغه شیان یا توکي چې داستصناع په بنسټ باندې تولیدیږي د استصناع سرټیفیکیټ لرونکي د هغه مالکان ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4**. سکوك المرابحه (مرابحه سرټيفيکېټ): مساوي ارزښت لرونکي هغه اسناد دي چې د مرابحه د توکېو د تمويلونې په خاطر صادر شوي وي او سند يا سرټيفيکېټ لرونکي د مرابحه د توکېو مالکان ګرځي.

**۵**- د مضاربت سکوك: دغه د مساوي ارزښت لرونکي هغه اسناد دي چې د مضاربې د توکېو د تمويلونې لپاره صادرېږي او د دغه سند لرونکي د مضاربې د توکېو مالکان ګرځي. څرنګه چې د پانګونې سکوك تر اوسه په لومړنيو مراحلو کې دي نو ځکه تر اوسه د مضاربت سکوك ندي صادرشوي اميد دی چې په نژدې راتلونکې کې به صادر شي.
سره له دې چې ډېر لږ وخت کېږي چې سکوك شروع شويدي مګر بيا هم له اسلامي نړۍ نه سربيره په هر هغه ځای کې د سکوکو لويه غوښتنه او مارکېټ شته چيرته چې مسلمانان ژوند کوي . د لومړي ځل لپاره د بحرين هيواد سکوك صادر کړل او وروسته بيا له نورو اسلامي هيوادونو څخه علاوه په ځنې کفري هيوادونو کې هم سکوك صادر شول.دسکوکو اوسنی مارکېټ اټکل شوی چې د څلورو بليونو څخه زيات دی اوددې وده د ٪۹۰څخه زياته اټکل شويده. دغه لاندينی چارت (23) مونږ ته تر اوس مهاله په تاريخي ترتيب سره د سکوکو لست راښيي :

| شمیره | صادرونکی | د صدور نیټه | دصدور اندازه مليون امريکايي ډالر |
|---|---|---|---|
| ۱ | اسلامي پرمختيايي بانك | اپريل ۲۰۰۵ | $۵۰۰ |

[23]- دغه چارټ يا د سکوکو لست د عسکري کمرشل بانك د معاون (وايس پريزيډنټ ) لخوا د يوه لکچر په دوران کې وړاندې شوېدی.



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲ | بحرين فايننشل هاربور | مارچ/اپريل ۲۰۰۵ | $۱۷۰ |
| ۳ | دبحرين حکومت | فيبروري ۲۰۰۵ | ۱۱۹$ |
| ۴ | پاکستان انټرنيشنل سکوك کمپني لميټيډ<br>حکومت | جنوري ۲۰۰۵ | ۶۰۰$ |
| ۵ | ضورت البحرين سکوك | جنوري ۲۰۰۵ | 152.5 |
| ۶ | امپل زون برهډ (ماليزيا) | جنوري۲۰۰۵ | 39.5 |
| ۷ | سه روك كارپوريټ سکوك | دسمبر ۲۰۰۴ | 350 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸ | دوبي ګلوبل سکوك (حکومت) | نومبر ۲۰۰۴ | $۱۰۰۰ |
| ۹ | فرسټ اسلاميك انوستمنټ بانك | اوکتوبر۲۰۰۴ | $۱۰۳ |
| ۱۰ | ايمر (متحده عربي امارات) | جولاي ۲۰۰۴ | $۶۵ |
| ۱۱ | انکريس سکوك برهډ (مليشيا) | جولاي ۲۰۰۴ | $42.1 |
| ۱۲ | د بحرين حکومت BMA | جولاي ۲۰۰۴ | $۱۰۶ |
| ۱۳ | د بحرين حکومت | جون ۲۰۰۴ | $۲۵۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | BMA | | |
| ۱۴ | Sacony Anhalt state properties (اوربا) | جون ۲۰۰۴ | $۱۰۰ |
| ۱۵ | Caravan limited (بریتانیا) | مارچ ۲۰۰۴ | $37.3 |
| ۱۶ | تبرید (متحده عرب امارات) | جنوري۲۰۰۴ | $۱۰۰ |
| ۱۷ | د بحرین حکومت BMA | ډسمبر ۲۰۰۴ | $۵۰ |
| ۱۸ | دقطر حکومت | سپتیمبر ۲۰۰۳ | $۷۰۰ |
| ۱۹ | اسلامي پرمختیایی بانك | جولاي ۲۰۰۳ | $۴۰۰ |
| ۲۰ | دبحرین حکومت BMA | مي ۲۰۰۳ | $۲۵۰ |
| 21 9. | 7. دبحرین حکومت 8. BMA | 6. اپریل ۲۰۰۳ | $۱۰۰ 5. |
| 22 | د بحرین حکومت BMA | فیبر وري ۲۰۰۳ | $۸۰ |
| 23 | د بحرین حکومت BMA | نومبر ۲۰۰۲ | $۵۰ |
| ۲۴ | د بحرین حکومت BMA | آګسټ ۲۰۰۲ | $۸۰ |
| ۲۵ | د مالیزیا حکومت | جون ۲۰۰۲ | $۶۰۰ |
| ۲۶ | د بحرین حکومت BMA | فبروري۲۰۰۲ | $۷۰ |



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۷ | د بحرین حکومت BMA | سپتمبر ۲۰۰۱ | $۱۰۰ |
| | | | ∑ ۶۲۰۴ |

# پنځم فصل

## اسلامي اقتصادي پرمختګ

مخکې له دې چې اقتصادي پرمختګ له اسلامي نظره تعریف کړو غواړم چې د اقتصادي پر مختګ په اړوند څو عمومي خبرې وکړم، په نړۍ کې یوازې اسلامي هیوادونه وروسته پاتې ندي بلکې ډېر غیر اسلامي هیوادونه هم وروسته پاتې دي، نو ویلی شو چې اقتصادي پر مختګ یوازې د اسلامي نړۍ مشکل نه دی.

په کال ۱۹۸۶ کې Raanaz weitz ویلي وو: ، ،په داسې حال کې چې بشریت په یوه سیاره (ځمکه)کې سره شریك دي خو بیا هم د ټولو نړۍ یوه نده دا یوه داسې سیاره ده چې په هغې کې دوه نړۍ دي یوه د بډایانو نړۍ او بله د غریبانو نړۍ ، ،

د UNDP ۱۹۹۵م کال د انساني پر مختګ د رپوټ له مخې د نړۍ د نفوس له ۴/۳ درې پر څلور برخې څخه زیات وګړي په غریبو هیوادونو کې ژوند کوي او له دوی سره د نړۍ د عاید یوازې ٪۱۶ وجودلري .په داسې حال کې چې د نړۍ ٪۸۵ عاید د د پاتې ٪۲۰ بډایو خلکو په لاس کې دی.

**دغریبو هیوادونو ډلبندي:**

- لږ عاید لرونکي هیوادونه
- لږ اوسط عاید لرونکي هیوادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ➢ اوسط عايد لرونکي هيوادونه
- ➢ پورته_اوسط عايد لرونکي هيوادونه
- ➢ لوړعايد لرونکي هيوادونه

وړاندې له دې چې په اقتصادي پر مختګ باندې نورې خبرې وکړو لومړۍ لاژمه ګڼم چې د بيوزلۍ يا فقر په اړوند لنډ معلومات ستاسې خدمت ته وړاندې کړم:

## غريبي(بيوزلي):

غريب هغه سړي ته ويل کېږي چې د خپلو لومړنيو اړتياوو د پوره کولو توان ونه لري. او لومړنۍ اړتياوې عبارت دي له کور، کالي، ډوډۍ، تعليم او داسې نور.

غريبي ډير اقسام لري چې لاندې به ورنه يادونه وشي.

د نني عصر زياتره کړاونه د غريبۍ له وجې مينځ ته راځي او همدغه د عايد بې انصافه ويش دی چې په نړۍ کې يې اور بل کړيدی کله د تيلو په سر جګړه کېږي او کله د خپلو تجارتي مفاداتو د خوندي ساتلو په موخه غريب او بيوسه هيوادونه ټکول کېږي. که مونږ د ملګروملتونو جوړښت ته ځير شو نو دا به را ته جوته شي چې د نړۍ د ټولو مسلمانانو سره هيڅ د حساب وړ قدرت نشته دوی يوازې د ميلمه په شکل په نړيوالو مجالسو کې برخه اخلي او د اسلامي هيوادونو څخه يو هم د ويټو حق نه لري ، دا سره له دې چې اسلامي نړۍ ډير زيات وګړي لري ، خو بالعکس کله هم چې د مسلمانانو په پلوی کوم بل منظور شي هغه د کفري هيوادونو له خوا ويټو کېږي چې ددې ښه بيلګه د امريکا له خوا د اسرائيلو ضد سندونو (بلونو) ويټو کول دي.

(لاندينی تصوير ښيي چې غير عادلانه قوانينو او کړنلارو د ملګرو ملتونو اداره د ډوبيدو له ګواښ سره مخ کړيده):






همدا راز ويلی شو چې د عايداتو او وسايلو بې انصافه ويش ګرده نړۍ په ځانګړې توګه د عوامو او بې وسه خلکو د ډوبيدو باعث ګرځي .

اسلام هم د غريبۍ او بيوزلۍ خلاف دی او د همدې ټولنيز رنځ د له منځه وړلو پخاطر الله تعالی په هر بډايه مسلمان باندې زکات فرض کړيدی. رسول الله (ص) په يوه مبارك حديث کې فرمايي: [کاد الفقر ان يکون کفرا] ترجمه: نژدې ده چې فقر په کفر بدل شي، د کفر سبب شي.

ددې حديث مطلب دا دی چې ډير ځله يو انسان د فقر او غريبۍ له کبله غير اسلامي يا غير شرعي کارونو ته لکه غلا او داسې نورو ته مخه کوي او په دې توګه نوموړی د کفر خواته ميلان کوي. همدا رنګه حضرت علي (رض)فرمايلي دي : [لوکان الفقر رجلا لقتلته] يعنې که چيرې غريبۍ او فقر سړی وای، نو ما به وژلی و. له دې څخه څرګنديږي چې فقر يوه خطرناکه ستونزه ده او ددې د حل لپاره بايد ګړندي، په وخت او لاژم اقدامات وشي .

## د بيوزلۍ (غريبۍ) ډولونه:

په ظاهره خو بيوزلي ديته ويل کېږي چې يو سړی د خپلو لومړنيو اړتياوو(ډوډۍ، کور، درمل) د پوره کولو توان ونه لري مګر په اصل کې د بيوزلۍ يا غريبۍ ډير ډولونه او عوامل دي چې په لاندې توګه اشاره ورته کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Error!**

- د عاید(درآمد) کموالی
- له مادي وسایلو نه محرومیت
- د مواقعو کمښت
- تجاوزات، اله ګوله
- بي وسي (اقتصادي،سیاسي.....)
- ټولنیز ګوښیتوب(محرومیت)






اوس که چیرې مونږ د غریبۍ دغه پورته عوامل او اقسام په نظر کې ونیسو نو دا به راته جوته شي چې ټول افغانان هرو مرو له یو ډول بیوزلۍ سره مخ دي [سیاسي، اقتصادي، ټولنیزه، فزیکي] ځکه تر اوسه پورې زور واکي حا کمه ده، د هیواد چارې د نا اهلو په لاس کې دي او د هیواد په سیاسي او نورو چارو کې د عوامو رول نشته، له نیکمرغه چې په دې وروستیو کې دا سلسله شروع شویده مګر تر اوسه دا یو سمبولیك او تش په نامه پروسه ده، له لوی خدای څخه ددې په امید یو چې افغانان له دغو ټولو بدبختیو او بیوزلیو څخه خلاص کړي.

## د بیوزلۍ (غریبۍ) عوامل او د هغې د حل لارې چارې :

ارسطو ویلي دي چې" بیوزلي او غریبي د انقلابونو او جرایمو والدین دي " د نړۍ زیاتره جګړې د بیوزلۍ او غریبۍ په وجه شویدي او ځینو هیوادونو ددې لپاره چې د نورو کمزورو هیوادونو پر وسایلو باندې قبضه وکړي پر هغوی یرغل کړیدی چې ښه مثال یې افغانستان او ځنې نور مظلوم اسلامي هیوادونه دي . د نړۍ زیاتره جګړي اوس هم د عاید او وسایلو د غیر عادلانه ویش له وجې کیږي. خلاصه دا چې د عایداتو او وسایلو غیر عادلانه او نا انډول ویش انساني ټولنه نه یوازې له هوساینې محرومو ي، بلکه له ډول ډول ستونزو سره یې مخ کوي.

## د غریبۍ او بیوزلۍ عوامل:

- د کپیټل (سرمایې .........) او تکنالوژۍ کمښت
- پر زراعتي سکتور اتکاء (د پرمختللي صنعتي سکتور نه موجودیت)
- د نفوس زیاتوالی.
- په بهرنیو پورونو باندې تکیه کول او سودي قرض اخستنه.

په لاندې تصویر کې دغه موضوع ښه څرګنده شویده، کله چې کوم هیواد له بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادونو څخه سودي پور واخلي نو بیا مجبور دی چې د هغوی ځنې اوامر او شروط هم ومني او نشي کولی چې په خپلو اقتصادي او سیاسي پالیسیو کې پوره خپلواکي ولري .




غیر ثابتې پالیسی (اقتصادي ، سیاسي) یعنې د هر نوي حکومت د راتګ سره د نویو پلانونو عملي کول او پخواني پروګرامونه او پروژې په نیمه کې پریښودل او د سیاسي عواملو له امله ور ته توجه نه کول.

- د زراعتي او صنعتي سکتورونو تر مینځ د همغږۍ نه موجودیت.
- په سود ولاړ اقتصادي (مالي) سیستم (د سود په وجه امیر نور هم امیر کېږي او غریب لاپسې غریب کېږي)
- د پوهې او مهارتونو کموالی.

## غربېي او بیوزلي په لاندې لارو سره له مینځه وړل کېدی شي :

- د پوهنې او تکنالوژۍ په پر مختګ سره



- د اسلامي تمویلولو (Financing) د وسایلوا و اسانتیاو په حمایه کولو، پیاوړي کولو او تشویقولو سره.
- د پرمختیایي پروژو په پلي کولو کې له کارګرو څخه زیاتې ګټې اخستنې سره.

د ځمکې قوانین او اصول (د ځمکې د ملکیت عظمي حد ټاکل او یا د بیکاره ځمکې په موثر ډول کارول او مستحقینو ته ورکول

## د اقتصادي پرمختګ د کچې (اندازې) لارې:

د اقتصادي پرمختګ د کچې معلومول مختلفې لارې لري لکه: د داخلي نا خالص محصول (GDP) وده ، د خلکو د ژوند دسطحې ښه کېدل، د غریب او امیر تر مینځ د توپیر کموالی او د یوه کس عاید (Per capita Income) او د بشري پرمختګ تر ټولو جامع کچه کونکی د بشري پرمختګ شاخص یا انډیکس دی ( Human development Index)، په دې وروستیو کې د بشري پرمختګ ارزښت ته په پام سره په افغانساتان کې د یوه کنفرانس په ترځ کې چې د کابل په پوهنتون کې د افغانستان د څو وزیرانو ا و د UNDP د ځینو غړو په ګډون جوړشوی و ګډون کوونکي د بشري پرمختګ د اهمیت په اړه وګړیدل او په پای کې د نومبر میاشت د بشري پرمختګ د میاشتې په نامه ونومول شوه. څرنګه چې د پرمختګ دکچه کولو نورې طریقې اسانه او ساده دي ، تشریح ته اړتیا نه لري یوازې د بشري پر مختګ انډیکس یوڅه تشریح ته اړتیا لري او هغه په لاندې ډول سره څیړو:

## د بشري پرمختګ شاخص یا انډیکس :

د اقتصادي پرمختګ دکچه کولو دغه واحد په کال ۱۹۹۰ کې د UNDP په وسیله معرفي شو او اوس په کلنیو راپورونو کې د پرمختګ همدغه واحد چاپیږي. د پرمختګ دغه کچه کونکی له ټولو پورته ذکر شوو نورو طریقو څخه غوره دی ، ځکه په دې کې د داخلي ناخالص محصول((GDP)) یا دیوه هیواد د تولیداتو څخه علاوه نور ټولنیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکتورونه هم په نظر کې نیول کېږي. د بشري پرمختګ شاخص یا انډیکس ( Human development Index) ټول هیوادونه د صفر او یوه په منځ کې د یوه واحد په اساس راولي، د اقتصادي پرمختګ دغه ارزیابي د پرمختګ. په دریو ((نهایي محصولاتو)) ولاړه ده او هغه درې په لاندې ډول سره دي:

1) د صحي وضعیت یا د عمر داوږد والي کچه، د یوه هیواد دوګړو اوسط ژوند او دا د تولد نه پس د متوقع ژوند پوسیله اندازه کېږي.

تر ټولو کم اوسط عمر ۲۵ کاله فرض کېږي او تر ټولو زیات اوسط عمر ۸۵ کاله فرض کېږي او په لاندې ډول سره اندازه کېږي.

له تولد نه وروسته احتمالي ژوند = **اوسط متوقع ژوند- ۲۵** / **۸۵-۲۵**

اوسط احتمالي ژوند، د هغه هیواد د وګړو اوسط ژوند نیول کېږي. د افغانانو اوسط عمر 44,5دی خو [د بشري پرمختګ په نوي را پور کې چې په کال ۲۰۰۵ کې خپر شوي او سط عمرتقریب ۴۶] کاله اټکل شویدی . د ماشومانو د تولد په ترځ کې د هر یو لکو میندو له جملې څخه ۱۶۰۰ میندې د صحي مراکزو د نه موجودیت له کبله له مینځه ځي او په هرو پنځو افغانانو کې یو د عصبي یا ذهني امراضو څخه کړیږي، او یوازې ۲۳٪ افغانان د صافو اوبو څخه برخمن دي (24). که مونږ دغه معلومات په نظر کې ونیسو نو له تولد نه پس د افغانانو احتمالي ژوند مساوي کېږي له 0.325سره [44,5-25/85-25]

2) د پوهې (لیك لوست) کچه، دا د بالغو وګړو د لیك لوست او ښوونځي ته د تګ په اوسط کلونو سره اندازه کېږي او له همدې نه د سواد یا پوهې انډیکس په لاس راځي

24- د UN راپور د بشري حقوقو په اړوند، دي نیوز ورځپاڼه، اکتوبر 30/2005



ددغو پورته دوه انډیکسونو له جمع کولو څخه په دې ډول چې 2/3وزن بالغ وګړو سواد او 1/3وزن لومړني ابتدایي مکتب ویلو انډیکس ته ورکول کېږي ، د بالغ وګړو سواد ته څکه ډېر وزن ورکول کېږي چې په پالیسیو او عملي کارونو کې نسبت ماشومانو ته دوی ډېره ونډه لري نو څکه دوی په اقتصادي پرمختګ ډېره اغیزه لري.

د سواد اندیکس = (باسواده بالغان / مجموعي بالغ نفوس) + ۱۰۰

د تعلیم پیلونکی انډیکس = (د هغو شاګردانو شمیر چې په یوه کال کې په ښوونځي کې شامل شوي دي / د ښوونځي د عمر شاګردانو مجموعي شمیر) + ۱۰۰

- دپوهې شاخص (انډیکس)=2/3(د سواد انډیکس)+1/3(د مکتب شمول انډیکس)

په افغانستان کې مکتب ته د ماشومانو د شاملولو کچه ۶۷٪ته اوچته شویده، مګر د ښځینه ماشومانو د مکتب شمول کچه ۴۰٪ ده (25). نا ویلي دې پاتې نه شي چې دغه شمیرې د انتقالي حکومت د دوران دي او پخوانۍ شمیرې لدې څخه هم کښته دي .

۳) دژوند سطحه (سطح زندګي)کومه چې اندازه کېږي په في نفر عاید سره (عمومي عاید تقسیم د یوه هیواد د نفوس).

په کال (2004/05 )۱۳۸۳ کې د افغا نستان ټول نا خالص تولید (GDP) 5,683 ملیونه امریکایي ډالره و او په همدې کال کې د افغانستان نفوس ۲۶ملیونه و نو په دې حساب سره د افغانستان د نفر د سر عاید (Per capita GDP) ۲۱۸ امریکایي ډالره راځي . په همدې ډول سره د کال (2005/06)1384 لپاره د افغانستان ناخالص تولید (GDP) 7,058 ملیونه امریکایي ډالره اټکل (تخمین) شویدی او په دې کال کې د افغانستان

25- د UN راپور د بشري حقوقو په اړوند، دي نیوز ورځپاڼه، اکتوبر 30/2005

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفوس ۲۸ ملیونه اټکل شوی چې د نفر د سر عاید تقریبا ۲۵۲ امریکایي ډالره راځي (26)

.

د پورته دریو انډیکسونو له یو ځای کولو څخه په لاندی ډول سره د بشري پرمختګ انډیکس په لاس راځي:

د بشري پرمختګ انډیکس(**HDI**)=1/3(د عاید انډیکس) +1/3(احتمالي ژوند انډیکس) +1/3(د پوهې انډیکس)

ځنې وخت د بشري پرمختګ د انډیکس په حسابولو کې د ډیموکراسۍ انډیکس هم شاملیږي، د بشري پرمختګ انډیکس همیشه د صفر او یوه په منځ کې راځي

دغه د بشري پرمختګ دکچه کولو واحد ټول هیوادونه په دریو برخو ویشي.

a) د ټیټ بشري پرمختګ انډیکس (0-0.4)

b) د اوسط بشري پرمختګ انډیکس(0.5-0.79)

c) د لوړ بشري پرمختګ انډیکس(0.8-1.0)

له بده مرغه چې د افغانستان په اړوند بشپړه ډیټا نه ده موجوده نو ځکه د افغانستان د بشري پرمختګ انډیکس د نړۍ په لست کې وجود نه لري کوم معلومات چې ما کولی شوی تر لاسه کړم هغه مې پورته ذکر کړیدي . د نورو اسلامي هیوادونو د بشري پرمختګ په بنا طبقه بندي په لاندې ډول ده: (27)

.دغه طبقه بندي د ۲۰۰۲ کال د ډیټا په بنا شویده، نا ویلې دې پاتې نه شي چې دغه شمیره په نړیواله سطحه شویده او د بشري پرمختګ په بنا دیوه هیواد نمبر یا شمیره ښیي. په دغه لاندې لست کې یوازې اسلامي هیوادونه شامل دي او دا لست له انټرنیټ څخه د undp د بشري پرمختګ له راپور څخه را اخستل شویدی. د ټولې نړۍ د

---

[26]-دغه معلومات د محترم ورو ضیاالرحمن څخه تر لاسه شوي چې د مالیې په وزارت کې د مالیاتو په برخه کې کار کوي. د افغانستان د مالي چارو په اړوند د نورو معلوماتو لپاره په دغه www.imf.org ویب پاڼه کې د افغا نستان برخه کتلې شی .

[27]- د انترنیټ لاندې پته د بشري پرمختګ د راپور لپاره کارولی شي:
http://hdr.undp.org/docs/statistics/indices/hdi_2004.pdf



هیوادونو راپور (اقتصادي پرمختګ لست) په لاندې پته په انټرنیټ کې کتلی شی.

| شمیره | د هیواد | له زیږون (تولد) نه وروسته احتمالي ژوند | د لویانو د سواد کچه (%) | ناخالص تولید د نفر په سر | د احتمالي ژوند انډیکس | د پوهنې انډیکس | د ناخالص تولید انډیکس | د بشري پرمختګ انډیکس (HDI) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لوړ بشري پرمختګ لرونکي اسلامي هیوادونه: | | | | | | | | |
| ۳۳ | برونـــاي دارالسلام | 76.2 | 93.9 | 19210 | 0.85 | 0.87 | 0.88 | 0.867 |
| 40 | بحرین | 73.9 | 88.5 | 17170 | 0.81 | 0.85 | 0.86 | 0.843 |
| 44 | کویت | 76.5 | 92.9 | 16240 | 0.86 | 0.81 | 0.85 | 0.838 |
| 47 | قطر | 72 | 84.2 | 19844 | 0.78 | 0.83 | 0.88 | 0.833 |
| 49 | متحـده عربـي امارات | 74.6 | 77.3 | 22420 | 0.83 | 0.74 | 0.90 | 0.824 |
| د اوسط بشري پرمختګ لرونکي اسلامي هیوادونه: | | | | | | | | |
| 58 | لیبیا | 72.6 | 81.7 | 7570 | 0.79 | 0.87 | 0.72 | 0.794 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 59 | مالیزیا | 3V | 88.7 | 9120 | 0.80 | 0.83 | 0.75 | 0.793 |
| 65 | البانیا | 73.6 | 98.7 | 4830 | 0.81 | 0.89 | 0.65 | 0.781 |
| 66 | بوسـنیا او هرزګوینا | 74.0 | 94.6 | 5970 | 0.82 | 0.84 | 0.86 | 0.781 |
| 74 | عمان | 72.3 | 74.4 | 13340 | 0.79 | 0.71 | 0.82 | 0.770 |
| 7V | سعودي عربستان | 72.1 | 77.9 | 12650 | 0.79 | 0.71 | 0.81 | 0.768 |
| 78 | قزاقستان | 66.2 | 99.4 | 5870 | 0.69 | 0.93 | 0.68 | 0.766 |
| 80 | لبنان | 73.5 | 86.5 | 4360 | 0.81 | 0.84 | 0.63 | 0.758 |
| 84 | مالدیف | 67.2 | 97.2 | 4798 | 0.70 | 0.91 | 0.65 | 0.752 |
| ٨٨ | ترکیه | ٧٠،٤ | ٨٦،٥ | ٦٣٩٠ | ٠،٧٦ | ٠،٨٠ | ٠,٦٩ | ٠،٧٥١ |
| 86 | ترکمنستان | 66.9 | 98.8 | 4300 | 0.70 | 0.93 | 0.63 | 0.752 |
| 90 | اردن | 70.9 | 90.9 | 4220 | 0.76 | 0.86 | 0.62 | 0.750 |
| 91 | آذربایجان | 72.1 | 97.0 | 3210 | 0.78 | 0.88 | 0.58 | 0.764 |
| ٩٢ | تونس | 72.7 | 73.2 | 6760 | 0.79 | 0.74 | 0.70 | 0.745 |
| 101 | ایران | 70.1 | 77.1 | 6690 | 0.75 | 0.74 | 0.70 | 0.732 |
| ١٠٢ | فلسطین | 72.3 | 90.2 | | 0.79 | 0.86 | 0.52 | 0.726 |
| 106 | سوریه | 71.7 | 82.9 | 3620 | 0.78 | 0.75 | 0.60 | 0.710 |
| 107 | ازبکستان | 69.5 | 99.3 | 1670 | 0.74 | 0.91 | 0.47 | 0.709 |
| 108 | الجزایر | 59.5 | 68.9 | 5760 | 0.74 | 0.69 | 0.68 | 0.704 |
| ١١٠ | قیرغیزستان | 68.6 | 97.0 | 1620 | 0.72 | 0.92 | 0.46 | 0.701 |
| 111 | اندونیزیا | 66.6 | 87.9 | 3230 | 0.69 | 0.80 | 0.58 | 0.692 |
| 116 | تاجکستان | 68.6 | 99.5 | 980 | 0.73 | 0.90 | 0.38 | 0.671 |



| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١٢٠ | مصر | 68.6 | 55.6 | 3810 | 0.73 | 0.62 | 0.61 | 0.653 |
| ١٢٥ | مراکش | 68.5 | 50.7 | 3810 | 0.72 | 0.53 | 0.61 | 0.620 |
| 138 | بنګلدیش | 61.1 | 41.1 | 1700 | 0.60 | 0.45 | 0.47 | 0.509 |
| 139 | سوډان | 55.5 | 59.9 | 1820 | 0.51 | 0.52 | 0.48 | 0.505 |
| دټیټ یا لږ بشري پرمختګ لرونکي هیوادونه | | | | | | | | |
| 142 | پاکستان | 60.8 | 41.5 | 1940 | 0.60 | 0.40 | 0.49 | 0.497 |
| 149 | یمن | 59.8 | 49.0 | 870 | 0.58 | 0.50 | 0.36 | 0.482. |
| 151 | نایجیریا | 51.6 | 66.8 | 860 | 0.44 | 0.59 | 0.36 | 0.466 |

د لږ بشري پرمختګ لرونکو اسلامي هیوادونو شمیره زیاته ده او زیاتره غریب افریقایي هیوادونه[سینګال، تانزانیا ، ګمبیا ، ګیني بیساو، ایتوپیا ، سیرالیون]په کې شامل دي. لکه څرنګه مو چې مخکې یادونه وکړه د افغا نستان په اړوند د اړتیا وړ دیټا نشته نو ځکه افغا نستان په دغه لست کې ځای نه لري مګر بیا هم افغا نستان د هغو هیوادونو په ډله کې راځي چې د لږ بشري پرمختګ انډیکس لرونکي دي (وروسته پاتي هیوادونه)، که چیرې مونږ د بشري پرمختګ د انډیکس په حساب د هیوادونو طبقه بندي د کال ١٩٩٧او ٢٠٠٢ سره پر تله کړو دا به جوته شي چې زیاتره اسلامي هیوادونه په شا تللي [کویت د ٣٥ نمبر څخه ۴۴ ته تللی دی او پاکستان د ١٣٨ نمبر څخه چې د اوسط بشري پرمختګ په ډله کې راځي ١۴٢ نمبر ته په شا شوي چې په لږ بشري پرمختګ لرونکو هیوادوکې وشمیرل شي] د اسلامي هیوادونو له جملې څخه یوا زې سوډان او بنګلدیش پر مختللي دي او د اوسط بشري پرمختګ د انډیکس لرونکو هیوادونو په ډله کې حساب شوي دي.[سوډان د ١۴٢ نمبر څخه ١٣٩ ته پورته شوی، بنګلدیش د ١۵٠ نمبر څخه ١٣٨ نمبر ته ختلی دی دغه دواړه هیوادونه وړاندې په لږ بشري پرمختګ لرونکو هیوادونو کې شامل وو]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرمختګ د اسلام له نظره :

ډاکتر عبدالرحمان يسري په کال ۱۹۸۱ کې اقتصادي پر مختګ د قرآنکريم د ۲۹مې سپارې د سوره نوح د لاندنيو آيتونو په رڼا کې بيان او څرګند کړ ويې ويل:

په اقتصادي معامله کې ګناه مه کوئ يعنې ربا ، احتکار، غرر او داسې نور ناروا اعمال پريږدئ او په دې اړوند د الله (ج) څخه معافي وغواړئ (توبه و باسئ) له ګناه څخه ليرې لاړشئ نو الله (ج) به دغه ټول کړاونه او ستونزی حل کړي او اقتصادي پر مختګ به مينځ ته راشي او امت به د پخوا ني اسلامي دوران غوندې اقتصادي پرمختګ وکړي.

نوموړي اقتصاد پوه دغه پورتنی مطلب له لاندې آيت شريف څخه اخستی دی:

[فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً (نوح10) يُرْسِلْ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً (نوح11) وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً]

ترجمه: نو ومې ويل دوی ته ببښنه وغواړئ له ربه خپله بيشکه هغه (الله(ج)) دی ډېر ببښونکی، راوبه ليږي باران پر تاسې باندې ډېر اوريدونکی (باران) او در ډېروي کومك به کوي له تاسې سره په مالونو او زامنو سره او وبه ګرځوي تاسې ته باغونه او و به ګرځوي تا سوته ويالې .

نوموړي اقتصاد پوه په کال ۱۹۹۱ کې د اقتصادي پر مختګ بل تعريف په دې ډول وکړ: پرمختګ په ټولنيزاو اقتصادي چاپيريال کې يو ساختماني بدلون دی چې د اسلامي قوانينو(شريعت)او اخلاقي ارزښتونو(عقيدې) په نظرکې نيولو سره صورت نيسي او ورسره په يو وخت کې د مادي او معنوي اهدافو تر منځ د لازمې موازنې په پام کې نيولو سره د عظمي او ممکن غوره توليد او وسايلو د په ځای استعمال پخاطر له بشري توليدي قوې او موجودو وسايلو څخه اعظمي کاراخستنه او استعمال يې.

اسلام مونږ ته حکم کوي چې ټول وسايل په موثر ډول په کار واچوو، خو له بده مرغه چې په اوسني حالت کې اسلامي هيوادونه داکار نه کوي، بلکه نور رنځونه لکه رشوت اخستنه او اداري فساد په کې زيات دي. په يوه حديث کې راځي

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلًا مِنْ الْأَنْصَارِ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُهُ فَقَالَ لَكَ



فِي بَيْتِكَ شَيْءٌ قَالَ بَلَى حِلْسٌ نَلْبَسُ بَعْضَهُ وَنَبْسُطُ بَعْضَهُ وَقَدَحٌ نَشْرَبُ فِيهِ الْمَاءَ قَالَ ائْتِنِي بِهِمَا قَالَ فَأَتَاهُ بِهِمَا فَأَخَذَهُمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ مَنْ يَشْتَرِي هَذَيْنِ فَقَالَ رَجُلٌ أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمٍ قَالَ مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا قَالَ رَجُلٌ أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمَيْنِ فَأَعْطَاهُمَا إِيَّاهُ وَأَخَذَ الدِّرْهَمَيْنِ فَأَعْطَاهُمَا الْأَنْصَارِيَّ وَقَالَ اشْتَرِ بِأَحَدِهِمَا طَعَامًا فَانْبِذْهُ إِلَى أَهْلِكَ وَاشْتَرِ بِالْآخَرِ قَدُومًا فَأْتِنِي بِهِ فَفَعَلَ فَأَخَذَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَدَّ فِيهِ عُودًا بِيَدِهِ وَقَالَ اذْهَبْ فَاحْتَطِبْ وَلَا أَرَاكَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا فَجَعَلَ يَحْتَطِبُ وَيَبِيعُ فَجَاءَ وَقَدْ أَصَابَ عَشْرَةَ دَرَاهِمَ فَقَالَ اشْتَرِ بِبَعْضِهَا طَعَامًا وَبِبَعْضِهَا ثَوْبًا ثُمَّ قَالَ هَذَا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَجِيءَ وَالْمَسْأَلَةُ نُكْتَةٌ فِي وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَصْلُحُ إِلَّا لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ أَوْ لِذِي غُرْمٍ مُفْظِعٍ أَوْ دَمٍ مُوجِعٍ (28)

ترجمه له انس بن مالك رضي الله عنه څخه روايت دی چې له انصارو نه يو سړی نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغی سوال يې ترينه کولو، نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: په کور کې دې څه شته؟ هغه وويل هو يو لمڅی دی په يوه برخه يې ځان پټوو، او يوه برخه يې په ځمکه غوړوو، او يو جام دی په هغه اوبه کې څښو، ويې فرمايل هغه دواړه ما ته راوړه، انس رضي الله تعالی عنه وايي نو دواړه يې ورته راوړل، نبي عليه السلام په خپل مبارك لاس کې واخيستل، بيا يې وفرمايل: څوك دا دواړه اخلي، يوه سړي وويل زه يې په يو درهم اخلم، بيا يې دوه که درې ځلې وفرمايل: څوك يې له دې نه په زيات قيمت اخلي؟ يوه سړي وويل زه يې په دوه درهمه اخلم، نو هغه ته يې ورکړل او دوه درهمه يې واخيستل او هغه انصاري ته يې ورکړل او ورته ويې ويل: په يوه خپل کور ته خواړه واخله او په بل يو تبر واخله او ما ته يې راوړه، هغه همداسې وکړل، نبي کريم صلی الله عليه وسلم په تبر کې په خپل مبارك لاس لاستی واچولو او ورته ويې ويل ځه د لرګو کار کوه او پنځه لس ورځې دې ونه ګورم، هغه سړي د لرګو کار پيل کړ او خرڅول به يې، کله چې راغی لس درهمه يې ګټلي وو، نو نبي عليه السلام ورته وفرمايل: په يو څه يې خواړه او په يو څه يې جامې واخله، بيا يې وفرمايل: دا تاته له هغه نه ښه دی چې په

[28]- المصدر: سنن ابن ماجه، الكتاب:التجارات ، الباب: بيع المزايده ، رقم الحديث: ۲۱۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ دقيامت راشي او سوال دي په مخ کې داغ وي ، سوال کول د سختې خوارۍ، درونډ پور او دردونکې وينې (ديت) له ښبنتن نه پرته د بل چا لپاره وړ نه دی.

په يوه بل حديث شريف کې راځی:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا فَإِنْ لَمْ يَزْرَعْهَا فَلْيُزْرِعْهَا أَخَاهُ (29)

ترحمه: له جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ځوک چې ځمکه ولري ويې دې کري، که يې نه کري، نو خپل مسلمان ورور ته يې دې ورکړي چې ويې کري.

له پورتنيو احاديثو څخه دکار کولو، حلال رزق ګټلو او د وسايلو د موثر استعمال اهميت څرګندېږي او اقتصادي پرمختګ هم په کار او د وسايلو په موثر استعمال پورې تړاو لري.داسلام له نظره اقتصادي پر مختګ بايد داسې وشي چې د مادي او روحي اړتياوو تر مينځ تعادل برقرار وي ځکه چې د سالم او کامياب ژوند لپاره دا دواړه ضروري دي ځنې خلك په دې نظر دي چې مسلمانان بايد آخرت ته ډير پام وکړي او په دنياوي کارونو ډير وخت ونه لګوي ، زه دا منم چې د مسلمانانو اصلي هدف آخر ت دی مګر د آخرت تر لاسه کول هم زمونږ ددنيا په ژوند پورې تړلی دی لکه امام غزالي(رح)چې وايي: ،،خراب الدنيا خراب الدين لان الدنيا مزرعة الاخرة ،، ژباړه : ددنيا خرابي د دين خرابي ده ځکه دنيا د آخرت توښه ده.

او که مونږ په دنيا کې ښه ژوند ولرو نود آخرت د ښه کېدلو مواقع مو زياتې دي دا په هغه صورت کې چی که چيرې د الله په لاره کې خپلې پيسې ولګوو . د اسلام له نظره د يو شخص لګښت يا مصارف د لاندې ګراف په مرسته ښود ل کيدی شي.په دغه شکل کې:

29- المصدر: صحيح مسلم، الكتاب: البيوع، الباب: كراء الارض، رقم الحديث: ٢٨٦٢






مونږ ګورو چې نوموړی شخص بايد د دنيوي او اخروي لګښتونو په مينځ کې انتخاب وکړي که مونږ فرض کړو (30) د هغه صغری دنيوي اړتياوې(W), اوصغری اخروي اړتياوې (P) وي نو د هغه شخص د مصارفو د پيل نقطه (e) راځي . اوس د نوموړي شخص لپاره دوه لارې شته يوه دا چې د عايد له زياتيدو سره خپل لګښت په مادي اړتياوو زيات کړي يعنې د (e) له ټکي څخه پورته په افقي ډول سره د (P) په لور حرکت وکړي او روحي اهداف(د الله په لاره کې مصارف) په پخوانۍ صغری نقطه کې پريږدي دوهم دا چې دومره دنيوي لګښت وکړي چې دده د ژوند بقا وربانديې وشي او نور وخت او پيسې د الله په لاره کې ولګوي يعنې د (e) له ټکي څخه پورته د (W) په لور عمودي ډول حرکت وکړي .مونږ بايد دا په پام کې ولرو چې د الله په لاره کې لګښت د مادي اړتياوو د ترلاسه کولو له لګښت څخه ډير ارزښت (ثواب) لري مګر لکه څرنګه مو چې وړاندې عرض وکړ د دنيوي ژوند لپاره هم مصارفو ته اړتيا شته او بهتره لاره د روحي او مادي اهدافو په منځ کی

30- د روحي او مادي اهدافو ټاکنه هر شخص په خپله ښه کولی شي او د هر شخص لپاره مختلفه پايله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسط لګښت دی یعني په پورته ګراف کې eb وکتور په لاره باندې تلل غوره دي، چې د دنیا او آخرت دواړو بریالیتوبونه ترلاسه شي (في الدنیا حسنة وفي الاخرة حسنة)

## څرنګه پرمختګ؟

په غربي او نورو غیر اسلامي هیوادونو کې د اقتصادي پرمختګ تر څنګ خلکو خپله عقیده اعمال اوکلتور هم بدل کړ او خپل کلتور یې له پامه وغورځولو لادینیت یې قبول کړ، دغه شان پرمختګ مسلمانانو ته دقبول وړندي.

د پرمختګ په اړوند لاندې درې نظریې وجود لري:

1. خپل ځان د غربیانو په شان تبدیل کړی یعنې څه چې هغوی کوي هغه تاسو هم وکړئ کومې اقتصادي تیورۍ چې هغوی په کار اچوي تاسو هم همغه وکاروئ. مګر مونږ په دې پوهیږو چې د طبیعي او اجتماعي علومو تر مینځ ډېر توپیر وجود لري طبیعي فارمولې په ټوله نړۍ کې یو شان دي مثلا: هایدروجن او آکسیجن چې سره یو ځای شي اوبه جوړیږي دا په امریکا او افغانستان کې یو شان نتیجه ورکوي مګر اجتماعي علوم چې اقتصاد هم له هغې جملې څخه دی یوه تیوري شاید په یوه ځای ((غرب)) کې ښه نتیجه ورکړي مګر په بل ځای کې ((اسلامي هیوادونو او نورو وروسته پاتي هیوادو کې)) شاید موثره او مفیده واقع نه شي. ځکه چې د غربي هیوادونو شرایط او زمونږ د هیوادونو وضعیت او حالات یو برابر ندي او زمونږ د وګړو عادات، عقیده او کلتور د هغوی له وګړو سره زیات توپیر لري. بله اهمه خبره دا ده چې د مسلمانانو عقیده ثابته ده او په عقیده کې بدلون نه راځي نو ځکه مونږ د هغوی دټولو اعمالو پیښې نه شو کولی.

2. دوه ګوني توب یا دوه مخي(Dualism): دا نظریه داسې وایي چې د خپلې ګټې لپاره په غربي اخلاقي اصولو ولاړې غربي تیورۍ د یوې مودې لپاره استعمالولی شو، خو دا د اوږد مهال لپاره ګټور او ممکن کار نه دی. ددې نظریې مطلب دا دی چې د اسلامي او غربي اخلاقو او عاداتو تر مینځ توازن وساتل شي، یو څه غربي اصول او څنې خپل اصول په کار واچوو خو ددې بده اغیزه دا ده چې اخلاق او کلتور سره ګډوډوي او د



اسلامي ټولنې د ناراحتۍ لامل ګرځي.

3. د شریعت مطابق پرمختګ دا داوږد مهال حل دی یعنې مونږ باید خپلې نظریې او تیورۍ ایجاد او تقویه کړو اوپه اسلامي اصولو ولاړې داسې تیورۍ او قوانین جوړ کړو چې زمونږ د هیوادونو دغه اوسنۍ بدبختي اووروسته پاتې والی له مینځه یوسي او له هغو غربي اصولو او قوانینو څخه کار وا نه خلو کوم چې زمونږ له دین سره په ټکر کې دي.

## ځنې غربي اقتصادي تیوریو ته کتنه

د اقتصادي پرمختګ په اړوند ډېرې تیورۍ اونظریې ورکړل شویدي مونږ په دې ځای کې یوازې درې تر څېړنې لاندې نیسو (31):

## د سوسیالیستی اقتصاد پوهانو نظریه:

1. سوسیالیست اقتصاد پوهان په دې نظر دي چې د وروسته پاتې نړۍ د وروسته پاتي کېدو اصلي عوامل پرمختللي او ښکېلاکګر هیوادونه دي چې د خپل تسلط په دوران کې یې ددغو هیوادونو پر شتمنیو باندې قبضه کړې وه او دوی یې اقتصادي پرمختګ ته نه دي پرېښودي، دوی عقیده لري چې وروسته پاتې هیوادونه په اقتصادي ډګر کې په کپیټالستي هیوادونو پوري تړلي دي.

---

[31] د اقتصادي پرمختګ دتیوریو په اړوند د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د Economic development کتاب څلورم فصل چې Michael P.Todaro. لیکلی دی کتلی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






کپيټالستي هيوادونه د نړۍ اقتصادي او مالي مرکز او غريب هيوادونه يې اطراف جوړوي، د غريبو هيوادونو وسايل مرکز ته راوړل کېږي او د هغوی د اقتصادي پرمختګ لپاره استعمالېږي او امير هيوادونه غريب هيوادونه په اقتصادي توګه سره تر خپل کنټرول لاندې ساتي. دوی دا هم وايي چې استعماري هيوادونه اوس هم د وروسته پاتې هيوادونو له وسايلو څخه کار اخلي او پدې اساس ښکېلاک دوام لري ، خو دغه استعمار په پوځي توګه د وروسته پاتې هيوادونو په نيولو سره نه بلکې د نړيوالو کمپنيو (مولټي نيشنل کمپنيز) د مستقيمې او يا غير مستقيمې پانګونې په وسيله تر سره کېږي.

سوسياليست اقتصاد پوهان د وروسته پاتې هيوادونو د پر مختګ په خاطر لاندېني دوه وړانديزونه لري:

**الف:** په ځان متکي اقتصادي پاليسي پداسې ډول سره چې د هيواد د پرمختګ لپاره په خپلو کورنيو وسايلو ډېره تکيه وشي اوپه بهرنيو وارداتو لوړه ماليه ولګېږي تر څو کورني صنعت او فابريکي په پښو ودرېږي او وده وکړي.

پر خپلو وسايلو د تکيه کولو اقتصادي پاليسي ښه ده خو په هغه صورت کې چې د هغې



په وسيله يو هيواد وکولی شي د ملك داخلي وسايل په ښه او موثره توګه وکاروي او په دې وسيله وکولی شي چې خپلې فابريکې په پښو ودروي مګر ددې مقصد لپاره په وارداتو لوړ ټکس لګول يوازې په هغه صورت کې په ځای اقدام دی چې د لنډې مودې لپاره وي خو د اوږدې مودی لپاره داخلي فابريکې بايد ديته وهڅول شي چې له بهرنيو تجارتي کمپنيو يا تجارتي توکيو سره آزاد رقابت وکړي او خپل معيار ښه کړي.

ب: په حکومتي سکتور باندې تکيه کول او د خصوصي سکتور او آزاد مارکېټ د مکانيزم په ځای مرکزي پلان جوړونه، خو په ياد بايد ولرو چې په هر څه حکومتي کنټرول مناسب نه دی د اسلام له نظره د خلکو شخصي آزادي سلبول جواز نلري، د حکومت له خوا د غير مفيدو اقتصادي فعاليتونو کنترول او مخنيوی ګټور تماميږي لکه د انحصار (مناپولي) او داسې نورو له مينځه وړل او مخنيوی.

دغه تيوري سره له دې چې يو شمير ښه او ګټور اړخونه لري خو په ځينو هيوادونو کې د سياسي حربې په توګه وکارول شوې نو ښه نتيجه يې ورنکړه او هغه هيوادونه بيا د آزاد مارکېټ د ميکانيزم لوري ته لاړل. بله دا چې زياتره غريب هيوادونه ددې توان نه لري چې په موثر ډول سره خپل وسايل وکاروي او خپلو هيوادوالو ته دکار شرايط برابر کړي نو څکه دوی مجبور دي چې بهرنۍ پانګونې ((نړيوالې کمپنۍ)) ته په خلاص زړه ځای ورکړي سره له دې چې هغوی زياتره په لومړنيو توکيو کې پانګه اچوي کوم توکې چې د دوی دکمپنيو د چلښت لپاره پکار وي او وروسته پاتې هيوادونو ته پر مختللې ټکنالوژي چې د اقتصادي پرمختګ لپاره اړينه ده په ډېره کمه اندازه نقلوي.

## نيمګړې نمونه (The False-Paradigm Model)

دا د پرمختګ د نړيوال تکيه توب د تيورۍ دوهم شکل دی دغه نظريه ډېره انقلابي نه ده لکه څومره چې لومړنی ماډل و. ددغې ماډل له مخې د غريبو هيوادونو د وروسته والي اصلي لامل د پرمختللو هيوادونو له خوا د غلطو او غير مناسبو مشورو ورکول دي، بله دا چې د وروسته پاتې هيوادونو د حکومتونو زياتره لوړ پوړي چارواکي او اقتصاد پوهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غربي هیوادونو کې روزل شوي او لوړ تحصیلات یې په هغو هیوادونو کې کړیدي چې له غربیو هیوادونو سره د ځمکې او اسمان توپیر لري، نو ځکه دوی د خپلو هیوادونو په مشکلاتو او اقتصادي اړتیاوو سم نه پوهیږي او دا ډله کو شش کوي چې همغه اقتصادي نظریې او قوانین دلته هم پلي کړي په داسې حال کې چې په دې هیوادونو کې د پرمختللو نظریاتو د پلي کولو لپاره شرایط برابر نه وي او د هغو مغلقو او پیچلو ماډلونو او نظریو په پلي کولو سره د توقع وړ نتایج لاسته نه راځي . ځکه د غربیو هیوادونو جوړښت او ټولنه د پرمختللو هیوادونو سره توپیر لري. دغه نظریه حقیقت ته ډېره نژدې ده د بیلګې په توګه زمونږ په هیواد افغانستان کې مونږ نشو کولی چې په پوره ډول سره هم هغه نظریه عملي کړو کومه چې په غربي هیوادونو کې پلي شویده ،شاید چې دغه تیوري او ماډلونه به د هغو لپاره صحیح وي خو مونږ نشو کولی چې ټوله نظریه بې له قیده اوشرطه دلته پلې کړو ځکه زمونږ ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده او ځان ته اصول او قواعد لري او که هغه په پام کې ونه نیول شي نو بد عواقب به ولري لکه د مرحوم امان الله خان پاچا د چټک اقتصادي پرمختګ د پالیسیو په مقابل کې چې افغانانو عکس العمل وښود په همدغه شکل که غربي اقتصادي نظریه زمونږ په حکومت باندې په لنډ وخت کې وتپل شي ښه عواقب به ونه لري. متاسفانه زمونږ په هیواد کې چون قدرت د مرکزي حکومت په لاس کې نه دی هره غیر دولتي موسسه او بهرني حکومتونه د ښځو د مساوي حقوقو او آزادۍ ډنډورې غږوي او هر اړخ د خپلې خوښې او اهدافو مطابق د ښځو له آزادۍ او حقوقو نه ځانګړې تعبیر لری بیله دې چې اسلامي اصول او زمونږ کلتور او دود په نظر کې ونیسي.

افغانان اوس په ډېرو بدو شرایطو کې ژوند کوي او په لومړي قدم کې باید نور اړین مشکلات حل کړی شي او وروسته دې خواته لاړ م او مناسب پام وکړي او که اوس دې خبرو ته ډېره توجه وشي دا به د هغه متل سره برابره خبره وي چې وايي: ″یو د لوږې څخه مري او بل یې په سر پورې پراټې ګوري″.



## ۲) د متوازنې ودې تیوري

دغه تیوري د ښاغلي ر. نورکسه او ر.روډن (R.Rodan, او R.Nurkse ) له خوا وړاندې شویده، دوی وايي چې د غریبو هیوادونو د نه پرمختګ علت د یوه معاصر صنعتي سکتور نه موجودیت دی. اوس سوال دا دی چې یو وروسته پاتې هیواد څرنګه کولی شي پرمختګ وکړي؟ دا په تدریجي ډول سره هم شونې ده ځکه چې ځنې اقتصاد پوهان فکر کوي چې په ټولو سکټرونو کې د متوازنې ودې له ستراتیژۍ پرته د یوه هیواد صنعتي کېدل ناشوني دي پدې معنی چې په یوه وخت کې مختلفې فابریکې جوړې شي ترڅو د یوې او بلې د اړتیا وړ شیان تولید شي ځکه د یوې فابریکې تولیدي توکي ځنې وخت د بلې فابریکې خام مواد تشکېلوي، نو دغه د متوازن رشد ، انکشاف یا پرمختګ تیوري یو ه″ لویه ټیله″ (Big Push) ښیي یعنې په یوه وخت کې ډېرې فابریکې جوړول او په لویه پیمانه پانګونه اچول دغه کار به دغریبو هیوادونو وروسته پاتې والی له منځه یوسي.د ۱۹۶۰ کلونو په دوران کې د پرمختګ دغې تیورۍ د ډېرواقتصاد پوهانو او پالیسۍ جوړونکو نظر ځانته راجلب کړ او غریبو هیوادونو هیله کوله چې په دې وسیلې سره به دوی له وروسته پاتې والي څخه نجات پیداکړي. خو په عمل کې ددې تیورۍ پلي کول ډېرګران وو ځکه ددې تیورۍ مطابق باید په لویه پیمانه پانګونه وشي او دا ډېرو پیسو ته اړتیا لري څرنګه چې په غریبو هیوادونو کې د بسپنې کچه ډېره کمه ده نو ځکه دوی د اړتیا وړ پیسې نه لري. ځینو اقتصاد پوهانو ددې حل دا وګڼلو چې له نورو هیوادونو څخه پور واخلي، دغه پور اخستنې دتوقع وړ نتایج تر لاسه نه شوای کړی او غریب هیوادونه نور هم دسودي پور تر بوج لاندې راغلل او دغه عمل (سودي پور)ددې هیوادونو اقتصادي پرمختګ نور هم ګران کړ.ځکه په ډېرو هیوادونو کې هغه پیسې چې د پور په ډول له بهرنیو هیوادونو څخه تر لاسه شوې وې په سم ډول سره ونه کارول شوې او په ځینو هیوادونو کې چارواکو په خپلو جیبونو کې واچولې.له بله پلوه وروسته پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادونه په اقتصادي توګه دیته نه دي تیار چې په یو ځل ډېرې زیاتې پیسې په سمه توګه وکارولی شي، ځکه دوی روزل شوی بشري ځواك نـلري او که پر مختللې ټکنالوژي او فابریکې تر

لاسه هم کړي د هغې د چلونې لپاره بشري قوا نه لري، د وروسته پاتې هیوادونو مثال د یوه وړوکي ماشوم دی څرنګه چې ماشوم هم په یو ځل زیات خواړه نشي هضمولی همدغه شان وروسته پاتې هیوادونه هم په یو ځل پرمختګ ((یو دم ډیرې پیسې او ډیره پانګونه په موثر ډول نشي استعمالولی)) نشي کولی بلکې په تدریجي ډول سره دا کار شونی دی.

## د اقتصادي پرمختګ د غربي تیوریو په اړه څو وروستۍ خبرې:

هیڅوک له دې څخه سترګې نه شي پټولی چې غربیانو په ټولو علمي برخوکې ډېر پرمختګ کړیدی او مونږ هم د دوی له علومو څخه د قدر وړ استفاده کولی شو خو مونږ باید په دې پوه شو چې اقتصادي علوم او تیوري د فزیکې علومو په شان نه دي چې یوه فارموله او ماډل په هر ځای کې یوه نتیجه ورکړي, هغه که امریکا وي او که افغانستان د مثال په توګه د هایدروجن او آکیسجن دیوځای کولو څخه اوبه مینځ ته راځي، خو په اجتماعي علومو کې خبره داسې نه ده ځکه چې د مختلفو هیوادونو د وګرو دود او کلتور سره مختلف دی او همدارنګه اقتصادي حالات هم ډېر توپیر سره لري نو ځکه ډیر داسې پیښیږي چې یوه اقتصادي تیوري په یوه ځای کې ډېره ګټوره وي مګر په بل هیواد کې هغه رنګه نتیجه نه ورکوي. دغه مطلب په لاند ټکو کې خلاصه کولی شو:

- کومې اقتصادي تیورۍ چې غربیانو جوړې کړیدي هغه د هغوی د هیوادونو د حالاتو او د عوامو د ارزښتونو اوکلچر په بنسټ جوړې شویدي او هغه تیورۍ په بشپړه توګه په اسلامي هیوادونو کې د پلي کولو وړنه دي او که پلي هم شي بیا د توقع وړ نتیجه نه ورکوي.



- د اسلامي هیوادونو ډېر اقتصاد پوهان او پالیسي جوړونکي چې په حکومتي چاروکې فعال رول لوبوي څرنګه چې دوی په غربي او پر مختللو هیوادونو کې زده کړې کړې او هملته روزل شویدي، نو دوی په دې هڅه کې وي چې همغه غربي تیوري په خپلو هیوادونو کې پلې کړي او بله دا چې دوی ددې هیواد د ټولنیزو او دیني مسائلو په اړه بنه معلومات نه لري نو ځکه دې اړخ ته د اړتیا وړ توجه نه کوي چې په دې وجه د دوی هلې ځلې موثرې او ګټورې نه تمامیږي.

- د غربي هیوادونو د متخصیصنو لخوا د وړاندې شوو هغو پالیسیو او مشورو پلي کول چې زمونږ له کلتور او دیني اصولو سره په ټکر کې دي د اقتصادي پر مختګ پر ځای د کورنۍ اړې دوړې د رامینځ ته کېدو سبب ګرځي.

- د اسلامي هیوادونو د وروسته پاتې کېدو اصلي عامل دا دی چې دوی خپل وسایل په موثر ډول سره نه کاروي او ددې تر څنګ دوی موثره او تریننګ (روزل) شوي بشري قوه نه لري نو دوی باید د بشري قوی یا ځواك خوا ته ډیره پاملرنه وکړي. ځکه که مونږ پرمختللې ټکنالوژي پیدا هم کړو د هغې دکارولو او چلولو لپاره به بیا هم د نورو هیوادونو متخصصینو ته اړ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم فصل

## د اسلامي هیوادونو ترمینځ اقتصادي همکاري (ائتلاف) (32)

د یو ګروپ هیوادونو تر مینځ اقتصادي همکاري یا ګډه مرسته د پوره اقتصادي اتحاد معنی ورکوي . اقتصادي اتحاد په دوه ډوله دی، بشپړ اقتصادي ائتلاف او جزوي یا غیر کامل اقتصادي اتحاد. په بشپړ اقتصادي ائتلاف کې ګډ مارکېټ، آزاده سوداګري، ګډه اقتصادي مرسته او داسې نور ټول شامل دي او په انفرادي ډول سره دا په غیر مکمل اقتصادي اتحاد یا په تدریجي اقتصادي اتحاد کې شاملېږي.

د اسلام له نظره هر هغه کوښښ د منلو او ستایلو وړدی چې په هغې سره د اسلامي هیوادونو تر مینځ اړیکې ښې کیږي او د مسلمانانو تر مینځ د یووالي سبب شي. الله تعالی په قرا ن کریم کې فرمایي:

[ وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللهَ إِنَّ اللهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ] (المائدة 1)

ترجمه: .....او مرسته کوئ تاسې یو تر بله په نیك کار او تقوی کې او مه کوئ تاسې مرسته (مدد) یو تر بله په ګناه او په عدوان(ظلم تجاوز).

په دغه مبارك آیت کې الله تعالی مسلمانانو ته امر کړی چې یو له بل سره د خیر په کارکې مرسته وکړي او په بد عمل کې له مرستې څخه منع کړی شویدي.

په بل آیت شریف کې فرمایي :

[إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِي ] (الأنبياء 91)

---

[32] -دغه ټول فصل د ښاغلي دکتور عبدالرحمان یسري د کتاب( Studies in the Science of Islamic Economics) د دولسم فصل څخه را اخستل شوی ،او ددغه موضوع عنوان دی Forward Positive Economic Integration Among Islamic Countries



په دغه آیت کې ویل شوي چې ټې شکه ستاسې امت یو واحد امت دی، یعنې ټول مسلمانان باید سره یو وي او په خپلو مینځونو کې سره اتفاق او یووالی ولري .یووالی له اقتصادي همکارۍ نه غوره دی ځکه په یووالي کې اقتصادي همکاري هرومرو شامله ده مګر په اقتصادي همکارۍ کې د یووالي شاملیدل حتمي نه دي.

د اسلامي هیوادونو تر مینځ د اقتصادي یووالي((ائتلاف او همکارۍ)) لپاره باید دا په پام کې ونیول شی چې هیڅ هیواد دا حق نه لري چې د غیر اسلامي هیوادونو په شان داسې اقتصادي اصول او طریقې وکاروي چې خپل ګاونډي اسلامي هیواد ته زیان ورسوي، بلکې باید داسې لارې چارې ولټول شي چې دواړو هیوادونو ته په کې ګټه وي او که چیرې بیاهم داسې یو هیواد پیدا شي چې د بل مسلمان هیواد په زیان اقتصادي پالیسي وکاروي هغه باید له اقتصادي اتحاد څخه لیرې کړی شي.ددې تر څنګ باید یوه مناسبه لار (ستراتیژي) تیاره شي او په لویه پیمانه په ټولو هغو هیوادونو کې پلی کړی شي چې په دغه اقتصادي اتحادیه کی غړیتوب لري. ددې تر څنګ تجارتي، مالي او پولي پالیسۍ باید د اسلامي قوانینو او احکامو په رڼا کې جوړې شي او په پټو سترګو باید د غربي تیوریو په پلي کولو پسې منډې ونه وهل شي، کومې چې یوازې د دوه اړخیزې ګټې په خاطر پلي کېږي او روا او ناروا ته پکې پام نه کېږي.

## په اقتصادي برخه کی پر نورو تکیه کول او پایلې یې:

د اوسنۍ اسلامي نړۍ زیاته برخه په نړیواله کچه د غریبو او وروسته پاتې هیوادونو له ډلې څخه شمیرل کېږي او له ټولو هغو مشکلاتو سره لاس او ګریوان دي چې نور غیر اسلامي غریب هیوادونه ورسره مخ دي. د بیلګې په توګه صادرات یې زیاتره خام مواد دي او په لومړنیو تجارتي توکیو باندې تکیه لري او واردات یې خوراکي مواد ، اړین شیان او نور استهلاکي توکي دي او په کمه اندازه تکنالوژي او ماشین آلات تشکیلوي. له دغه تجارتي بڼې څخه دا څرګندیږي چې اسلامي هیوادونه په غربي او غیر اسلامي هیوادونو باندې متکې دي.او دغه اقتصادي تکیه د تاریخي شالید په وسیله نوره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګندیدای شي. په تاریخي ډول سره دا ښکاره خبره ده چې استعماري هیوادونو په اسلامي هیوادونو کې د استعمار په دوران کې او له هغه څخه وروسته د مستقیمې پانګونې او یا مرستې په وسیله سره د هغو خامو او لومړنیو تجارتي توکیو تولید تقویه کړیدی د کومو لپاره چې د دوی فابریکو او خلکو اړتیا لرله.

اسلامي هیوادونه باید په پرمختللو هیوادونو باندې خپله اقتصادي تکیه کمه کړي او په خپل مینځ کې یو له بل سره همکاري وکړي اود خپلو صادراتي توکیو ترکیب باید پراخ کړي. او تر څو پورې چې د اسلامي هیوادونو اقتصاد په غیر اسلامي هیوادونو پورې تړلی وي، تر هغې پورې د اسلامي هیوادونو تر مینځ پیاوړې اړیکې مینځ ته نشي راتلی او اقتصادي یووالی یې مشکل دی.

## اقتصادي یووالي ته لیوالتیا او په مخ کې پراته خنډونه:

په ډیرو اسلامي هیوادونو کې د تیرو دریو لسیزو حالات او داخلي بدلونونه د عوامو له اړخه د اسلامي شرعي اصولو د پلي کولو او د اسلامي امت د یووالي لیوالتیا په ګوته کوی ددې تر څنګ د ځینو اسلامي هیوادونو حکومتونو هم هڅه کړی چې په نړیواله کچه یو اسلامي ځواک جوړکړي. په ډیرو هیوادونو کی نړیوال اسلامي کنفرانسونه جوړشول او یو شمیر نوې اسلامي اداري او ټولنې جوړې شوې. دغه ټولې هڅې ددې ښکاره ثبوت دی چې د اسلامي هیوادونو وګړي او حکومتونه هڅه کوي اسلامي شریعت پلی کړي او خپل پخوانی یووالی او برم بیا تر لاسه کړي .

مګر ددې تر څنګ د اسلامي هیوادونو تر مینځ ډیر سیاسي اختلافات او توپیرونه هم شته چې د ددوی د یووالي او اقتصادي همکارۍ په مخ کې خنډ ګرځي چې ددې ښه بیلګه د عراق ایران جنګ، د افغانستان او پاکستان تر مینځ په سرحدي سیمه لانجه او داسې نور مشکلات دي. زیاتره دا ډول لانجې اسلامي هیوادونو په خپله نه دي جوړې کړی بلکې د استعماري قوتونو او هیوادونو له اړخه ورته جوړ شویدي تر څو خپلو شومو مقاصدو ته پرې ورسیږي، خو مونږ دا ویلی شو کله چې اسلامي نړۍ خپلو اسلامي



اصولو او ارزښتونو ته غاړه کیږدي دغه مشکلات به ورو په ورو کم او حل شي. په هر ډول سره اوس په لنډ وخت کې د اسلامي نړۍ تر مینځ بشپړ اقتصادي اتحاد ناشونی بریښي خو جزوي اقتصادي همکاري او یووالی ممکن دی، د بشپړ یووالي لپاره یو څه وخت ته اړتیا شته. په دې اړوند ځنې غتې پروژې هم په کار اچول شویدي لکه د عربو مشترک مارکیټ او داسې نور مګر ډیرې بریالۍ نه بریښي.

## داقتصادي ائتلاف په مخ کې ولاړ خنډونه:

د اقتصادي ائتلاف په لار کې پراته خنډونه په لاندې ډول دي:

1. په اسلامي هیوادونو کې غیر اسلامي قوانین او ارزښتونه کوم چې په طبیعي ډول سره غیر اسلامي اداري او پالیسۍ پیاوړې او حمایه کوي.
2. په اسلامي نړۍ کی پیاوړی او فعال غیر اسلامي بانکي سیستم کوم چې تر ډیره د غربي نړۍ له بانکي سیستم سره تړلی دی.
3. د اسلامي نړۍ د تجارت اوسنی جوړښت (ترکیب) ،دکوم په بنا چې اسلامي هیوادونه په اقتصادي توګه په غربي هیوادونو تکیه لري.
4. د اسلامي هیوادونو هغه رسمي قوانین کوم چې د کارګرانو آزاده راشه درشه منع کوي او د مسلمانو کارګرو لپاره پکې هیڅ استثنا نشته. مسلمانو کارګرو ته اجازه نشته چې په آزاده توګه له یوه اسلامي هیواد څخه بل اسلامي هیواد ته لاړشي، دا د اقتصادي یووالي او ائتلاف په وړاندې تر ټولو لوی خنډ دی .
5. په اسلامي هیوادونو کې د مسلمانو کار و بار کوونکو یا سوداګرو لپاره د ترجیحي چلند نه موجودیت.

## د اقتصادي ائتلاف (یووالي) لارې:

له پورتني بحث څخه دا نتیجه اخلو چې په اسلامي نړۍ کې یو دم د اقتصادي ائتلاف یا یووالي مینځ ته راتګ ناشونی دی، ځکه د اقتصادي ائتلاف مخالفې قواوې ډیرې دي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ يې له پامه نشو غورځولی.نو کوم اسلامي هيوادونه چې غواړي اقتصادي ائتلاف وکړي بايد لاندينې ټکي په پام کې ونيسي:

لومړی لار: دوی (اسلامي هيوادونه) يو اوږد مهاله مرحله وار پروګرام پيل کولی شي لکه څرنګه چې اورپايي اتحاديې همداسې کړي وو. تر څو په پای کې پوره اقتصادي ائتلاف ته لاره هواره شي. په دې ډول په لومړي پړاو کې آزاده اسلامي تجارتي ساحه جوړيدی شي او بيا په دوهم پړاو کې اسلامي ګمرکي اتحاديه جوړيدي شي اوداسې نور.

دوهمه لار : دا ده چې اسلامي هيوادونه په لومړي قدم کې او مخکې لدينه چې بل څه وکړي د يوې اسلامی استراتيژۍ په وسيلې سره مخالف ځواکونه او د اقتصادي ائتلاف مخالفې قواوې او فعال ځواکونه له مينځه يوسي. په دوهم قدم کې زه دا وړانديز کوم چې اسلامي هيوادونه هغه ټول بنديزونه له مينځه يوسي کوم چې د اسلامي هيوادونو تر مينځ د کارګرو او کپيټل (سرمايې،ماشين آلاتو) د آزاد تګ راتګ مخه نيسي

د اسلامي بشپړ ائتلاف يا يووالي د لاسته راوړلو دريم قدم يا دريمه مرحله (پړاو) د تجارتي ، پولي او مالي پاليسيو د يو کولو پړاو يا مرحله ده او ددې هدف د حاصلولو لپاره پدې کې د پرتو ټولو خنډونو او مشکلاتو له مينځه وړل ضروري دي تر څو د اسلامي هيوادونو پرمختګ او هوساينه ترلاسه شي.د پورته دريو وړاندې شوو وړانديزونو(مراحلو) تشريح په لاندې ډول ده.

## 1. لومړی مرحله :د اقتصادي ائتلاف د اهمو مخالفو قواوو له مينځه وړل:

د اقتصادي ائتلاف ضد اهمې قواوې په حقيقت کې له هغو غير اسلامي قوانينو، ارزښتونو او ادارو څخه سرچينه او مرسته اخلي کوم چې په اسلامي هيوادونو کې اوس شتون لري .ددې په خاطر بايدګړندي قدمونه اوچت شي چې په اسلامي هيوادونو کې اسلامي قوانين او ارزښتونه بيا را ژوندي کړی شي. دا به بابيزه وي چې مونږ د اسلامي هيوادونو تر مينځ د اقتصادي ائتلاف هيله وکړو خو د اسلامي شريعت په عملي کولو



کې وفادار او ربښتيني ونه اوسو.خو دا بايد ووايو چې په پوره ډول سره د شريعت پلي کول يو څه وخت ته اړتيا لري او دا به په تدريجي ډول سره صورت نيسي ، ځکه دم مهال اسلامي هيوادونه له شريعت څخه ليرې پاتې دي او په ټولو اقتصادي چارو کې شرعي احکام پلي کول حتما يو څه وخت ته اړ تيالري. تر اسلامي شريعت لاندې به شخصي شتمني په امن وي، انحصار (مناپولي) ،احتکار او داسې نور اعمال به په ټولنه کې ځای ونه لري، زکات به په موثر ډول سره ټوليږي او مصرفيږي. په اسلامي نړۍ کې به ټولې غير اسلامي اداري او پاليسۍ د پښنو ټينګولو ځای له لاسه ورکړي او د هغې بدیلې اسلامي اداري به يې ځای ونيسي. يوه ډېره خطرناکه پديده چې اوس اسلامي هيوادونه ورسره لاس اوګريوان دي د ټولنيز دوه ګوني توب يا دوه مخی ( Sociological Dualism) پديده ده او هغه په دې ډول سره چې ځنې خلك د اسلام د مبين دين اصول او قوانين له غربي تهذيب، ارزښتونو او اصولو سره ګډوي او له دواړو څخه هر هغه څه چې د دوی خوښ وي اخلي او پلي کوي يې، چې ددغه ډول اعمالو به بيلګه زمونږ د هيواد په پلازمينه (کابل) کې د خلکو په لباس او اعمالو کې ښه ليدل کېږي. د اسلامي او افغاني اصولو او ارزښتونو او کلتور پلي کول ددې له پاره اړين دي چې مونږ په دې وتوانيږو چې په خپله پاليسۍ جوړونه کې خپلواکه و اوسو او د غربي کلتور او ارزښتونو تر اغيزی لاندې نه وو تر څو داسې پاليسۍ جوړې شي چې اسلامي هيوادونه يو له بل ته سره نژدې کړي.

دوهمه مهمه مسئله چې بايد په لومړۍ مرحله کې حل شي هغه په غير اسلامی هيوادونو باندې د اسلامي هيوادونو اقتصادي تکيه ده، مونږ (اسلامي هيوادونه) بايد زيار وباسو تر څو پر غربي او غير اسلامي هيوادونو باندې متکې پاتي نشو خصوصاً په اقتصادي ډګر کې بلکې دوی بايد د وارداتو په عوض فابريکې ( Import Substitution Indusrtries)جوړې کړي .په دې معنی کوم تجارتي توکي چې دوی يې واردوي د هغې د توليد لپاره اسلامي هيوادونه بايد دتوليد فابريکې جوړې کړي . داسلامي قوانينو پلي کول به د سودي بانکونو ټغر هم ورټول کړي،کوم چې د اسلامي اقتصاد د پلي کولو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي ائتلاف ضد لوی خنډ دی.

## 2. دوهمه مرحله: د بشري فکتور آزادي او موبلایزیشن

له بشري فکتور څخه زمونږ هدف انسان دی، په بشري ځواک یا فکتور کې کارګر، تخنیک لرونکي(تکنیشن)، مینجران اداره کوونکي، ساینس دانان او صنعت کاران ټول شامل دي. د مثبت اسلامي اقتصادي ائتلاف (یووالي) لپاره د بشري فکتور آزادي یو اړین شرط دی. داسې که چیرې په اسلامي نړۍ کې د یوه هیواد کارګر وغواړي چې په بل اسلامي هیواد کې کار وکړي نو هغه ته باید هملته د کار کولو اجازه ورکړل شي او په دې سره به دواړه هیوادونه (له کومه چې کارګر ځي او چیرته چې کارکوي) ګټه وکړي ځکه کوم هیواد ته چې کارګر ځي ددې معنی ورکوي چې هلته کارګران کم دي نو د هغوی د فابریکو د چلونې لپاره بهرنیو کارګرو ته اړتیا لیدل کیږي او دغه کارګر به بیا په خپلو هیوادونو کې خپلې کورنۍ په مالي توګه حمایه کوي. متاسفانه چې په اوس وخت کې اسلامي هیوادونه اجازه نه ورکوي کارګران په ازاده توګه له یوه نه بل هیواد ته لاړ شي او په دې وجې سره ډیر تکړه اسلامي علماء، ساینس پوهان، اقتصاد پوهان او نور په لویدیځو هیوادونو کې د کار کولو هڅه کوي او هغوی هم ورته په خپلو هیوادونو کې د اوسیدو شرایط برابروي . ددې پرځای چې نوموړي د اسلامي هیوادونو په پرمختګ کې برخه واخلي د غربي هیوادونو په اقتصادي پر مختګ کې ونډه اخلي، دغه مشکل ته په اقتصادي ژبه د پوهې د خاوندانو هجرت (Brain Drain) وایي چې معنی یې دا ده له هیواده تکړه بشري قوه وځي او بیکاره هغه چې په څه نه پوهیږي د هیواد د ننه پاتې کیږي. له نیکمرغه چې دوه درې کاله وړاندې د سعودي عربستان حکومت یوه نوې پالیسي جوړه کړه چې د هغې په ترځ کې یې د لوړو زده کړو لرونکو کارګرو ته چې فعلاً په سعودي کې کار کوي د تابعیت ورکولو اجازه ورکړه . مونږ له دې څخه هم سترګې نه شو پټولی چې که بشري فکتور آزاد کړی شي ځنې هیوادونه لکه عربي نړۍ به له یو څه مشکلاتو سره مخ شي ځکه د غریبو اسلامي هیوادونو کارګر لکه د بنګلدیش،



افغانستان ، پاکستان اوداسې نور به ډیر زیات هغو هیوادونو ته مخه کړي. مګر ددې مشکل د حل لپاره اسلامي هیوادونه کولی شي چې مرحله واره پالیسي جوړه کړي په داسې شکل چې په لومړۍ مرحله کې یوازې د لوړو زده کړو درلودونکي لدې آزادۍ نه برخمن شي او ورپسې د ټیټو زده کړو لرونکي او یا په پیل کې د څو ورته شرائطو لرونکو اسلامي هیوادونو ترمینځ بشري قوه آزاده کړی شي او ورپسې وروسته ټوله اسلامي نړۍ په کې ورګډه شي.

## 3. دریمه مرحله: داسلامي ګمرکي او اقتصادي پالیسیو یووالی

په دغه مرحله کې اسلامي هیوادونه په مستقیم ډول سره د اقتصادي ائتلاف د تراسه کولو لپاره درې لارې یا وسیلې په کار اچولی شي.

لومړی د اسلامي اصولو په عملي کولو سره دګمرکي پالیسیو یووالی او د اسلامي ګمرکي اتحادیې جوړونه.

دوهم د اسلامي هیوادونو د تولیدي توکیو هماهنګي (همغږي) (د نسبي غوره والي په اساس Comperative advantage). د نسبي برترۍ طریقه دیته وایي کوم هیواد چې یو شی د بل هیواد په پرتله په کم قیمت او ښه جنسیت تولید کولی شي هغه باید د هم هغه تجارتي توکیو په تولید کې تخصص وکړي او یا بالعکس بل هیواد باید د هغو شیانو په تولید کې تخصص وکړي چې په پرتلیزه توګه د هغې د ښه تولید توان لري او بیا دوی کولی شي چې د آزاد تجارت په وسیله خپلې اړتیاوې رفع کړي .

دریم په دې موخه د اقتصادي پالیسیو یووالی او هماهنګي چې د اقتصادي ائتلاف یا یووالي هدف پوره کړی شي. ددې تر څنګ دا هم باید ومنو چې په اسلامي هیوادونو کې د شریعت په پلي کولو سره به له مارکیټ نه انحصار داري (مناپولي) ورکه شي او په مارکیټ کې د شرعي احکامو د پلي کولو په منظور به اسلامي هیوادونه دیته اړ وي چې د اقتصادي پالیسیو د انسجام ګډه اداره جوړه کړي. نوموړې اداره به په اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادونو کې د نرخونو د ټیټرنو، په مارکېټ کې د احتکار، انحصار داری او داسې نورو غیر شرعي معاملاتو د مخنیوي دنده په غاړه لري.

## 4. د مالي او پولي پالیسیو یووالی (کوارډنشن) او دګډ پلان اړتیا:

د اسلامي هیوادونو تر منځ د مالي او پولي پالیسیو انسجام او یووالي ته ډېره اړتیا لیدل کېږي ځکه اسلامي اقتصاد یو بې سوده (Interest) اقتصادي سیستم دی نو ددې لپاره د پیسو ارزښت ثابت ساتل ډېر اړین دي. د پیسو د ارزښت په ثابت ساتلو سره به په اسلامي هیوادونو کې د پانګونې لپاره ښه شرایط برابر شي او ددې تر څنګ به د افلاسیون مخه نیول شوې وي چې پر اقتصاد د هغې ناوړه عواقب او مضر اثرات مخکې ذکر شویدي. حکومتونه باید په بانکي سیستم باندې خپل کنټرول وساتي تر څو د پیسو ارزښت کنټرول او ښه اداره کړی شي.

او س راځو مالي پالیسۍ ته معلومه دې وي چې ټکس او د حکومت لګښت تر مالي پالیسۍ لاندې راځي، په اسلامي مالي پالیسۍ کې زکات ډېر اهم رول لري حکومت باید زکات راټول کړي او په مستحقینو باندې یې وویشي په دې لړ کې اسلامي هیوادونه باید په ګډه سره هڅې وکړي تر څو د زکات د ښې ادارې لپاره موثر ګامونه اوچت شي او زکات د غریبۍ او بیوزلۍ د له مینځه وړلو لپاره وکارول شي.د اسلامي هیوادونو په مینځ کې د مالي او پولي پالیسیو انسجام به د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره ګټور تمام شي مګر مهمه خبره دا ده چې اسلامي هیوادونه کومې لارې چارې وکاروي چې په یوه وخت کې په ټوله اسلامي نړۍ کې یو ډول اقتصادي (مالي ،پولي او...) پالیسي عملي شي؟ او په دې سره وکولی شو په ټوله اسلامي نړۍ کې د مشخصو اهدافو د لاسته راوړلو په منظور بانکونه اونورې مالي ادارې د یوه مشخص او معین لوري او هدف په خوا برابرې او په مخ بوځو.

دا باید ذکر کړو چې د اسلامي هیوادونو لپاره لارښود اقتصادي پلان ( Instructional or Inductive) غوره دی او هغه په دې ډول سره چې باید داسې اقتصادي پالیسي او پلان جوړ شي چې هغه سکتور ته چې د توجه وړ او یا اړین دی ښه وده ورکړي او د صنعت



کارو لپاره زړه راښکونکي شرایط برابر کړي چې په دغو پروژو کې پانګه واچوي مثلا هغوی ته په ټکس کې مراعا ت ورکړل شي او یا داسې نور .د اقتصادي ائتلاف لپاره ډېرو څېړنو او پلانونو ته اړتیا لیدل کېږي تر څو د ټولو هیوادونو وسایل په موثر ډول سره وکارول شي او د اتحادیې ټول غړي هیوادونه په اقتصادي ډګر کې پرمختګ او وده وکړي.

## اسلامي ګمرکي اتحادیه:

د اسلامي ګمرکي اتحادیې د جوړولو په خاطر، زما وړاندیز دا دی چې ددې هڅو په لړ کې دې له هغه ګمرکي سیستم (العشور) څخه چې د حضرت عمربن الخطاب (رض) په وخت کې پلی شوی و کار واخستل شي،او دغه سیستم (العشور ) په اسلامي نړۍ کې پرته له کوم بدلون څخه تر ډیره وخته کارول شوی هم دی . دغه سیستم دوه برخې لري، یوه برخه یې له مسلمانو سوداګرو سره او بله بر خه یې له غیر مسلم سوداګرو سره تړاو لري . د غیر مسلم سوداګرو تر مینځ هم تو پیر شته، د سوله غوښتونکي غیر مسلم هیواد سره د هغه غیر مسلم هیواد په نسبت چې له اسلامي امت سره د جنګ په حالت کې وي یو څه نرمي کېږي . په مسلمانو سوداګرو 2.5% ټکس لګیږي او کله چې دغه تجارتي توکي اسلامي هیواد ته داخلیږي، په غیر مسلم باندې دغه ټکس دوه چنده کېږي یعنی ۵% ټکس ورڅخه اخستل کېږي او په ځینو حالاتو کې څلور چنده یعنې ۱۰% ټکس هم ورنه اخستل کېږي او دا په هغه صورت کی چی دغه تجارتي مال له داسې غیر مسلم هیواد څخه راوړل شي چې له مسلمانانو سره د جګړې په حال کې وي. د العشور سیستم دا هم تائیدوي چې هر څومره ټکس کفار پر مسلمانانو لګوي، مسلمانان هم باید پر دوی هغومره اندازه ټکس ولګوي.

زما د وړاندیز معنی دا نه ده چې په اوس وخت کې دې د العشور ظاهري معنی او مفهوم پلی شي، بلکې مهم شي دا دی چې د العشور سیستم له حکمت څخه ګټه اوچته شي، ځکه دغه سیستم د قران او احادیثو په رڼا کې جوړ شوی او ددغه سیستم حکمت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټ باید اسلامي هیوادونه په کار واچوي . ددې معنی دا ده چې مسلمانو سوداګرو ته باید په ترجیحي بنیاد د ټکس په سیستم کې یو څه مراعات ورکړل شي .له بله اړخه هغو غیر مسلم هیوادونو ته چې په سوله ایز ډول سره اوسیږي، د هغه غیر مسلم هیواد په نسبت زیات مراعات ورکول کیږي کوم چې له مسلمانانو سره د جنګ په حالت کې وي.

کله چې د اسلامي هیوادونو تر مینځ ګمرکي اتحاد جوړیږي نو خپل مینځي ټکسونه (مالیه) به کموي او پر هغو هیوادونو به په نسبي توګه زیات ټکس لګوي کوم چې پدې اتحاد کې غړیتوب نلري. په دې سره به د اسلامي هیوادونو صنعت وده پیداکړي او د اسلامي کمپنیو لپاره به غټ مارکېټ پیداشي، ځکه چې دوی به په ټولو اسلامي هیوادونو کې په آزاده توګه خپل تولید یا تجارتي توکي پلورلی شي او په بهرنیو کمپنیو به لوړ ټکس لګیدلی وي . ددې تر څنګ اسلامي هیوادونه باید هڅه وکړي چې پر غرب او نورو غیر اسلامي هیوادونو خپله اقتصادي اتکا له مینځه یوسي، په دې لړ کې به دوی هغه واردات چې له کفري هیوادونو څخه یې کوي د اسلامي هیوادونو په وسیله عوض کړي. اسلامي هیوادونه باید په ګډه سره ددې کوښښ وکړي چې په خپلو هیوادونو کې نوې او پر مختللې فابریکې جوړې کړي تر څو د اسلامي امت اړتیاوې پخپله په اسلامي هیوادونو کې د ننه پوره شي.



# اووم فصل

## انفلاسیون (Inflation)

انفلاسیون د پیسو د ارزښت کموالي او په مسلسل ډول د نرخونو جګوالي ته وایي.دا یوه داسې مهمه مسئِله ده چې له ډېرې مودې راهیسې خلك ورسره لاس او ګریوان دي د انفلاسیون په وجه ډېر عام وګړي ځپل کېږي، ځکه پدې سره دوی د اجناسو د اخستنې قدرت او توان له لاسه ورکوي، په خاص ډول په قرض ورکونکو باندې بده اغیزه کوي ځکه کله چې دوی د خپل قرض پیسې بیرته ترلاسه کوي نو په هغو سره د خپل لومړني ارزښت په اندازه د اخستنې قدرت نلري.

د لوړانفلاسیون مخنیوی یو اړین کار دی که مخنیوی یې ونشي نو د یو هیواد د اقتصادي سیستم دګډوډۍ باعث ګرځي چې ددې څرګند مثال، د لوړ انفلاسیون په وجه له لومړي نړیوال جنګ څخه وروسته د جرمني او هنګري د اقتصاد بد حالت دی دوی پدې وجه ډېر کړاونه و لیدل. انفلاسیون د اقتصاد پوهانو لخواپه مختلفو تعریفونو تعریف شویدی:

المقریزي د ابن خلدون شا ګرد د انفلاسیون په اړوند یوکتاب لیکلی چې د (اغاثة الامة بکشف الغمة) په نوم یادیږي ، المقریزي د انفلاسیون سببونه دا لاندې ښودلي دي:

١-د عرضه کموالی

٢- خیانت او رشوت:

د بیلګې په توګه، یو شخص د یو منصب او رتبې د تر لاسه کولو لپاره رشوت ورکوي او بیا د خپلې دغې رتبې څخه غلطه او نا مشروع ګټه اخلي له سوداګرانو څخه رشوت اخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بالاخره دغه بوج د لوړو نرخونو په شکل پر عوامو پریوزي.

۳- مناپولي،احتکار

۴- د روپیو یعنې د پیسو زیات چاپول

المقریزي د پیسو په باره کې ډېر څه لیکلي او دده د نظریاتو څخه ملټن فریډمن ډېر متاثره شوی او داسې اوریدل شوي چې هغه ویلي اصلي مونټېرست مقریزي دی، زه نه یم.

ځنې اقتصاد پوهانو انفلاسیون په لاندې ډول سره تعریف کړیدی:

د سیلورمن ( Silverman ) لخوا پـدې ډول:تعریف شوی: د بیـع بقالـه لپـاره د اړتیـا لـه اندازې نه د زیاتې اندازې پیسو عرضه چې دا د نرخونو د لوړوالي سبب کېږي.

کرودر(Crowther) انفلاسیون داسې تعریفوي: انفلاسیون هغه حالت ښیي چې د پیسې ارزښت پکې کم شي او یا په بل عبارت د اجناسو قیمت چې اوچت شي.

او ښاغلی کولبورن (Coulborn) انفلاسیون په لاندې ډول تعریفوي:

انفلاسیون هغه حالت ته وایې چې په ډېرو زیاتو پیسو ډېرلږ اجناس را نیول کېدای شي.

## د انفلا سیون ډولونه:

د انفلاسیون په اړوند دوې نظریې شته:

لومړی: مونټېرسټ نظریه: د مونټېرست نظریه د ملټن فریډمن لخوا په لاندې ډول ورکړل شویده:

انفلاسیون هر ځای او هر وخت یوه مونیټېري پدیده ده او کله چې نرخونه یو ځل اوچت شي دا سلسله بیا د پیسو له زیاتوالي پرته دوام نشي پیداکولی، یعنې حتما به د پیسو د چاپ اندازه زیاتیږي.

ددې نظریې په اساس د انفلاسیون د مینځته را تګ یوا زینۍ وجه د پیسو بې اندوله چاپول دي.






په پورتني ګراف کې دا ښودل شویده، لومړی په اقتصاد کې تعادل د E په نقطه کې دی، په کوم ځای کې چې تقاضا او عرضه یو له بل سره تقاطع کوي، په دغه حا لت کې د p په نرخ باندې دD په مقدار اجناس خر څیـږي، کله چې د پیسو عرضه زیاته شي، تقاضا ورسره زیاتیږي، ددې په وجه د تقاضا خط پورتهD1 ته نقل کېږي، څرنګه چې عرضه په خپل پخواني حالت ثابته پاتې ده نو پدې حالت کې تقاضا له عرضې څخه زیاته ده چې دا د نرخ د جګوالي باعث ګرځي او نرخ له P څخهP1 ته لوړیږي او نوي تعادل د E1 په نقطه کې مینځ ته راځي نو له دې څخه دا څرګندیږي چې د پیسو زیاتوالی د انفلاسیون د رامینځ ته کېدو با عث ګرځي.

**دوهم: ساختماني نظریه (Structualist approach)**: ددې نظریې په اساس انفلاسیون په دوه ډوله دی، انفلاسیون د تقاضا د فشار په وجه demand pull (inflation)او انفلاسیون د مصارفو د فشار په وجه (Cost Push Inflation )

### 1. انفلاسیو ن د تقاضا د فشار له امله:

دغه انفلاسیون هغه وخت مینځ ته راځي کله چې تقاضا له عرضې څخه زیاته شي، تقاضا په مختلفو وجوهاتو زیاتیدلای شي مثلا: د نفوس زیاتوالی، د حکومت په مصارفو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتوالی او داسې نور، په لاندې ګراف کې دغه ډول انفلاسیون ښودل شویدی:




دغه ګراف له پورتني ګراف سره پوره ورته والی لري، توپیر یې یوازې دا دی چې پدې ځای کې تقاضا د پیسو د زیاتې چاپونې په وجه نده زیاته شوې، بلکې د نفوس د زیاتوالي، د حکومت د مصارفو د زیاتوالي او یا د بل لامل له امله تقاضا زیاته شویده.

## انفلاسیون د مصارفو د فشار له امله:

دا ډول انفلاسیون د تولید د لګښت د زیاتوالي له امله مینځ ته راځي. د بیلګې په توګه کله چې د تیلو بیه اوچته شي، د ټولو هغو صنعتي فابریکو چې د تیلو له انرژۍ څخه کار اخلي د تولید لګښت زیاتیږي او دوی مجبوریږي چې تولید کم او د خپلو تولیداتو بیه زیاته کړي او پدې ډول سره انفلاسیون مینځ ته راوړي.
ددې ډول انفلاسیون مهم عوامل دادي: د تنخواګانو لوړیدل، د خامو موادو بیه زیاتیدل، د انرژۍ بیه لوړیدل اوداسې نور.






په پورته شکل کې وینو کله چې د تولید لګښت زیات شي، د عرضې خط پورته ځي او عرضه له Q څخهQ1 ته راکمیږي او څرنګه چې په اوسنۍ بیه کې عرضه له تقاضا څخه کمه ده نو په نرخ باندې لوړ فشار دی او پدې وجه نرخونه له P څخه P1 ته اوچتیږي او نوی تعادل د E1 په نقطه کې مینځ ته را ځي.

## د انفلاسیون اغیزې:

انفلاسیون د منفي اثراتو تر څنګ څه مثبت اثرات هم لري او هغه په دې ډول کله چې انفلاسیون زیات شي نو د ټولو شیانو نرخونه ورسره اوچتیږي او تولیدونکي ددې لپاره چې ډیره ګټه تر لاسه کړي د توکېو تولید زیاتوي، ځکه پدې سره د دوی ګټه زیاتیږي او ددې لپاره چې تولیدات زیات کړي، نویو کارګرانو ته اړتیا پیدا کوي، نو ډېر نوي کارګر په کار اچوي او پدې سره بیکاري تر یوه حده کمیږي، ددې جزوي ګټې تر څنګ انفلاسیون ډېر مضر اثرات هم لري، خصوصا د هغه ګروپ کسانو لپاره چې معین عاید لري ځکه ددوی د اخستنې قدرت (purchasing power) کمیږي، ددې په وجه د اجناسو د اخستنې تقاضا کمیږي او پدې ډول سره تولیدونکي مایوسه کېږي ځکه تولیدات یې د نرخونو د جګوالي په وجه نه پلورل کېږي، نو مجبوریږي چې تولیدات کم کړي او ډېر کارګر له کاره ګوښه کړي چې پدې سره د بیکارۍ کچه زیا تیږي، انفلاسیون په عمومي ډول بسپنه کموي او هم د انفلاسیون په وجه صادرات کمیږي او دا د BOP د خسارې باعث ګرځي کوم چې په اقتصاد بد اغیز کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسلامي اقتصاد او انفلاسیون:

انفلاسیون د غیر منظمو چلندونو او د اقتصادي فکتورونو له نا انډولۍ څخه مینځته راځي. اوسني کپيټاليستي سیستم ته آزاد اقتصاد یا د ازاد مارکېټ سیستم ویل کېږي، په کوم کې چې ځنې عملونه (تقاضا او عرضه) چې هدف يې د شخصي ګټې او فایدې ګټل دي، اقتصادي وسایل توزیع او تنظیموي .د دوی ټولو هدف زیاته ګټه، په لوړ نرخ باندې شیان پلورل، لوړه تنخوا تر لاسه کول دي، دغه حالت په اقتصادي سیستم کې بې تعادلي مینځته راوړي.

کله تقاضا ، کله عرضه زیاته وي او کله خو د پیسو عرضه بې له کومې اړتیا زیاته شي،په همدې ډول اجاره دار (منافلستې) په مصنوعي ډول د اجناسو نرخونه اوچتوي تر څو ډېره ګټه وکړي.

انفلاسیون نرخونه اوچتوي او صنعتکار د اجناسو تولید زیاتوي دغه ټول عوامل د اقتصادي بې تعادلۍ یا نا انډولۍ باعث ګرځي.

اسلامي اقتصاد هم یو آزاد سیستم دی مګر دغه آزادي د شریعت د اصولو په چوکاټ کې د ننه ده او د شریعت اوامر تر ډېره حده اقتصادي بې تعادلي او ناانډولي کموي. په اسلام کې تولیدونکي، مصرفونکي او د تولید نور عوامل په خپلو اقتصادي تصامیمو او عملونو کې آزاد دي خو دوی باید خپل فعالیت د شریعت په حدودوکې د ننه وساتي او فعالیت یې هسې د حکومت تر مستقیم کنټرول لاندې نه دی لکه څرنګه چې په کمونیستي سیستم کې دی. اسلامي اقتصادي سیستم د اسلام د ژوند د تګلارې یوه برخه ده نو ځکه هر سړی چې په انفرادي ډول کوم اقتصادي کارکوي هغه د اسلام د اصولو او اخلاقو لکه شرم یا حیا ، عدل، ترحم، اخلاص او قربانۍ پابند وي او پدې عقیده لري چې د هر عمل محاسبه په آخرت کې کېږي، پدې وجې سره مسلمان پدې هڅه کې نه وي چې یوه او بل ته دوکه ورکړي او ورڅخه زیاته ګټه وکړي په یوه حدیث کې راغلي:

((عَنْ أَنَسٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ



لِنَفْسِهِ))[33]

ترجمه: له تاسو نه د هیڅا ایمان تر هغې بشپړ نه دی تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ نکړي کوم چې د خپل ځان لپاره يې خوښوي. یعنی کامل مومن هغه دی چې څه ځان ته خوښوي هغه بل مسلمان ته هم خوښ کړي.

نو ځکه د مسلمانو (تولیدونکو،اخستونکو او کارګرو) اصلي هدف دا نه وي چې په ناروا توګه ډېره ګټه تر لاسه کړي بلکې ددوی اصلي هدف د خدای د رضا حاصلول وي نو ددغه هدف د تر لاسه کولو لپاره دوی د دنیوي او اخروي ګټې او یا د شخصي او ټولنیزې ګټې تر مینځ منځنۍ یا اوسطه لاره ټاکي.

ددې تر څنګ په یوه اسلامي هیواد کې ټول مسلمانان دا عقیده لري چې د حکومت د اوامرو اطاعت ددوی دیني فریضه ده، لکه چې الله (جل جلاله) فرمايي: ، ،اطیعوا الله و اطیعوا الرسول و اولي الامر منکم، ،

نوځکه عوام د حکومت د اوامرو ښه اطاعت کوي او دوی دا خپله دیني وظیفه ګڼي او حکومت اقتصادي پالیسي په ښه او موثر ډول عملي کولی شي.

## د انفلاسیون دکنټرول ځانګړې لارې:

له پورته ذکر شوو دوو فکتورونو څخه علاوه، اسلامي اقتصادي سیستم داسې جوړ شویدی چې د انفلاسیون د راپورته کېدو چانس ډېر کموي، پدې اقتصادي سیستم کې د تعادل خودکاره حفظ کونکي یا اتوماتیک ساتونکي(Built-in Stabilizer) فکتورونه شته، کوم چې په ټولنه کې د انفلاسیون د رامینځته کېدو او یا د هغو د عواملو مخنیوی کوي.

## د تعادل خودکاره ساتونکي:

33- المصدر: سنن الترمذي، الکتاب: صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله(ص)، الباب: منه، رقم الحدیث ۲۴۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱-د سود او احتکار** (34) **منع کول:** په اوسني اقتصادي سیستم کې سود د انفلاسیون یوه اهمه وجه ده، کله چې صنعتکار په لوړ سود باندې قرض واخلي ددې قرض سره له سوده د واپس کولو په منظور د خپلو تولیداتو نرخ اوچتوي ځرنګه چې په اسلام کې سود حرام دی او بې سوده اسلامي بانکونه شته چې تولیدونکي ته د مضاربت او مشارکت په بنیاد پانګه ورکړي ، نو ځکه د انفلاسیون د دغه عامل مخنیوی کېږي.

## ۲-د تحسیني اجناسو د زیاتې پیرودنې منع کول:

کله چې د شیانو عرضه له تقاضا څخه زیاته شي انفلاسیون مینځته راځي ، اسلام وسط دین دی او بې فایدې مصارف (اسراف) په کې منع دی.

## ۳-د احتکار او انحصار له مینځه وړل:

احتکار یا د صنعتکارا و یا د تولیدونکو لخوا د بیې د اوچتولو په خاطر د ضروري شیانو پټول ترڅو همدا اجناس په لوړ نرخ خرڅ کړي، دا د اسلام له نظره جواز نلری، همدا راز اسلام دا هم منع کوي چې تولیدونکي د نرخ لوړولو لپاره(Cartel ) اتفاق یا اتحاد وکړي چې ټول به په یوه معین لوړ قیمت شیان پلوري، حکومت ددې مخنیوی کولی شي.

## د انفلاسیون د کنټرولولو نورې لارې:

لومړی: پولي یا مونټري لار: په دې طریقه کې انفلاسیون د پیسو د عرضې په کمونې سره کنټرولیږي. او دا په یو د لاندې شکلونو سره کېدي شي.

۱-د قرض حسنه د نسبت کمول:

[34]- د خلکو د اړتیا په وخت کې د یو شي نه خرڅول او ساتل یې ددې لپاره چې قیمته شي او بیا یې په لوړه بیه خرڅ کړي



په اسلامي اقتصادي سیستم کې بانك بې سوده دی او بانك د ګټې او تاوان د شریکولو پر بنیاد ولاړ دی او له خلکو څخه پیسې د ګټې او تاوان د شریکولو پر بنا اخلي او نورو مراجعینو ته یې هم په همدغه بنیاد د مشارکت، مضاربت .. . په ډول ورکوي .

ددې تر څنګ بانك د خپلې بودیجې یوه برخه د قرض حسنه په ډول مراجعینو ته ورکوي یعنې بې له سوده قرض، د انفلاسیون په وخت کې شاید د صنعتکارو لخوا د قرض حسنه غوښتنه زیاته شي ځکه دوی غواړي ډېره پانګه واچوي او شي په لوړه بیه خرڅ کړي، پدې وخت کې مرکزي بانك کولی شي نورو بانکونو ته ووایي چې د قرض حسنه نسبت کم کړي او پدې سره په معاشره کې د پیسو د عرضې اندازه کمیدی شي او د انفلاسیون د زیاتیدو مخنیوی کېږي.

**۲-دګټې د اندازې (حد) بدلون:** د ګټې د اندازې حد بدلول هغه ګټې ته وایي چې د بانك او د بانك د مشتري ترمینځ ویشل کېږي ددغه ګټې د نسبت بدلون هم د پیسو په عرضه او تقاضا باندې اثر کوي یعنې کله چې په ګټه کې د بانك برخه کمه وي خلك په بانك کې ډېرې پیسې اچوي او بانك د صنعت کارو لپاره ډېره پانګه برابرولی شي او که چیرې په ګټه کې د بانك برخه د پیسې ورکونکي د برخې په نسبت زیاته وي نو بیا ددې خلاف عمل کېږي.

## ۳-د ذخیرې نسبت، د پشتوانې نسبت ( **Reserve Ratio**):

دا په اسلامي بانك کې د نورو بانکونو په شان کېږي یعنې هر بانك قانونا باید د خپلو ټولو پیسو څخه یوه معینه فیصدي مرکزي بانك ته د امانت په ډول وسپاري، مرکزي بانك د انفلاسیون په وخت کې دغه د پشتوانې نسبت زیاتولي شي چې په دې سره د بانکونو سره کمې پیسې پاتې کېږي او ډېرې پیسې نشي عرضه کولی او پدې سره انفلاسیون کمیدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴-د آزاد مارکېټ عمليه:

په معاصر بانکي سیستم کې مرکزي بانك (په آزاد مارکېټ کې د دولتي اسنادو د پلورلو او اخيستلو په وسيله عرضه کنټرولوی شی Government Securities) مطلب دا چې حکومت خلکو ته د يو ټاکلي وخت لپاره اسناد ورکوي او په بدل کې پيسې ترې راټولوي او کله چې وخت پوره شي بيا خلك دغه اسناد بيرته حکومت ته ورکوي او حکومت ددوی پيسې سره له ګټې سره بيرته دوی ته سپاري، اسلامي مرکزي بانك هم دغه شان دولتي اسناد (Government Securities) او سکوك (اسلامي بانډ) ... مارکېټ ته ایستلای شي خو دغه ټول به له سود څخه پاك وي په دې ډول هم انفلاسيون کنټرولېدی شي.

## ۵- د نقدو پيسو د ذخيرې د نسبت زياتونه ↓

په اسلامي بانکونو کې هم د نورو بانکونو په شان هر بانك مکلف دی چې د ورسپارل شويو پيسو يو نسبت په نقده توګه له ځان سره وساتي تر څو د مراجعينو ورځنۍ تقاضا پوره کړی شي، بعضې وخت بانکونه له ځان سره کمې نقدې پيسې ساتي او کله داسې هم پيښيږي چې بانك ټولې پيسې په کار اچولې وي او د مراجعينو کوم چې له بانك څخه خپلې پيسې وباسي لپاره د بانك سره هيڅ روپۍ نه وي نو بانك په خپله ددې لپاره قرض اخلي، د انفلاسيون په وخت کې مرکزي بانك د نقدو پيسو د ذخيري نسبت زياتولای شي او په دې سره د پيسو عرضه کميږي ځکه بانکونه مجبوريږي چې ډېرې پيسې له ځانه سره وساتي او ډېره قرضه نشي ورکولاي..... او دا د انفلاسيون په کموالي کې مرسته کوي

**نوټ:** له پورته ذکر شويو طريقو څخه په هره يوه چې د پيسو عرضه کمه شي، تقاضا ورسره کميږي او د تقاضا خط ښکته ته نقل کيږي او نرخونه رالويږي يعنې انفلاسيون کميږي.او ددې علت دا دی چې د خلکو سره پيسې کميږي او يا د پانګه اچونې لپاره کمې پيسې پاتې کيږي






## دوهم، مالي لار(**Fiscal Measures**):

مالي پاليسي يا مالي سياست هم د انفلاسيون دکنټرولولو يوه مهمه وسيله ده، د انفلاسيون په وخت کې حکومت کولی شي خپل مصارف کم کړي يعنې خپله ټوله بوديجه مصرف نکړي (Surplus budget) په دغه حالت کی به دحکومت عايد د هغه له مصارفو څخه کم وي او دا دانفلاسيون د لاړياتيدو مخنيوی کوي.

څرنګه چې، $AD=C+I+G+NX$ د حکومت د مصارفو ($G$) په کميدو سره عمومي تقاضا کميږي او د تقاضا خط ښکته نقل کيږي او پدې ډول انفلاسيون کميږي.




## د انفلاسيون دکنټرولولو نورې لارې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نرخ ټاکل(Price Controle): د شريعت له نظره په عادي حالاتو کې حکومت په نرخ ټاکلوکې د مداخلې يا لاسوهنې حق نلري، خو په هغه وخت کې چې صنعتکار او يا سوداګر په مصنوعي ډول سره په احتکار او يا بلې ناروا لارې سره نرخونه اوچتوي پدغه حالت کې حکومت کولی شي د ځينو اړينو شيانو لپاره مناسبه بيه وټاکي.

### د لومړنيو موادو ذخاير(Buffer Stocks):

ددې لپاره چې د نرخونو د زياتوالي مخه ونيول شي حکومت بايد د خلکو د اړتيا وړ شيان لکه خوراکي توکي او داسې نور ذخيره کړي او کله چې نرخونه زيات شي نو دغه شيان په ارزانه بيه مارکېټ ته وړاندې کړي او د نرخونو د جګوالي مخه ونيسي.

### د احتکار شوو موادو مصادره يا په زور اخستنه:

حکومت کولی شي چې هغه کسان په زور مجبورکړي چې خپل ذخيره او احتکار شوي مواد بازار ته وباسي همدا راز حکومت د دوی دا ډول ما لونه ضبطولی او مصادره کولی هم شي تر څو نرخونو د نا مشروع جګوالي مخه ونيول شي.

# اتم فصل

## د اسلامي اقتصاد مهمې مسئلې

د نرخونو کنټرول يا ټاکل:

د نرخونو ټا کل ديته وايي چې حکومت پخپله په مارکېټ کې مداخله وکړي او د هغو شيانو نرخ وټاکي په کومو کې چې د ټولنې ګټه وي. نرخ ټاکنه په دوه ډوله ده:



**1**) د قيمتونو تثبيت (**Price ceiling**): او دا ديته وايي چې کله نرخونه په غير عادلانه ډول ډېر اوچت شي يا اوچت کړی شي، حکومت يو ټاکلی قيمت ټاکي او له هغې حد نه د لوړوالي اجازه نه ورکوي. مثلا:که د اوړو نرخ د ځينو مفاد پرسته سوداګرو په وسيله په بې انصافه ډول لوړکړی شي، نو ددې لپاره چې حکومت د عوامو له حقوقو څخه دفاع کړې وي د اوړو لپاره يو ټاکلی نرخ ټاکي چې سوداګر بيا له هغه حد نه پورته اوړه نشي خرڅولی.

2) تر ټوله کمه بيه يا حد اقل قيمت (Price Flour): د نرخ کښتنی حد يا حد اقل قيمت ديته وايي چې له هغه نه په ټيټه د ټاکلي څيز د خرڅ اجازه نه وي او دا زياتره په زراعتي پيداوارو کې ټا کل کېږي او هدف يې دا وي چې بزګران تاواني نه شي او په راتلونکی کې هم همدغه زراعتي توکي وکري.

مثلا:که چيرې په کوم آباد کال کې ډېر غنم وشي نو د غنمو نرخ په مارکېټ کې رالويږي او بزګرانو ته ګټه نه پاتې کېږي او په راتلونکې کې نه غواړي چې بيا غنم وکري، نو ددې لپاره چې دوی د غنمو له کرلو څخه ډډه ونکړي، حکومت د غنمو لپاره يو حد اقل نرخ ټاکي او له بزګرانو څخه يې په همغه نرخ اخلي او په نورو مارکېټونو کې هم همغه نرخ وي، له هغه نه د کموالي مخنيوی کيږي او پدې سره بزګران ديته نه اړ کېږي چې په ټيټه بيه خپل پيداوار خرڅ کړي. په لاندې شکل کې د قيمتونو پورتنی او کښتنی حد ټاکل ښودل شويدي :

(c) ketabton.com: The Digital Library






د ګراف تشریح: د نرخ ټاکل د حکومت په وسیله په ځنې حالاتو کې زیانمن تمامیږي نو حکومت باید له اړتیا پرته قیمت تعیین نکړي، خو په ځنې حالاتو کې د مصلحت غوښتنه دا وي چې حکومت باید نرخ وټاکي.

د بیلګې په توګه یو وخت د مصر حکومت، دکورونو کرایه معینه کړې وه، ترڅو عوام له کړاوونو سره مخامخ نه شي او دکرایې د لوړیدو مخه ونیول شي. خو د کرایې د جګوالي اصلي وجه د تقاضا زیاتوالی و او دغه پالیسۍ په کور جوړونکو باندې بد اثر وکړ او هغوی د نویو کورونو له جوړولو څخه ډه ډه وکړه، نو له همدې کبله په راتلونکو کلونو کې د مصر عوام دکورونو له کمبود سره مخ شول او حکومت مجبور شو چې دغه پالیسي ختمه کړي او دکرایې ټاکل د مارکیټ د قواوو (تقاضااو عرضه) ته پرېږدي.

غلط او بې مورده نرخ ټاکل د وسایلو د ناموثر ویش سبب ګرځي یعنې ددې پر ځای چې په هغو کارونو او شیانو کې ډېر وسا یل په کار واچول شي چې ټولنه ورته ډېره اړتیا لري، د قیمتونو د غلط تعیین په وجه عوام هغه توکي نه تولیدوي بلکې هغه شیان تولیدوي چې نرخ یې د حکومت له لوري نه وي ټاکل شوی او دوی ته په کې ډېره ګټه پاتې کېږي .



# نرخ ټاکل داسلام له نظره:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په خپله مارکیټ ته تشریف وړلو او د مارکیټ نظارت به یې کولو، ترڅو خلك غیر شرعي کارونه ونکړي او په اخستنه او خرڅلاوکې له چا سره زیاتی ونشي. یو وخت د هغه مبارك په دوران کې نرخونه ډېر اوچت شول او خلك (اصحاب) پیغمبر (ص) ته راغلل او ورته یې وویل چې مونږ ته نرخ وټاکه؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم له نرخ ټاکلو څخه انکار وکړ. ددې حدیث عربي متن په لاندې ډول دی:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ غَلَا السِّعْرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ سَعِّرْ لَنَا فَقَالَ إِنَّ اللهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الرَّزَّاقُ وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَلْقَى رَبِّي وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنْكُمْ يَطْلُبُنِي بِمَظْلَمَةٍ فِي دَمٍ وَلَا مَالٍ[35]

ترجمه: له انس رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په وخت کې نرخ لوړ شو، اصحابو وویل: اې د الله رسوله صلی الله علیه وسلم مونږ ته نرخ وټاکه، ویې فرمایل: بیشکه تنګونکی او پراخونکی او د روزۍ ورکونکی الله (ج) دی او همدی نرخ ټاکونکی دی، هیله لرم چې له خپل پالونکي سره په داسې حال کې مخامخ شم چې له تاسو نه یو هم له مانه د ځاني او مالي تېري د بدلې غوښتونکی نه وي.

دا ویل چې الله (ج) نرخ جوړونکی او ټاکونکی دی دا معنی لري چې نرخ د طبیعي قدرت پوسیله ټاکل کېږي،د هر چا له قدرت څخه بهر دی او دا ځکه چې پیغمبر (ص) په دې باندې ډاډمن و چې هیڅ څوك په غلط ډول په تقاضا او عرضه باندې اثر نه پریباسي ځکه چې اسلام احتکار ((انحصار)) او نورې غیر شرعي لارې چې په مصنوعي ډول نرخ اوچتوي سختې منع کړیدي او دا د حکومت وظیفه ده چې ددې مخنیوی وکړي. او که چیرې داسې نرخ وټاکل شي چې پلورونکي ته په کې ګټه پاتې نشي نو دا له هغه سره ظلم دی.

[35]- المصدر:سنن الترمذي، الكتاب: البيوع عن الرسول (ص) الباب، ما جاء في التسعير، رقم الحديث: ١٢٣٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له نبي كريم(صلى الله عليه وسلم) څخه وروسته:

- په یاد ولرئ چې د پیرودونکي (اخستونکي) سره شاید د تجارتي توکیو په راکړه ورکړه کې ظلم وشي.
- حضرت عمر(رض) به پخپله د مارکېټ نرخونه څارل حتی په کلیو او بانډو کې به یې هم له نرخ څخه ځان خبرولو.
- حضرت عثمان (رض) به د جمعې په خطبه کې د نرخونو د حا لت څخه بحث کولو.
- داسې ویل شوي چې د امویانو د دوران په پیل کې د عراق حاکم هغو کسانو ته جزا ورکړې وه چې نرخونه به یې په بې انصافه ډول لوړ کړي وو.

ابن تیمیه:

ابن تیمیه د اسلام د غټو علماؤ له جملې څخه دی او د اقتصاد په برخه کې دده له نظریاتو څخه یوه مهمه نظریه د ثمن المثل نظریه ده.

د ابن تیمیه د ثمن المثل (مساوي قیمت) له نظریې څخه مطلب دا دی چې مساوي یا همجنس توکي (شیان) باید په مارکېټ کې یو قیمت ولري. په معاصر اقتصادکې دیته مشابه (Homogenous) توکي وایي او د دوی نرخ باید په مارکېټ کې یو شان وي. مونږ باید په یاد ولرو چې غیر همجنس شیان تردې قانون لاندې نه راځي، نو مونږ کولی شو چې بازاري یا تجارتي توکي په دوو برخو وویشو:

1) همجنس شیان (Homogenous goods) :

2) غیر همجنس شیان (Non homogenous goods)

ابن تیمیه د انحصار (مناپولی) غندنه کوله، کومه چې د نرخونو د زیاتوالي اهمه وجه ده او له حاکم څخه یې هیله کوله چې په مارکېټ کې په غیر مشروع ډول د نرخونو د زیات جګوالي مخنیوي وکړي او یو حد ورته وټاکي چې له هغه نرخونه اوچت نکړی شي. ځکه چې په داسې نا مشروع ډول د نرخونو زیاتوالی د یوه غریب سړي په ژوند باندې بد اثر



کوي او باید د هغه له حق څخه دفاع وشي.

## ابن قیم الجوزي:

ابن قیم الجوزي د ابن تیمیه یو تکړه شاګرد او ملګری و، هغه د خپل استاذ (ابن تیمیه) د ثمن المثل د نظریې ملاتړ او تائید وکړ او ویې ویل چې غذایي توکي د یوه جنسیت لرونکي دي او انحصارګر باید مجبور کړی شي چې په یوه نرخ (د ورته یا مشابه شیانو په نرخ) سره یې خرڅ کړي او حکومت باید د نرخ د بې ځایه لوړوالي مخنیوی وکړي.

وروسته بیا ابن قیم د (قیمت ټاکلو) نظریې ته وسعت ورکړ او د غذایي موادو تر څنګ یې وسلې (کله چې وسله مشابه وي لکه یو شان غشي او تورې) هم په کې شاملې کړې، او ویې ویل کله چې خلك وسلو ته اشد ضرورت ولري نو وسله پلورونکي باید مجبورکړی شي په یوه قیمت (مناسب) یې خرڅې کړي.

ابن قیم الجوزي وویل چې نرخ ټاکل شاید په مکمل ډول ښه او ګټور نه وي، خو کله چې کوم عرضه کونکی سوداګر په قصدي ډول بازار ته د شیانو عرضه کول بند کړي په دې وخت کې د حاکم لخوا نرخ ټاکل په مکمل ډول ښه دي، اما کله چې تاجر په مشروع ډول سره تجارت کوي او په کومه بله وجه لکه د نفوس د زیاتوالي یا د عرضې د کموالي او یا بل کوم سبب له امله نرخونه اوچت شي، پداسې حالت کې باید په بازار کې مداخلت ونه شي او پدې صورت کې قیمت ټاکل غیر مناسب دي. هغه دا رایه هم وړاندې کړه چې حاکم باید داسې پالیسي جوړه کړي چې د هغو عواملو په کلکه مخنیوي وکړي کوم چې د انحصار د مینځ ته راوړنې لامل ګرځي.

**خلاصه:**

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له پورتني حدیث څخه دا څرګندیږي چې نرخ باید ونه ټاکل شي او د نرخ ټا کل باید د مارکېټ قواوو (عرضه او تقاضا) ته پریښودل شي، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې تر څنګ د هغو عواملو مخه باید ونیول شي چې د انحصار د مینځ ته راوړنې سبب ګرځي، لکه احتکار او داسې نور. څرنګه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مارکېټ کې ددغه ډول غیر شرعي کارونو مخنیوی کړی و، نو ځکه يې نرخ نه ټاکه. د اسلام له نظره مونږ باید په مارکېټ کې د هغو عواملو مخه ونیسو کوم چې په بازار کې په قصدي او بې انصافه ډول سره قیمتونه جګوي، مګر که چیرې د دغو عواملو مخنیوی ممکن نه وي نو د لنډ مهال لپاره د نرخونو ټاکل روا دي مګر د اوږد مهال لپاره باید په مارکېټ کې د هغو غیر عادلانه او غیر شرعي لارو او عواملو مخنیوی وشي تر څو فعال مارکېټ قایم پاتې شي او په عادلانه ډول سره پیر و پلور صورت ومومي، د نرخ ټاکلو په صورت کې باید کوښښ وشي چې د تعا دل نرخ ته نژدې نرخ وټاکل شي.

## ۲) بیمه (انشورینس):

د انسانانو ټول فعالیتونه له کړاوونو او ربړو سره تړلي دي نو ددې لپاره چې د کوم یوه خطر مخنیوی وشي خلك بیمه کاروي یا په بل عبارت بیمه داسې یوه طریقه ده چې په هغې سره بیمه کړل شوی شخص یا کمپنۍ ته د یوې حادثې د تاوان معاوضه یا بدله ورکول کېږي .

### بیمه دوه بنسټیز خواص لري:

1. له یوه شخص څخه بل سړي یا بل ګروپ ته د زیان یا تاوان (Risk) نقلول.
2. په مساویانه توګه دګروپ د ټولو غړو ترمینځ د تاوان شریکول.

بیمه ډېر پخوانی تاریخ لري داسې ثبوت شته چې ( B.C ۳۰۰۰ ) قبل المسیح کلونو کې چینایي تجارانو د خطر (رسك) د شریکولو تخنیك کارولو[36].
له اسلام څخه وړاندې په عربو کې بیمې ته ورته کارونو رواج درلودچې له هغې جملې څخه ځینو د اسلام له راتګ څخه وروسته هم جواز وموند. معاصره بیمه په اوریا کې له صنعتي انقلاب څخه وروسته مینځته راغله. د اور بیمه د لومړي ځل لپاره په کال ۱۵۹۱

[36] Frank H.Knight ,"Risk ,Uncertainty ,and Profit" Houghton Mifflin, Boston-,A21



کې د اور د ټولنې چې د(Feuer Casses)په نوم یادیده جوړه شوه. د ژوندون د بیمې لومړۍ پالیسي په کال ۱۵۳۶ کې د جون په ۱۸ نیټه د لندن د بیمه ګرو (Underwriters)د یوه ګروپ لخوا جاري شوه.

د بیمه طبقه بندي د لاندې چارټ په وسیله ښودلای شو:




د بیمې دکار و بار مهمې موخې (اهداف) په لاندې ډول دي:

- دکور د مشر د ناڅاپي مړینې په صورت کې د وارثینو لپاره د ژوند د اړتیاوو برابرول.
- د کومې حادثې په صورت کې له اقتصادي تاوان څخه ځان ژغورنه.
- له دندې نه د تقاعد په صورت کې داړینو شیانو تهیه کول، د ماشومانو د زده کړې او واده لپاره د لګښت برابرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• له مخکې نه د راتلونکي ناڅاپي مالي تاوان تدارك يا بند وبست.

## بيمه داسلام له نظره:

د بيمې په اړه د اسلامي علماؤ له بحثونو او کنفرانسونو څخه دا جوتيږي چې د دوی په مينځ کې يو توافق شته او هغه دا چې د بيمې مفکوره (کانسفټ) او اهداف له اسلام سره تضاد نلري، ځکه چې دا په ټولنه کې يو له بل سره مرسته او همکاري تقويه کوي. د نبي کريم صلی الله عليه وسلم او د هغه د اصحابو کرامو له عملي ژوند څخه دا ثابتيدی شي چې شريعت د بيمې مخکې ذکر شوي اهداف منلي دي.

يوازينی اختلاف چې اسلامي علماء يې له اوسنۍ مروجې بيمې سره لري هغه دا دی چې په بيمه کې سود، غرر[غرر هغه وخت مينځته راځي کله چې عواقب يا انجام ديوه قرارداد يا سودا مبهم پاتې شي.] قيمار، جهالت او داسې نور عناصر وجود لري او دغه شيان د اسلام د اصولو خلاف دي او ضروري ده چې د بيمې له کار و بار څخه دغه غير شرعي عناصر لرې کړی شي، زيات شمير اسلامي علماء همدغه پورته نظر لري چې مشهور يې دا دي: مفتي محمد شفيع، مولانا مودودي، شيخ احمد ابراهيم، ډاکتر مصلح الدين او داسې نور.

د بيمی دکار و بار د ښه چلښت لپاره، اسلامي علماء وايي چې دا بايد د دوه اړخيزې همکارۍ (ضمانت) او دوه اړخيز مسئوليت په بنا تر سره شي، د بيمې لپاره لاسته راغلې پيسې بايد په داسې لارو چارو وګمارل شي چې شرعا جواز ولري لکه (مشارکت، مضاربت ....) تر څو د سود مخنيوی وشي. مخکې له دې څخه چې د بيمې په اړوند نور بحث وکړو لازمه ده چې لومړی د قرارداد اسلامي اصول وڅيړو، ځکه بيمه هم يو ډول قرارداد دی.

## د قرارداد اسلامي اصول:



١- د څه په اړه چې قرار داد کېږي هغه بايد له اسلامي اصولو سره تضاد ونه لري: تر موضوع لاندې ماده يا خدمت بايد له اسلامي لارښوونو سره په تضاد کې نه وي او هر هغه شي چې داسلام له نظره ناروا دی د هغه پير و پلور او يا په هغه باندې قرار داد کول روا نه دي، لکه د شرابو، د خوګ د غوښې، فاحشې او داسې نورو پير و پلور چې دا ټول نارودی، نو که څوك له چا سره په دې قرار داد وکړي چې هغه به ورته شراب راوړي يا جوړوي دا ناروا عمل دی.

### 1. په قرار داد پورې د تړلې مادې موجوديت:

تر موضوع لاندې ماده بايد په فزيکي شکل وجود ولري او يا بايد خرڅونکی په دې قادر وي چې هغه خرڅ شوی توکی اخستونکي ته وسپاري. کومې معاملې چې په بې باورۍ مشتملې وي، د موجوديت په اړه يې د ناپيژندنې (جهل) او يا بل خطر موجود وي د اسلام له نظره دا ډول معامله منع ده. د دغسې معاملې بيلګې په لاندې ډول سره دي:

• ميوې د فصل په پيل او په ونه کې خرڅول پداسې حال کې چې کيفيت او جنسيت به يې وروسته څرګنديږي.
• د هغو ماهيانو خرڅول چې تراوسه په جاري اوبو کې دي.

په عمومي ډول زياتره اسلامي علماء په دې نظر دي چې د هر هغه شي خرڅول ناروا دي کوم چې وجود ونلري او دوی په لاندې حديث شريف باندې استدلال کوي:

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ عَلَى رَجُلٍ بَيْعٌ فِيمَا لَا يَمْلِكُ (37)

ترجمه: عمرو بن شعيب له خپل پلار له خپل نيکه څخه وايي: رسول الله(صلی الله عليه وسلم وفرمايل: نشته په سړي د هغه څه خرڅول چې نه يې لري.

له دغه قانون څخه يوازينۍ استثناء بيع سلم (دسلم خرڅلاو) دی په کوم کې چې اخستونکی پيسې له وړاندې نه په داسې حال کې ورکوي چې د هغه شي تسليمول به په

37- المصدر:النسائي، الكتاب: البيوع، الباب: ماليس عند البايع ، رقم الحديث: ۴۵۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ټاکل شوې نيټه کې  وروسته کېږي. علماء بيع سلم تر هغو توکېو پورې محدودوي کوم چې معين يا ټاکل کېدی شي په شکل، جنسيت او مقدار سره، لکه قلم چې په بازار کې په هغه شان نور قلمونه هم وجود لري او يا موټر. او کوم شي چې خرڅول يې ناروا دي هغه څه دي چې وجود ونه لري لکه آس ټول اسونه مختلف دي او په جنسيت کې سره توپير لري.

ددغه حديث په اړوند چې پورته ذکر شو(مه خرڅوئ هغه شي چې تاسې يې نه لرئ) علماؤ مختلف تعبيرونه وړاندې کړيدي چې لاندې ذکر کېږي: (38)

i. ،،مه خرڅوئ هغه څه چې تاسې يې نه لرئ،، دا معنی ورکوي چې کوم شي چې له تاسو سره د خرڅلاو په وخت کې وجود ونلري يا ستاسو په ملکيت کې نه وي هغه شي مه خرڅوئ، يوازينی استثناء بيع سلم ده چې مخکې ذکر شوه.

ii. د حديثو علماء په عمومي ډول سره بيا په دې نظر دي چې دغه حديث (مه خرڅوئ هغه څه چې تاسې يې نه لرئ) په يو خاص قسم شيانو (غير مثلي شيانو) پورې اړه لري او هغه شيان يا تجارتي توکي چې مثلي دي او په مارکېټ کې پيداکېږي د هغې خرڅول جايز دي و لو که د خرڅلاو په وخت کې له پلورونکي سره نه وي ځکه دغه شيان په آسانی سره عوض کېدی شي او په مارکېټ کې وجود لري. امامي شافعي هم داسې ويل چې يو څوک کولی شي چې داسی يو شي خرڅ کړي چې ورسره موجود نه وي په دې شرط چې معين (ټاکلی)څيز نه وي ځکه د ټاکليو شيانو برابرول نه شي يقيني کېدلی .

iii. ځينو نورو علماؤ بيا ددې حديث تعبير داسې کړی چې د هغه شي خرڅول منع دي کوم چې له پلورونکي سره وجود ونلري او پلرونکی په دې قادر نه وي چې هغه شي اخستونکي ته ورتسليم (برابر) کړي .دغه نظريه د مالکي فقهاوو او ابن تيميه ده، دوی وايي چې د حديث شريف هدف يوازې د شي ملکيت ندی بلکې مراد يې په دې باندې د پلورونکي قدرت او توان دی چې نوموړی شي اخستونکي ته برابر او تسليم کړي دوی

38- Islmic law of cotract and business taransaction د ډاکټر محمد طاهر منصور ليکلې کتاب ، پاڼه ۴۱-۴۰



وايي که د دغه حديث هدف د خرڅلاو په وخت کې د شي ملکيت وای نو بيا بيع سلم او داسې ډېرې نورې معاملې تر دې حديث لاندې راځی. او دا هم وايي چې ځنې وخت يو څوك د يوه شي مالك وي مگر په دې نه توانيږي چې هغه شي اخستونکي ته ورتسليم کړي چې په دې صورت کې هم معامله يا سودا ونه شوه .

**خلاصه:**

١- له پورته بحث څخه دا څرگنديږي چې له دغه حديث شريف څخه اصلي هدف د پلورونکي قدرت دی چې هغه شي چې خرڅوي يې اخستونکي ته مهياکولی او تسليم کولی شي او که نه، نو که چيرې څوك ددې قدرت ولري چې يو شي چې فعلا ورسره وجود ونه لري اخستونکي ته مهيا کړي هغه کولی شي چې هغه شي وپلوري سره له دې چې د خرڅلاو په وخت کې ورسره موجود نه وي، د بيلگې په توگه دکور جوړونې کمپنی کولی شي مخکې له دې څخه چې کورونه جوړ شي کورونه وپلوري ځکه هغه کمپنی ددې توان لري چې کورونه جوړکړي.

**2.** له قرار داد څخه مطلوب اهداف بايد د اسلامي اصولو يا د الله (ج) دحکم خلاف نه وي. د هغه هدف لپاره چې يوه معامله يا قراداد کېږي هغه اهداف بايد له اسلامي شريعت سره په تضادکې نه وي د بيلگې په توگه که چاته دا معلومه وي چې يو سړی د يوه بل شخص د وژلو لپاره وسله اخلي په هغه سړي باندې وسله (ټوپك) خرڅول ناروا دي.

3. قرار داد بايد د لاندنيو عناصرو څخه پاک وي:

* قمار
* غرر
* غبن فاحش: غبن فاحش د ډېر زيات تاوان معنی ورکوي چې د دوکې او يا غلطې ښودنې په وجه د قرار داد يا سودا يوه اړخ يا شخص او پارټۍ ته رسيږي. که چيرې د هغه شي قيمت چې پرې خرڅ شويدی او د مارکېټ د اصلي قيمت تر مينځ لړ توپير وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديته غبن يسير(لږ غبن) وايي او په عمومي ډول سره تجار په دې پسې نه ګرځي او ډېر د تشويش وړ نه دی په غبن يسير سره قرار داد يا سودا نه فسخه کېږي.

- اکراه: اکراه ديته وايي چې په زور او جبر سره څوك مجبور کړی شي چې يوه معامله [خرڅلاو، او داسې نور تر سره کړي ] دغه ډول معامله د اسلام له نظره ناروا ده.

## د مروجې بيمې خلاف د اسلامي علماوو دلايل:

مروجه بيمه دغه لاندې غير شرعي عناصر لري :

1. د غرر عنصر: د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د ډېرو احاديثو په رڼا کې هر هغه خرڅلاو چې غرر په کې شامل وي منع کړی شويدی. په بيمه کې د لوړې درجې غرر وجودلري. د غرر صفت په بيمه کې په څلور ډوله ليدل کېږي:

a. په موجوديت کې: غرر د جبران (معاوضې)د مبلغ موجوديت غير يقيني (غير معين)دی ځکه چې يوازې د حادثې د پيښېدو په صورت کې ورکول کېږي او هغه په خپله غير معينه ده.

b. د مقدار غرر: دغه بيمه کړی شوی د قرار داد په وخت کې په دې نه دی خبر(نه پوهيږي) چې د حادثې د پيښېدوپه صورت کې يا د هغه د مال او ملکيت د خرابيدو په صورت کې به نوموړی څومره جبران تر لاسه کوي.

c. د جبران د ورکولو (تاديې) په اړوند غرر: په بيمه کې د جبران د ورکولو وخت نا معين او نا ټاکلی دی.

۲. د قمار عنصر: د بيمې په قرار داد کې بيمه کونکی هغه پيسې له لاسه ورکوي چې پدې مورد يې هغه د بيمې کمپنۍ ته ورکوي او په بل صورت کې يعنې که حادثه پيښه شي کمپنۍ ده ته د هغه مبلغ څو چنده ورکوي کوم چې ده کمپنۍ ته ورکړی دي. او دغه شيان بيمه قمار ته نژدې کوي .



۳. د سود عنصر: د بيمې د مخالفينو بل دليل دا دی چې په بيمه کې په دوه ډوله سود شته دی: لومړی دا چې د بيمې کمپنۍ د بيمې په نامه اخستل شوې پيسې په حکومتي اسنادوکې چې سود ورکوي په کار اچوي . دوهم دا چې هغه مبلغ چې بيمه کونکی يې کمپنۍ ته ورکوي له هغه سره توپير لری کوم چې نوموړی به يې د جبران په شکل تر لاسه کوي او د همدې توپير له امله دا د سود تر عنوان لاندې راځي.

## د بيمې دکار و بار دکنټرول اسلامي اصول:

1. (بيمه) بايد په دوه اړخيزه ضمانت او همکارۍ بدله شي دکومو اهدافو لپاره چې بيمه په لومړيو وختونو کې جوړه شوه ډېر سپيڅلي وو او هغه دا چې که يوه غميزه واقع شي د هغه تاوان يا ضرر به په مشترك ډول سره ګالل کېږي او يو کس به د هغه بوج ته يوازې نه پاتې کېږي، مګر د اوسنۍ بيمې سيستم داسې جوړشوی چې په هغه کې د بډايانو يو وړوکی ګروپ غواړي چې په دې نامه د ټولنې پيسې راجمع کړي او بيا دغه پيسې د خپلې شخصي ګټې په منظور وکاروي او خپل کار و بار وربانديې کوي. اسلامي بيمه بايد يو له بل سره د مرستې په جذبه او يو له بل سره د دوه اړخيزې همکارۍ او ضمانت په بنا جوړه شي، که له چاسره مرسته کېږي هغه بايد له هغه ګډ مالي حساب څخه وشي کوم چې په دې منظور جوړشويدی او هدف يې دګټې ګټل نه دي. د بيمې کمپنۍ دګټې په منظور د هغه مالي حساب پيسې په کار اچولی شي چې د پانګونې (Investment)په خاطر جوړ دی.

2. د پانګونې اسلامي طريقه بايد وکارول شي: اسلامي بيمه کمپنۍ بايد په هغو لارو کې پيسې وکاروي چې شريعت يې جواز ورکوي، له سود او غرر څخه پاکې وي، لکه مشارکت، مضاربت او داسې نور. معلومه ده چې اوسنۍ بيمه خپلې پيسې په سودي کار و بار کې کاروي او هم په کې د غرر او قمار عناصر ليدل کېږي چې دا شرعا ناروا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تکافل يا اسلامي بيمه:

اسلامي فقهاوو ددې لپاره چې د بيمې اسلامي عوض يا بديل يې وړاندې کړی وي ډېر کار کړی او په دې اړوند له ډېرو کنفرانسونو او بحثونو وروسته دې نتيجې ته رسيدلي چې تعاوني شرکت د اوسنۍ غير اسلامي بيمې ښه بديل کېدلی شی.ځکه په دې سيستم کې ګټه په خپله د بيمې د پاليسۍ لرونکو تر مينځ شريکه وي، خو دغه وړانديز په بيمه کې د شخصي سکتور رول محدودوي يا په بل عبارت شخصي سکتور ته پکې څه رول نه ورکول کېږي .

ځينو علماؤ ددغه مشکل د له مينځه وړلو په منظور د اسلامي بيمې د يو بل شکل وړانديز وکړ چې هغه ته د تکافل سيستم (سکېم) وايي کوم چې د تبرع او مضاربت په عناصرو ولاړ دی. "تکافل" د مشترك ضمانت معنی ورکوی. د تکافل هدف د يو ګروپ يا يوې ډلې د غړو تر مينځ دوه اړخيزه(mutual) مرسته ده.يا په بل عبارت تکافل د ملکيت يا مال د زيانمن کېدو په صورت کې د يوه ګروپ د غړو تر مينځ د مشترك ضمانت يوه طريقه ده، دګروپ غړي په دې توافق کوي که چيرې يو د دوی څخه د څه ناورين يا حادثې ښکارکيږي، نو هغه ته به يو معين مقدار پيسې ورکول کېږي، ټول غړي د تکافل هڅه کوي چې له ضرورت مند سره مرسته وکړي. د تکافل غړي په کلني ډول سره يو معين مقدار پيسې کمپنۍ ته ورکوي دغه سهم (پيسې) بيا په دوو برخو ويشل کېږي، يو لوی مقدار ددغه پيسو د پانګونې حساب ته ځي او د اعانه ورکونکي يا د پيسو د مالك ملکيت پاتې کېږي. هغه بله برخه چې نژدې ۲-۵% پورې اعانه تشکېلوي د وقف حساب ته ځي او تبرع تصور کېږي.

د تکافل کمپنۍ دغه مجموعي پيسې د مضاربې په کار و بار اچوي او يا په بل داسې کار و بار چې شرعا جواز ولري لکه مشارکت او داسې نور او که څه ګټه وشي هغه د مخکني نسبت په حساب د پانګونې او د وقف له حساب سره يو ځای کيږي يعنې دګټې د۲څخه تر ۵% پورې د وقف حساب ته ځي او پاتې نوری د پانګونې حساب (سرمايه) ته.



د تکافل هدف شايد د ژوندون بيمه وي او يا د خطر په مقابل کې د ملکيت او مال بيمه کول (Risk insurance of property)، که چيرې مخکې له دې څخه چې د بيمې مودت ختم شي بيمه کړل شوی شخص مړشي د ژوندون د بيمې په صورت کې او يا د چا په ملکيت باندې کوم خطر(تاوان) راشي کوم چې بيمه کړی شويدی، نو په دې صورت کې به کمپنۍ نوموړي شخص ته هغه پيسې بيرته سپاري کومې چې هغه د پانګونې په حساب کې اچولې دي، سره له هغه ګټې چې په دغو پيسو شويده. او بل عنصر د وقف له حساب څخه به جبران کېږي تر څو اړتيا يې رفع شي او يا تر يوه معين حده د تاوان جبران وشي. څرنګه چې دغه کمپنۍ د پانګونې اسلامي طريقه کاروي نو دا د سود څخه پاکه بيمه ده، قيمار او غرر نشته پکې او که چيرې لږ شان ته غرر په کې وي هم هغه دومره حد ته نه رسيږي چې د تکافل د تحريم سبب شي .

### د تکافل يا اسلامي بيمه ( کمپنيو [39]لست:

عربي هيوادونه:

نوټ:د لاندنيو کمپنيو له جملې څخه ځنې سره له دې چې پوره د تکافل کمپنۍ نه دي مګر بيا هم د تکافل له کار و بارسر ه تړاو لري، نو ځکه په دې لست کې شامل کړی شويدي .

| هيوادونه<br>**Country(s)** | کلونه<br>**Year(s)** | کمپنۍ<br>**Company(s)** |
|---|---|---|
| بحرين | *1992* | السلام اسلامك تکافل کو<br>Al-Salam Islamic Takaful Co. |

[39]- د تکافل دغه لست له لانديني ويب پاڼې نه تر لاسه شوی:
http://islamic-finance.net/islamic-insurance/takaful-co..html

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| بحرين اسلامك انشورنس كو.<br>Bahrain Islamic insurance co. | *1992* | بحرين |
| اسلامك انشورنس انڈ ري انشورنس كو.<br>Islamic insurance and Re-insurance Co. | *1985* | بحرين |
| شركة التكافل الاسلاميه<br>Sharikat Takaful al-Islamiyah | *1983* | بحرين |
| تكافل انٹرنشنل<br>Takaful international | *1989* | بحرين |
| اسلامك انشورنس كو. پي ايل سي.<br>Islamic insurance Co. Plc. | *n.d* | اردن<br>Jordan |
| انٹرنشنل كمپنی فار كواپريٹيو انشورنس<br>International company for cooperative insurance | *n.d* | كويت<br>Kuwait |
| قطر اسلامك انشورنس كو.<br>Qatar Islamic insurance Co. | *1994* | قطر<br>Qatar |
| الامانه كواپريٹيو انشورنس (الراجحي) | *1985* | سعودي عربستان |



| | | |
|---|---|---|
| Al-Aman cooperative insurance (al-Rajihi) | | S.Arabia |
| گلوبل اسلامك انشورنس كو.<br>Global Islamic Insurance Co. | *n.d* | S.Arabia/Bahrain<br>سعودي عربستان، بحرين |
| انٹرنشنل اسلامك انشورنس كو.<br>International Islamic insurance co. | *n.d* | S.Arabia/UAE<br>متحده عربي امارات، سعودي |
| اسلامك عرب انشورنس كو.<br>Islamic Arab insurance co. (Dallah al-Baraka group) | 1979 | S.Arabia<br>سعودي عرب |
| اسلامك عرب انشورنس كو.<br>Islamic Arab insurance co. (IAIC) | n.d | S.Arabia/UAE<br>متحده عربي امارات، سعودي |
| اسلامك كواپريٹيو فار انشورنس اف انوسٹمنٹ انڈ ايكسپورٹ كريڈيٹ<br>Islamic corporation for insurance of investment and export credit | 1995 | S.Arabia<br>سعودي عربستان |
| اسلامك انشورنس انڈ كو<br>Islamic insurance and reinsurance Co.(IIRCO) | 1985 | S.Arabia/Bahrain<br>بحرين، سعودي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| | | عربستان |
| اسلامك انټرنيشنل انشورنس كو. (سلمټ)<br><br>Islamic international insurance Co. (salamat) | 1985 | S.Arabia/UAE<br><br>متحده عربي امارات، سعودي عربستان |
| اسلامك تكافل انډ ريتكافل كو.<br><br>Islamic Takaful and Re-Takaful Co. | 1986 | S.Arabia/Bahamas<br><br>بحاماس، سعودي عرب |
| اسلامك تكافل ايند ريتكافل كو. (بحاماس)<br><br>Islamic Takaful and Re-Takaful Co. (Bahamas) | 1983 | Bahamas<br><br>بحاماس |
| اسلامك يونيورسل انشورنس<br><br>Islamic universal insurance | n.d | S.Arabia/Bahrain<br><br>بحرين، سعودي عربستان |
| نشنل كوآپريټيو انس كو.<br><br>National cooperative Ins Co. (NCCI) | 1986 | سعودي عربستان |



| | | |
|---|---|---|
| تكافل اسلامك انشورنس كو. بحرين<br><br>Takaful Islamic insurance Co.Bahrain | n.d | S.Arabia/Bahrain<br><br>سعودي عربستان. بحرين |
| البركه انشورنس كو.<br><br>Al Baraka insurance Co. | 1984 | سوډان |
| اسلامك انشورنس كو.<br><br>Islamic insurance Co. | 1979 | سوډان |
| شيكن انشورنس كو.<br><br>Sheikan insurance Co. | n.d | سوډان |
| دي نشنل ري انشورنس كمپني (سوډان)<br><br>The national Re-insurance company (Sudan) Ltd. | n.d | سوډان |
| دي يونايټيډ انشورنس كمپني (سوډان)<br><br>The united insurance company (Sudan) Ltd. | 1968 | سوډان |
| وطني كوآپريټيو انشورنس كو. | 1989 | سوډان |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| Watania co-operative insurance Co. | | |
| بيسټ لدت ايتهمين تونيس سعودي<br>BEIT ladat Ettamine Tounsi Saudi (Best Re) | 1985 | Tunisia<br>تو نس |
| الينس انشورنس<br>Alliance insurance | 1985 | متحده عربي امارات |
| Oman insurance Co.<br>عمان انشورنس کو. | 1985 | متحده عربي امارات |
| دي اسلامك عرب انشورنس کو.<br>The Islamic Arab insurance Co. | 1980 | متحده عربي امارات |

غير عرب اسلامي هيوادونه

| | | |
|---|---|---|
| انشورنس اسلام تيب سينډي برهډ<br>Insurance Islam TAIB sendirian Berhad (IITSB) | *1993* | Brunei<br>بروناي |
| تبونګ امانه اسلام<br>Tabung Amanah Islam | *1993* | Brunei<br>بروناي |



| | | |
|---|---|---|
| تکافل انډ ريتکافل کو<br>Takaful and Re-Takaful Co. | *1993* | Brunei<br>بروناي |
| تکافل اب برهډ<br>Takaful Ab birhad | *1993* | Brunei<br>بروناي |
| لايف تکافل<br>Life Takaful (pte) | *1999* | بنګلديش |
| جنرل تکافل<br>General Takaful (pte) | *1999* | بنګلديش |
| سيريکاټ تکافل اندونيشيا<br>Syarikat Takaful Indonesia | *1999* | اندونيزيا |
| پي ټي اسورنسي تکافل کېلورګه<br>PT Asuransi Takaful keluarga | *1994* | Indonesia<br>اندونيزيا |
| پي ټي انسورنسي تکافل اموم<br>PT asuransi Takaful Umum | *1994* | Indonesia<br>اندونيزيا |
| پي ټي سريکاټ تکافل<br>Pt Syarikat Takaful | *1994* | Indonesia<br>اندونيزيا |
| تکافل انشورنس | *1994* | Indonesia |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| Takaful asuransi | | اندونیزیا |
| اسین ریتکافل انټرنیشنل<br>Asian Re-Takaful international (L) Ltd. (ARÿIL) | 1997 | Malaysia<br>مالیزیا |
| اسین تکافل ګروف<br>Asean Takaful group (ATG) | 1996 | Malaysia<br>مالیزیا |
| سیریکټ تکافل مالیزیا بهډ<br>Syarikat Takaful Malaysia Bhd. | 1984 | Malaysia<br>مالیزیا |
| تکافل نیشنل بهډ<br>Takaful national Bhd | 1993 | Malaysia<br>متلیزیا |
| احلاس سیګورته<br>Ihlas sigorta As | 1993 | Turkey<br>ترکیه |



# نهم فصل

## په اقتصاد کې د حکومت رول

- **حکومت او د حکومت دندې:**

اسلامي حکومت: هغه حکومت ته ویل کیږي چې قدرت او سلطه پکې د الله (جل جلاله) وي، یعنې د الله تعالی دین پکې حاکم وي. په دغه حکو مت کې دالله (جل جلاله) رضا تر ټولو لوړ هدف، اسلامي شریعت اساسي قانون، ولس مشر د الله (جل جلاله) خلیفه دی او وظیفه یې د الله (جل جلاله) د اوامرو پلي کول دي، ټول قوانین باید د قرآن او احادیثو په رڼا کې جوړ شي.

اسلامي اقتصادي سیستم دکمونستي اقتصادي سیستم برخلاف یو آزاد سیستم دی خو دغه آزادي بې پولې نه ده بلکه د شریعت تر چوکاټ پورې محدوده ده، نوځکه پدې سیستم کې د حکومت رول لږ خو مهم دی، حکومت د اقتصادي بې عدالتۍ د له مینځه وړلو او اقتصادي ثبات راوستلو په شان مهمې دندې په غاړه لري، د مثال په توګه حکومت وظیفه لري د انحصار (مناپولۍ) مخنیوی وکړي او داسې نور.

همدارنګه د ځینو عام المنفعه شیانو برابرول هم د حکومت کاردی، په ځانګړې توګه هغه دکومو لپاره چې شخصي سکتور زړه نه ښه کوي او یا ډېرو لوړو مصارفو ته اړتیا لري لکه د امنیت ساتنه، ښوونه او روزنه، ساینس او تکنالوژي، بریښنا ....

له نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت دی:

حَدَّثَنَا أَبُو خِدَاشٍ وَهَذَا لَفْظُ عَلِيٍّ عَنْ رَجُلٍ مِنْ الْمُهَاجِرِينَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا أَسْمَعُهُ يَقُولُ الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ فِي الْكَلَإِ وَالْمَاءِ وَالنَّارِ (40)

---

40- المصدر: سنن ابي داود، الكتاب: البيوع، الباب: في منع الماء ، رقم الحديث: ٣٠١٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: ابو خداش (رضي الله عنه) روایت کړی او دا لفظ د علي دی چې د نبي کريم (عليه السلام) له مهاجرو ملګرو څخه له يوه مهاجر نه يې روايت کړی وايي: له نبي کريم (ص) سره مې درې ځله په غزا ګډون کړی،اوريدل به مې چې فرمايل يې: مسلمانان په دريو شيانو: ورشو، اوبو او اورکې سره شريك دي.

له اور څخه مونږ د انرژۍ مفهوم اخستلای شو، ددې لپاره چې طبيعي زيرمې (ګاز، اوبه، تيل) ،انرژي (بريښنا ...) ټولو عوامو ته په عدل سره وويشل شي ددغو شيانو ملکيت بايد له حکومت سره وي نه له شخصي سکتور سره ځکه په حکومت کې ټول خلك سره شريك دي او که د ضرورت په بنا شخصي سکتور ته ورکړل شي نو بيا بايد د انحصار مخه ونيول شي او حکومت بايد د عوامو حقوق خوندي وساتي او بيځايه د نرخونو د لوړوالي مخنيوی وکړي.

د امام غزالي د قول مطابق حکومتونه په څلور ډوله دي چې ټول په يوه وخت کې وجود لري:

I. حکومت العليا(شريعة) :د شريعت حکومت هغه چې د خلکو په ظاهر او باطن دواړو باندې يې حکم چليږي يعنې د خلکو باطن او ظاهر، خاص او عام دواړه د شرعي احکامو تر حکم او اثر لاندې دي.

II. د خلفاوو، شاهانو او يا اميرانو حکومت: دغه حکومت د ټولنې په عمومي مسائلو کې د لاس وهنې يا اداره کولو قدرت لري او ددې لپاره چې د يوه هيواد ادارې په ښه ډول سره وچليږي قوانين جوړولی شي خو د دوی قدرت يوازې تر اجتماعي امورو پورې محدود وي او د خلکو په شخصي امورو باندې قدرت نه لري د دوی امرونه يا حکمونه په خاص او په عام دواړو باندې مشتمل دي مګر په ظاهر د خلکو نه په باطن باندې.

III. د علماوو حکومت: چې هغوی د انبياوو (ع) وارثان دي، حکومت يې يوازې د خاصو خلکو پر باطن باندې دی او عام خلك د دوی تر حکم لاندې نه راځي او په ظاهر د خلکو يې هم حکم نشي عملي کېدلی.



IV. د داعيانو حکومت: ددوی حکومت يوازې په باطن د عامو خلکو مشتمل دی يعنې عام عوام ددوی تر اغيزې او اثر لاندې راځي .

ددې لپاره چې په يوه هيواد کې ښه او پياوړی حکومت وجود ولري لاژمه ده چې دغه پورته ټول ذکر شوي حکومتونه او يا اشخاص موجود وي او يو له بل سره همکاري ولري او په ګډه سره د عوامو دسوکالۍ لپاره کار وکړي، که چيرې له دغو پورته ذکر شويو کسانو څخه کوم يو نه وي نو بيا په درست ډول سره حکومت نشي چليدلی د بيلګې په توګه که علماء له مينځه لاړشي نو په عالمه طبقه باندې به اثر او حکومت له مينځه ولاړ شي او ګډوډي به رامينځ ته شي، نو لاژمه ده چې حکومت دغه ټول پورته ذکر شوي حکومتونه قبول کړي او له هغو سره د تفاهم له لارې د هيواد ادارې چارې پر مخ بوځي له بده مرغه په تيرو وختو نو کې زمونږ حکومتونو دغو مسايلو ته پام نه دی کړی او په يوازې سر ((حکومت د اميرانو)) سره يې د هيواد چلونې هڅې کړيدي او دغه نور حکومتونه (حکومت العليا(الشريعة)،د علماؤ حکومت، او داعيانو حکومت) يې له پامه غورځولی و او د دوی دغه عمل زمونږ دګران هيواد افغانستان د تباهۍ سبب شويدی.

## د حکومت دندې:

دحکومت مهمې دندې عبارت دي له:

1. د غريبۍ او بيکارۍ له مينځه وړل
2. د پيسو د حقيقي ارزښت ساتنه
3. د قانون (شريعت) عملي کول
4. د ټولنيز او اقتصادي عدالت تامينول
5. د امنيت ساتل او په عادلانه ډول د عايد ويش
6. نړيوالې اړيکې او قوي دفاع

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به په لنډ ډول د حکومت دغه پورته ذکرشوې دندې وڅیړو:

### ۱ – د غربت او بیکارۍ له منځه وړل:

څرنګه چې اسلام پدې نظر دی چې د ټولو وسایلو اصلي مالك الله (ج) دی، مال او ثروت مونږ ته د امانت په ډول راکړل شویدی، نو دا باید د الله تعالی د اوامرو مطابق وکارول شي، حکومت پدې کې اهم رول لري، د زکات ټولول او ویش د حکومت کاردی، حکومت باید د وسایلو په استعمال کې هغه کارونو ته اولویت حق ورکړي چې عوامو ته د کار ډېر شرایط برابرکړي او ټولنی ته ګټور وي، ددې هدف د تحقق لپاره حکومت دوه لارې لري:

**لومړی پلان کول:** حکومت باید داسې پلان جوړکړي ترڅو وسایل په هغه سکتورکې وکارول شي د کوم چې اړتیا او فایده چې ډېره وي او ددې تر څنګ د انفلاسیون مخنیوی هم وکړي.

**دوهم د اقتصادي زیربنا برابرول:** د هر هیواد د اقتصادي پرمختګ لپاره د فزیکي او ټولنیزې زیر بنا موجودیت اړین دی او بې لدېنه پرمختګ ناشونی دی، دغه فزیکي زیربنا لکه د سرکونوجوړول، ښوونه او روزنه،..... ډېرو لوړو مصارفو ته اړتیالري او شخصي سکتور ورته کمه پاملرنه کوي ځکه ګټه یې کمه ورته بریښي، نو دا زیر بنا باید حکومت برابره کړي.

### ۲-د پیسو د اصلي ارزښت ساتنه:

د نني عصر یو لوی مشکل د انفلاسیون مسلسل زیاتوالی او ددې په وجه د پیسو د اصلي ارزښت کمی دی، نو ددې مشکل د حل لپاره حکومت باید په خپلو اقتصادي پالیسیو کې له احتیاط څخه کار واخلي.



**۳-قانون او نظم:** د قانون عملي کول او د ټولنې امنیت ساتل د حکومت له اصلي دندو څخه دي، ترڅو چې په کومه ټولنه او هیوادکې نظم او قانون پلی شوی نه وي ترهغې پورې هلته اقتصادي پرمختګ مینځته نشي راتلی، په بې امنه هیواد کې څوك پانګه اچونې ته زړه نه ښه کوي. پانګه د هغه مرغه په شان ده چې همیش په هوا کې ګرځي او د ښه مناسب او پور امنه ځای په لټه کې وي او کوم ځای چې ورته ښه ښکاره شي هلته کېني، نو حکومت باید داسې شرایط برابر کړي چې د پانګوالو توجه را جلب کړي . نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى أَتَدْرُونَ أَيُّ يَوْمٍ هَذَا قَالُوا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّ هَذَا يَوْمٌ حَرَامٌ أَفَتَدْرُونَ أَيُّ بَلَدٍ هَذَا قَالُوا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ بَلَدٌ حَرَامٌ أَتَدْرُونَ أَيُّ شَهْرٍ هَذَا قَالُوا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ شَهْرٌ حَرَامٌ قَالَ فَإِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا [41]

ترجمه:له ابن عمر(رض) څخه روایت دی وایي چې نبي کریم (ص) په منی کې وفرمایل:آیا پوهیږئ چې داکومه ورځ ده؟ دوی وویل چې الله (ج) او رسول ښه پوهیږي، ویې فرمایل: دا حرامه ورځ ده، آیا پوهیږئ چې دا کوم ښار دی؟ دوی وویل چې الله (ج) او رسول یې ښه پوهیږي، ویې فرمایل: داحرام ښار دی،آیا پوهیږئ چې داکومه میاشت ده؟ دوی وفرمایل الله (ج) او د هغه رسول ښه پوهیږي ویې فرمایل: دا حرامه میاشت ده،او ویې فرمایل: پس الله پاك ستاسې وینې او ستاسو مالونه او ستاسوعزت او آبرو په یو او بل باندې داسې حرام کړي لکه ستاسو دغه ورځ، ستاسو په دغه میاشت کې ستاسو په دغه ښارکې .له دینه دا په ډاګه شوه چې د عوامو د ژوند او مال ساتنه د حکومت کار مسئولیت او دنده ده.

[41]- المصدر: صحیح البخاري، الکتاب: الادب ، الباب: قول الله تعالی یا ایهاالذین آمنوا لایسخر قوم من... ، رقم الحدیث: ۵۵۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴-ټولنيز او اقتصادي عدالت:

د اسلام له نظره ټولوخلکو ته په يوه نظرکتل کېږي، د غريب او اميرترمينځ توپير نشته قانون او حکومت ورته په يوه سترګه ګوري، نوځکه بايد هيڅ تبعيض ونه شي او حکومت بايد ټولو عوامو ته يوشان اساتنياوې او دکار شرايط برابرکړي. او هم شخصي سکتور وځاري ترڅو دکارګرواو مصرف کونکو سره بې عدالتي ونشي

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا وَاصِلٌ الْأَحْدَبُ قَالَ سَمِعْتُ الْمَعْرُورَ بْنَ سُوَيْدٍ قَالَ رَأَيْتُ أَبَا ذَرٍّ الْغِفَارِيَّ رَضِيَ الله عَنْهُ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ وَعَلَى غُلَامه حُلَّةٌ فَسَأَلْنَاهُ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ إِنِّي سَابَبْتُ رَجُلًا فَشَكَانِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اَللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعَيَّرْتَهُ بِأُمِّه ثُمَّ قَالَ إِنَّ إِخْوَانَكُمْ خَوَلُكُمْ جَعَلَهُمْ اَللهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ فَمَنْ كَانَ أَخُوهُ تَحْتَ يَدِه فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ وَلَا تُكَلِّفُوهُمْ مَا يَغْلِبُهُمْ فَإِنْ كَلَّفْتُمُوهُمْ مَا يَغْلِبُهُمْ فَأَعِينُوهُمْ (42)

ترجمه: معرور بن سويد وايي: ابوذر غفاري رضي الله عنه مې په داسې حال کې چې يوه نوې جامه (چپنه) يې اغوستې ده او يوه يې غلام اغوستې وه وليد ، نو ددې پوښتنه مو ترې وکړله، ويې ويل يوه سړي ته مې ښکنځلې وکولې، نو هغه له ما نه نبي کريم :صلی الله عليه وسلم ته شکايت وکړ، ما ته نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: آيا د مور پيغور دې ورکړې؟ بيا يې وفرمايل: ستاسې ورونه ستاسو چوپړيان دي، الله پاك ستاسې تر لاس لاندې ګرځولي، نو د چا چې خپل مسلمان ورور تر لاس لاندې وي له هغه څه نه چې دى يې خوري هغه ته هم ورکوي او له هغه څه نه چې اغوندي يې هغه ته هم ورواغوندي، او داسې کار مه ورته سپارئ چې په دوی زورور وي او که مو ورته وسپارلو بيا نو د هغه په سرته رسولو کې مرسته ورسره وکړئ. له پورتني حديث څخه دا څرګنديږي چې د اصغری تنخوا او دکار د ساعتونو ټاکل د اسلام له نظره جوازلري

42- المصدر: صحيح بخاري، الكتاب: العتق، الباب: قول النبي العبيد اخوانكم فاطعموا مما تآكلون ، رقم الحديث: ۲۳۵۹



## ۵- د امنيت تامين او په عادلانه ډول د عايد ويش:

د امنيت مهيا کول د اقتصادي پرمختګ لپاره لازمي شرط دی، په غير عادلانه ډول د عايد ويشل د بې امنۍ او ګډوډۍ مهم عامل دی، د عايد غير عادلانه ويش د غريب او امير تر مينځ نفرت او کرکه پيدا کوي او غريب دې ته اړ باسي چې په نا مشروع لاره له اميرانو څخه مال تر لاسه کړي لکه غلا ،قتل ...

داسلام مبارك دين په هر څه کې د عدل مراعاتولو حکم کوي د حکومت لپاره دا پکار ده چې په ټولنه کی د شريعت اوامر پلي کړي لکه د زکات راټولول، د ميراث اسلامي قانون پلي کول، له حرامو څخه منع کول د غلا او رشوت مخه نيول .... ددغو کارونو د ترسره کولو په وسيله په ټولنه کې د غريب او امير ترمينځ د عايد د لوی توپير د مينځ ته راتګ او زياتوالي مخنيوی کيدی شي.

## ۶- نړيوالې اړيکې او قوي دفاع:

يو اسلامي هيواد بايد له نورو هيوادونو او نړيوالو سره ښې اړيکې ولري البته د اسلام تر قوانينو لاندې او ددې تر څنګ کفارو ته د اسلام ښه تصور وړاندې کړي او له کفارو او نورو سره دکړيو لوظنامو او تړونونو مراعات وکړي. مګر ددې تر څنګ بايد د ملك ددفاع توان هم ولري لکه الله (ج) چې فرمايي:

وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِه عَدُوَّ اللهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ،، (الأنفال59)

ترجمه: او تياروئ (اې مومنانو) لپاره (د جنګ ) ددغو (ماتوونکو د عهد يا د مطلق کفارو) څومره چې توانيږئ (جمع کولی شئ) تاسې له قوت (اسباب د جنګ) چې وويروئ تاسې په دغه (قوت اوتيارى) سره دښمنان د الله او دښمنان ستاسې او نورکسان بې له دوی نه چې نه پيژنئ تاسې هغوی الله عالم دی په (عداوت د) هغوی او هر هغه څه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفقه کوئ تاسې له یوه شي په لاره د الله کې (لپاره د دین) پوره (بدل د هغه) به درکړی شي تاسې ته حال دا چې پر تاسې به ظلم ونه کړی شي(د ثواب په لږوالي او د عذاب په ډیروالي) .

د اقتصادي پرمختګ لپاره د نړیوالو سره د ښو اړیکو ساتل اړین دي تر څو زمونږ سوداګر پدې وتوانیږي چې له بهرنیو هیوادونو سره په ښه توګه تجارت وکړی شي او هم نور هیوا دونه خصوصا اسلامي هیوادونه تشویق کړی شي چې زمونږ په هیواد کې پانګه واچوي تر څو عوامو ته دکار شرایط برابر کړی شو.

## د حکومت د عاید سرچینې:

د یوه اسلامي حکومت د عاید لارې (سرچینې) په لاندې ډول دي:

1. زکات او عشر**:** زکات د اسلام څلورمه بنا ده، د زکات ورکول په هر بډای مسلمان باندې فرض دی، د زکات راټولول د حکومت دنده ده، له زکات نه د غریبۍ په له مینځه وړلو او عام المنفعه کارونو کې کار اخستل کېداي شي، عشر د ځمکې یا حاصل زکات دی.

2. عاید د طبیعي منابعو څخه: طبیعي منابع لکه معدن اوکان، د تیلو زیرمې او داسې نور

3. وقف او صدقه: د ملکیت یا مال وقف (خاص) کول دي ا لله تعالی ته او هغه پدې ډول چې خپل مال د الله (ج) په لاره کې د مصرف لپاره ورکړی شي او صدقه هم د الله (ج) د رضا لپاره د مال مصرف ته ویل کېږي او صدقه په دوه ډوله ده یو واجب صدقه (زکات)او دوهم ډول نفلي صدقه ده. د اسلامي حکومت په موجودیت کې صدقه باید خلیفه (بیت المال) ته وسپارل شي، د اسلامي حکومت د نه موجودیت په صورت کې څرنګه چې د عوامو سره دا ویره وي چې د دوی مال (صدقات ...) به د الله



(ج) د اوامرو مطابق ونه کارول شي دوی کولی شي چې په مستقیم ډول صدقات مستحقینو ته ورکړي.

4. جزیه، خراج او خمس: کله چې کوم غیر مسلم د اسلامي حکومت اوامرو ته غاړه کېږدي حکومت د دوی د مال او ځان ساتلو دنده په غاړه لري لکه د نورو هیوادوالو په شان، حکومت له دوی څخه ددې په بدل کې ټکس (جزیه) اخلي. د جزیه په اړوند ا لله تعالی فرمایي:

قَاتِلُوا الّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالله وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرّمُونَ مَا حَرّمَ الله وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقّ مِنَ الّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ. (التوبة28)

ترجمه: وجنګیږئ تاسې له هغو کسانو سره چې نه راوړي ایمان پر الله (ج) او نه په ورځې د آخرت باندې او نه حرام ګڼي دوی هغه چې حرام کړي دي الله (ج) او رسول د هغه او نه قبلوي دوی دین حق (اسلام) له هغو کسانو نه چې ورکړ شویدي دوی ته کتاب تر هغه پورې چې ورکړي دوی جزیه له لاسه حال دا چې دوی ذلیل وي.

خراج:که د اسلا مي دولت لخوا دکفارو ځمکه فتحه شي او بیا دا ځمکه هغوی ته پریښودل شي چې د ټکس (مالیې) په بدل کې یې وکري، دیته خراج وایي. د لومړي ځل لپاره دغه پالیسي د حضرت عمر(رض) لخوا د سوریې او عراق په ځمکو کې عملي شویده،کله چې دغه سیمې فتحه شوې ځینو اصحاب کرامو غوښتنه وکړه چې دا باید د غنیمت په ډول په مجاهدینو وویشل شي، مګر حضرت عمر (رض) دا ونه منله ځکه چې دومره زیاته ځمکه مجاهدینو په موثر ډول نشوي کارولی نو ځکه یې د مالیې (خراج) په بدل کې د همغو ځای خلکو ته پریښوده.

خمس: د غنیمت او معدن (سره زر،سپین زر ..) پنځمه حصه بیت المال ته ورکول فرض دي او دیته خمس وایي، الله (ج) فرمایلي دي :

وَاعْلَمُوا أَنّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنّ لِلّه خُمُسَهُ وَلِلرّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السّبِيلِ إِنْ كُنتُمْ آمَنْتُمْ بِاللّه وَمَا أَنزَلْنَا عَلَى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْجَمْعَانِ وَاللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. (الأنفال**40**)

ترجمه: او پوه شئ بيشکه هر هغه شي چې په غنيمت واخستل تاسې له يوه شي نه نو بيشکه الله (ج) لره دی خمس د هغه او له پاره د رسول او له پاره د خپلوانو (د رسول الله او لپاره) د يتيمانو او مسکينانو او مسافرانو، که ايمان لرئ په الله (ج) او په هغو چې نازل کړيدي مونږ پر بنده خپل په ورځ د فيصلې کې هغه ورځ چې سره مخامخ شولې دواړه جمعې (ډلې) او الله (ج) پر هر شي باندې ښه قادر دی.

5. ټکس: که چيرې د حکومت لګښتونه يا بوديجه د پورته ذکر شوو منابعو څخه (زکات، عشر، خراج، جزيه، صدقات ..) پوره نشي، نو بيا حکومت د ضرورت په اساس ټکس لګولی شي.

6. د وارداتو ټکس يا عشور(Import duty): عشور د لومړي ځل لپاره د حضرت عمر(رض) لخوا ولګول شو په هغو تجارانو چې اسلامي خلافت ته به يې تجارتي مالونه راوړل، ځکه په هغه وخت کې ايران او روم په هغو مسلمانو تجارو چې د دوی هيوادونو ته يې تجارتي توکي وړل د واريدولو ټکس لګولی و، نو حضرت عمر(رض) متقابلا ددوی پر تجارو هم ټکس ولګولو. دا ټکس په کال کې يو ځل اخستل کېده.

7. د حکومت د عايد نورې لارې: که چيرې د حکومت اړتياوې د پورته ذکر شوو منابعو په وسيله پوره نشي بيا حکومت قرض اخستلای شي خو دا پور به بې سوده وي، ځکه چې سود حرام دی، ددې تر څنګ حکومت د ځينو پروژو د تمويلولو لپاره د مشارکې او مضاربې اسناد يا سرټيفيکېټ او سکوک (اسلامي بانډ) هم مارکېټ ته عرضه کولای شي.



# لسم فصل

## داسلامي دولت مالي او پولي پاليسي

له مالي پاليسۍ (Fiscal Policy ) نه هدف حکومتي مصارف او ماليه (ټکس) اخستنه ده. او په پولي پاليسۍ (Monetorary Plicy) يا پولي سياست کې د پيسو چاپول او د هغې د ارزښت د ساتنې لارې چارې شاملې دي.

### په اسلامي دولت کې د مالي پاليسۍ اهداف:

په غير اسلامي هيواد کې مالي پاليسي ددې لپاره کارول کېږي تر څو د خلکو لپاره په دنيا کې عظمي مادي ګټه ترلاسه شي او د خلکو اخلاقي او روحي اړتياوو ته توجه نه کېږي. د مالي پاليسي هدف دوسايلو ښه ويش،اقتصادي ثبات، اقتصادي وده (پر مختګ) او دعوايدو با انصافه ويش دی.

په اسلام کې مالي پاليسي د شرعي اهدافو[مقاصد شريعه: حفظ الدين ، حفظ العقل حفظ المال، حفظ النسل....] د ترلاسه کولو يوه وسيله ده . مالي او پولي پاليسۍ بايد داسې جوړې شي چې د عوامو د مادي ښېګڼې تر څنګ د هغوی روحي او اخروي مفاد هم په کې خوندي وي. لنډه دا چې مالي پاليسي بايد داسې جوړه شي چې د خلکو د اخروي ګټو په نظر کې نيولو سره سره د هغوی د دنيوي ژوند سطحه لاپسې ښه شي.

### مالي پاليسي او د وسايلو ويش :

مالي پاليسي بايد داسې جوړه شي چې د مادي او روحي (اخلاقي) اهدافو په لاسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړلو کې مثبت رول ولوبوي. لاژمي ده په یوه هیوادکې وسایل داسې استعمال او وکارول شی چې اسراف په کې ونشي او هم د راتلونکو نسلونو اړتیاوې په نظر کې ونیول شي. شخصي او حکومتي سکتور باید حلال یا روا شیان تولید کړي. دولت باید د عوامو اړینو (ضروري) شیانو ته لکه ښوونې، روغتیا، سرکونو او داسې نورو عام المنفعه کارونو ته توجه وکړي. ددې تر څنګ باید دولت د هیوادوالو روحي روزنې ته هم پام وکړي.

د ابن خلدون په نظر هغه کارونه باید وشي کوم چې عوامو ته ډېره ګټه رسوي او داسې کار باید ونشي کوم چې له ګټې څخه یې تاوان ډېر وي. په ظاهره خو دغه خبره ډېره ساده معلومیږي مګر دا ډېره مهمه مسله ده، ډېر ځلې زمونږ حکومتونو داسې کارونه کړي چې له ګټې نه یې تاوان ډېر وي، د بیلګې په توګه د مطبوعاتو د آزادۍ تر عنوان لاندې په تلویزیون کې د داسې فلمونو او بدلو (سندرو) د خپرولو اجازه ورکول کیږي کوم چې زمونږ په ځوان نسل کې روحي او اخلاقي امراض خپروي او د هغې په نتیجه کې په ټولنه کې نا آرامي مینځته راځي او یا داسې مرضونه خپریږي چې بیا یې دولت دکنټرول وس نلري. همدا شان په بازار کې د نامشروع توکښو خرڅلاو در واخله.

## مالي پالیسي او اقتصادي ثبات:

د کال ۱۹۳۰ د لوی اقتصادي زوال (رکود، بحران) څخه وروسته اقتصادي مالي پالیسي د اقتصادي ثبات په لاسته راوړلو کې اهم مقام تر لاسه کړیدی.معنی دا چې د تولیدي موثریت په ښه کولو او د عمومي تقاضا په منظمولو او ترتیبولو کې اهم رول لري. د ابن خلدون په نظر اقتصادي زوال هغه وخت مینځته راځي کله چې له دولت څخه عوامو ته د پیسو انتقال بند شي.

د روپیو (پولي واحد) د ارزښت یا بیه ثابت ساتل د انفلاسیو ن کنټرول او اقتصادي پرمختګ لپاره اهم ګڼل کیږي. د نرخونو ډیر جګیدل او ښکته کیدل دواړه د اقتصادي ثبات او پرمختګ لپاره ګواښ ګڼل کیږي .



## ملي پالیسي او اقتصادي وده:

د اقتصادي ودې (پرمختګ) لپاره مالي سیستم باید داسې جوړ شي کوم چې عوام دکار کولو او سپما (Save)کولو څخه ډډه کولو ته ونه هڅوي، ډېر زیات ټکس لګول عوام د کار کولو او پانګونې (سرمایه اچونې) څخه منع کوي او پدې ډول د اقتصادي ودې (پرمختګ) په وړاندې خنډ ګرځي.

په مخ په وده (وروسته پاتې) هیوادونو کې مالي پالیسي د شتمنۍ په تولید او زیاتولو کې اهم رول لري. په اسلامي هیوادونو کې شتمني جوړول (Capital Formation) له هغې پانګونې (سرمایه ګزارۍ) څخه عبارت ده کوم چې د بشري قوې او مادي وسایلو په پرمختګ او وده کې او هم د عوامو په اخلاقي او روحي روزنه کې اغیزمنه واقع شي.

د مالي پالیسۍ هدف له ټولو وسایلو څخه عظمې کاراخستنه، خلکو ته دکار برابرول او د بیکارۍ له مینځه وړل ګڼل کیږي. احتکار په اسلام کې ناروا او زکات په هر مسلمان باندې چې صاحب د نصاب وي فرض کړی شوی چې دا ټول په اقتصادي پرمختګ کې اهم رول لري چې په راتلونکو کرښو کې به د زکات تر عنوان لاندې په تفصیل سره یادونه ورنه وکړو:

## د اقتصادي پرمختګ لپاره ضروري ټکي:

وسایل له غیر ضروري شیانو څخه د سرمایه جوړونې (Capital formation) اویا په اقتصادي پرمختګ کې د اغیزمنې اقتصادي زیر بنا جوړونې خوا ته لیږدول.

پانګې اچونې ته باید ځانګړې توجه وشي او کومې فابریکې چې په اقتصادي پرمختګ کې اهم رول لوبوي په هغوی باندې باید تر ټولو کمه مالیه (ټکس) ولګول شي.
او هم بهرنۍ پانګه اچونه او سرمایه اچونکي راجذب اوتشویق شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



I. د هیوا د له کانونو او معدنونو څخه په موثر ډول استفاده کول.

II. مالي پالیسي با ید په داسې شکل جوړه شي چې د اقتصادي پرمختګ تر څنګ د عاید ویش په منصفانه او عادلانه توګه سره وشي. څکه مساوا ت (عدل، انصاف) د اسلام له بنسټیزو اصولو څخه دي. اسلام په عادلانه او با انصافه ډول ټولو خلکو ته د وسایلو او مواقعو د ویش امر کوي. اسلام په یو څو لاسونو کې د دولت د جمع کېدو مخالف دی [د دغه اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د مالیاتو څخه کار اخستل کېدی شي ]

د حضرت عمر (رض) څخه روایت دی چې فرمایی: که چیرې یو کال نورهم ژوندی پاتې شوم دولت (عاید) او وسایل به په داسې ډول وویشم چې غریب به له امیر سره برابر شي. د زکات په موثر ډول استعمال د غریب او بډای تر مینځ توپیر تر ډېره حده را کمولی شي.

په اسلامي **هیوادکې مالیه** (**ټکس** ):

ټکس که راسا له چا څخه واخستل شي لکه د عاید مالیات هغه ته مستقیم ټکس وایي او که په غیر مستقیم ډول سره مثلا د نورو تجارتي توکېو د خرڅلاو د قیمت په صورت کې تر لاسه شي هغې ته غیر مستقیم مالیات وایي. له بل پلوه ټکس په درې ډوله دی تصاعدي مالیات، متناسب مالیات او تنازلي مالیات، زکات د متنا سب مالیاتو په ډله کې راځي. او دغه ډولونه په لاندي ګراف کې ښودلای شو.






## د مالیاتو په وسیله لاندې اهداف لاسته راوړل کېدی شي.

په پورته شکل کې مونږ مالیات په عمودي خط باندي کچه کوو او په افقي خط باندې عاید (در آمد) ښودل شویدی، په متناسبه مالیه کې د عاید په زیاتیدو او کمیدو سره په مالیه څه اثر نه پریوزي بلکه هغه معینه وي، په تصاعدي مالیاتي سیستم کې څومره چې د یوه سړي درامد (عاید) زیاتیږي په همهغه کچه په هغه باندې مالیه زیاتیږي .او په تنازلي مالیه کې ددې عکس خبره ده.

- د غیر ضروري شیانو د پیرودنې کمونه، یعنې د هغو شیانو پیرودل چې د صحت لپاره ګټور نه وي باید کم کړی شي، د بیلګې په توګه هیواد ته د سګریټو واریدول او خرڅلاو.

- د دولت د مصارفو او یا بودیجې برابرول، دا څرګنده ده چې هیواد د تل لپاره په پورونو او د بهرنیانو په مرستو سره نه شي چلیدلی نو مالیات د دولت د بودیجې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابرولو یوازینۍ لاره ده.

- له مالیاتو (ټکس) څخه د اقتصادي ثبات لپاره او هم د عمومي تقاضا د کنټرول او تنظیم په لاره کې کار اخستل کېدی شي.[امونږ کولی شو چې په وارداتو باندې لوړ مالیات ولګوو او په دې وجه خپل وادرات (طلب، تقاضا) را کمه کړو]

- په ټولنه کې د غریب او بډای تر مینځ د عاید د تفاوت د له مینځه وړلو(کمولو) په موخه حکومت کولی شي چې په در امد باندې تصاعدي مالیات ولګوي، یعنې څومره چې د یوه سړي درامد زیات وي په همهغه اندازه ور باندې زیاته مالیه ولګیږي.

## په اسلامي هیوادکې د مالیاتي(ټکس) سیستم جوړونه

ټکس تر یوه حده تصاعدي کېدی شي خو له هغه نه پورته او زیات د اقتصادي پرمختګ مانع ګرځي. د ټکس د سیستم د جوړولو لپاره ځنې اړین اصول په لاندې ډول دي:

- ټکس باید د غیر ضروري شیانو پیرودل کم کړي پرته له دې نه چې په تولیدي پیداوارو باندې ناوړه اغیزه وکړي او باید په سرمایه جوړونه (Capital Formation) کې مرسته وکړي.

- لوړ ټکس باید د تحسیني او غیر مفیدو تجارتي توکېو په وارداتو او خرڅلاو باندې و لګیږي. د بیلګې په توګه په ډیش آنتن ، ویدیو، سګریټو او داسې نورو شیانو



لوړ ټکس غوره دی

- هغه کمپنۍ (سکتور) چې په اقتصادي پرمختګ کې اهم رول لوبوي باید کم ټکس ورکړي او یا د امکان په صورت کې له ټکس څخه معاف او ددې تر څنګ ورسره لازمه مرسته هم وشي.

- د ټکس لګولو په وخت کې باید د خلکو مالي حالت په نظر کې ونیول شي، یعنې داسې ټکس ولګول شي چې عوام یې د ورکولو توان ولري. ډیر لوړ مالیات خلك دیته اړ کوي چې کم کار وکړي او خپله پانګه له هیواد څخه بهر ته نقل کړي، چې په دې سره د نورو مضرو اثراتو ترڅنګ د بیکارۍ کچه لوړیږي او دا د اقتصادي پرمختګ لپاره لوی ګواښ مینځته راوړي.

## په اسلامي هیوادکې د حکومت لګښت:

د عوامو او ملت هوساینه د اسلامي دولت د لګښتونو یو هدف دی، حکومت خپلواك نه دی چې څرنګه وغواړي د بیت المال پیسې وکاروي، بلکې په هغو شیانو یې باید مصرف کړي چې د مقاصد شریعه په لاسته راوړنه او د عوامو د ژوند د سطحې په لوړ والي او هوساینه کې مفید او ګټور واقع کېږي.

د حکومت لګښتونه باید داسې وي چې د عامو خلکو د ژوند سطحه ورسره لوړه شي او هم عامه وسایل لکه ښوونه، روغتیا، دفاع او داسې نور برابر شي او ددې تر څنګ اقتصادي ثبات وساتل شي، د انفلاسیون په حالت کې حکومت ته ښایي چې خپل لګښتونه کم او د اقتصادي زوال په حالت کې یې لوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زکات

لکه څرنګه مو چې مخکې یادونه وکړه، زکات د اسلام دریمه بنا ده او د اسلامي مالي پالیسۍ د ملا د تیر حیثیت لري. زکات په لغت کې پاکوالي او په اصطلاح کې ودې ته وایي .الله تعالی د زکات په اړوند داسې فرمایي:

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللهِ إِنَّ اللهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ(البقرة109)

ترجمه: او سم دروئ (اداکوئ له ټولو حقوقو سره ) لمونځ او ورکوئ زکات او هغه شي چې مخ کې لیږئ لپاره د ځانو خپلو له نیکۍ (لکه صلاه اوصدقه) وبه مومئ (ثواب د هغه په نزد د الله، بیشکه چې الله په هغه شي چې کوئ یې تاسې ښه لیدونکی دی .

## د زکات نه ورکونکي جزا:

1) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يَعْنِي بِشِدْقَيْهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ ثُمَّ تَلَا لَا يَحْسِبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ الْآيَةَ [43]

ترجمه: له ابي هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : چا ته چې الله پاك مال ورکړ او ده یې زکات ور نه کړ، نو دغه مال به یې

[43]- المصدر:صحيح البخاري، الكتاب: الزكاة, الباب: اثم مانع الزكاة, رقم الحديث: 1315



د قیامت په ورځ د لغړ سري کمچه مار په څیر چې دوه نیشونه به لري دده تر غاړه را تاو شي او له وښکیو نه به یې ونیسي بیا به ورته وایې زه ستا مال یم زه ستا خزانه یم، بیا یې دا آیت ولوست: يَحْسِبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ الْآيَةَ [44]

2) عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ جِئْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ فَلَمَّا رَآنِي مُقْبِلًا قَالَ هُمْ الْأَخْسَرُونَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ فَقُلْتُ مَا لِي لَعَلِّي أُنْزِلَ فِيَّ شَيْءٌ قُلْتُ مَنْ هُمْ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي قَالَ الْأَكْثَرُونَ أَمْوَالًا إِلَّا مَنْ قَالَ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا حَتَّى بَيْنَ يَدَيْهِ وَعَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَمُوتُ رَجُلٌ فَيَدَعُ إِبِلًا أَوْ بَقَرًا لَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهَا إِلَّا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْظَمَ مَا كَانَتْ وَأَسْمَنَهُ تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا كُلَّمَا نَفِدَتْ أُخْرَاهَا أُعِيدَتْ أُولَاهَا حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ [45]

ترجمه: له ابي ذر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته په داسې حال کې چې د کعبې شریفې په سیوري کې ناست ؤ راغلم، کله چې یې مخامخ ورتلونکی ولیدم ویې فرمایل: دکعبې په پالونکي مې قسم چې همدوی تاوانیان دي، له ځان سره مې وویل ما له څه دي؟ کېدای شي زما په هکله څه را نازل شوي وي، نو ومې ویل مور او پلار مې له تا قربان څوك دي دوی؟ ویې فرمایل: د مالونو ډېروونکي، مګر هغه څوك نه چې خیراتونه ورکوي تر دې پورې چې مخې، ښي اړخ او کیڼ اړخ ته یې وشیندي، بیا یې وفرمایل: زما دې قسم په هغه ذات وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، نه مري یو سړی چې اوښان یا غوایان پریږدي او د هغه زکات یې نه وي ورکړی، مګر دا چې دغه اوښان او غوایان به په ورځ د قیامت له هغه نه چې وو غټ او چاغ وي را به شي په پښو به یې پایمالوي او په ښکرو به یې وهي، کله چې پای ته ورسېږي، لومړنی به بیرته پرې را وګرځي تر څو چې د خلکو تر منځ فیصله وشي.

د زکات راټولول د حکومت دنده ده، په تیرو اسلامي ادوارو کې اسلامي زکات را

[44]- المصدر:صحيح البخاري، الكتاب: الزكاة, الباب: اثم مانع الزكاة, رقم الحديث: 1315

[45]- المصدر:سنن النسائي، الكتاب: الزكاة, الباب: التغليظ في حبس الزكاة, رقم الحديث: 2397

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولول د حکومت وظيفه وه، له بده مرغه چې په عباسي دور کې دوکه بازي شروع شوه، خلك په ويره کې شول چې حکومت شايد د زکات پيسې سمې ونه کاروي او ځينو علماو داسې فتوی ورکړه چې خلک يې په خپله مستحقينو ته ورکولی شي، له هغه څخه وروسته خلکو د زکات پيسې حکومت ته نه ورکولې او په خپله يې مستحقينو ته زکات ورکول شروع کړل.

په زور سره هم د زکات را ټولول جواز لري حضرت ابوبکر (رض) د زکات نه ورکوونکو خلاف جهاد وکړ، ترهغې پورې چې هغوی يې د زکات ورکولو ته اړ کړل.

## په کومو شيانو کې زکات فرض دی او څومره؟

سره له دې چې د زکات اندازه مخکې ذکر شوه دلته يې يو ځل بيا په لنډه توګه تکرارو. اسلامي علماء په دې باندې متفق دي چې په پيسو باندې (2,5%) په کانونو او معدنونو (20%) د توليد يا پيداوار : په باراني مځکه (10%) او په غير باراني ځمکه (5%) د فابريکې په توليداتو هم (5%-10%) لګېدی شي






د اسلام له نظره نصاب د زکات د غريبۍ د خط [46] په وسيله ټاکل کېږي. ټول هغه خلك چې صاحب د نصاب وي يعنې عايد يې د ضروري اړتياوو له پوره کولو څخه زيات وي، هغوی د دغه غريبۍ له خط نه بر سيره راځي او زکات ورباندې فرض دی. د غريبۍ د خط ټاکل يا د هغه مقدار پيسو ټاکل چې د يوه سړي لومړنۍ اړتياوې رفع کولی شي په هر هيواد کې مختلف دي او د هغه هيواد په حالاتو او د نوموړي شخص په ضروریاتو پورې اړه لري.

## خلک ټول درې طبقې دي:

**i**. يو هغه ګروپ خلك دي چې عايد يې د ژوند اړتياوې نشي پوره کولی دوی د زکات مستحقين دي

**ii**. هغه ګروپ خلك چې عايد يې د ژوند اړتياوې پوره کوي، خو بيا هم صاحب د نصاب نه وي، دا ډله نه زکات ورکوي او نه يې اخلي

**iii**. هغه خلك چې عايد يې له نصاب نه زيات وي دوی زکات ورکوي.

ا لله پاك په قرآنکريم کې د زکا ت آته مستحقين را ښودلي دي:

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنْ اللهِ وَاللهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (التوبة**59**)

ترجمه: بې شکه همدا خبره ده چې صدقې (زکات صرفيږي) لپاره د فقيرانو او مسکينانو او عاملانو پرهغه او هغوته چې الفت اچولی شي په زړونو د دوی کې (له

---

46- Poverty Line د عاید هغه اندازه چه د یوه شخص د ژوندي پای کیدو ضرورت رفع کولي شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام سره) او (صرفیږي) په (خلاصولو) د غاړوکې او پور وړو او په لاره د الله (ج) کې او مسافرانو (چې مال ورسره نه وي،(مقرره او لازم کړې شویده دغه) فریضه (زکات) له (جانبه) د الله (ج) او الله (ج) په هرڅه ښه پوه او د حکمت خاوند دی

اوس دا سوال پیداکېږي چې آیا دغه لست ته وسعت ورکول کېدی شي اوکه نه؟ او یا په بل عبارت آیا حکومت د زکات پیسې په نورو حکومتي کارونو کې لکه سړك جوړولو ... مصرف کولی شي او که نه؟

زیات شمیر علماء پدې نظر دي چې دغه لست ته وسعت نشو ورکولای، ځکه چې په پورته آیت کې د زکات مستحقین ټاکل او تثبیت شویدي، امام شافعي(رح) استدلال کوي چې د لام تملیك په وجه (للفقراء...) مونږنشو کولی دې لست ته وسعت ورکړو ځکه لام التملیك ملکېت ښیي. مګر ځینې نور علماء بیا وایي چې دغه لست ته وسعت ورکول کېدی شي. هغوی وایي چې په في سبیل الله کې ټول نیك کارونه لکه ښوونځي اوسرك جوړول....او په عاملین کې د حکومت ټول کارکونکي شامل دي.

هغه کسان چې زکات ورکول ورته جوازنلري عبارت دي له والدین (مور او پلار)، خپل ماشومان او کفار، دا ځکه چې یو سړی نشي کولی چې د زکات څخه په خپله ګټه او کار واخلي، د والدینو او خپلې کورنۍ نفقه خو هسې هم پر سړي فرض ده او که چیرې یو سړی د خپلو ماشومانو او والدینو نفقه نشي برابرولی هغه صاحب د نصاب نه دی او پر هغه باندې زکات ورکول لازم نه دي. له دینه علاوه نورو خپلوانو ته نه یوازې دا چې زکات ورکول جواز لري بلکې بهتره هم دی.

## زکات او اقتصادي ثبات:



په هر هیواد کې کله ښه اقتصادي حالت وي (اقتصادي رونق، دکار وکسب اوج چې په ښه اقتصادي حالت کې تولیدات زیات، بیکاري کمه او عایدات یا درامد زیات وي بالعکس په خراب اقتصادي حالت کې (اقتصادي زوال یا رکود وي) تولیدات کمیږي، بیکاري زیاتیږي او عاید ورسره ښکته کېږي . مونږ دغه اقتصادي حالات په لاندې شکل (دکار او کسب دور یا د اقتصادي فعالیت دور) ښودلای شو.

او ددې لپاره چې اقتصادي حالت اوسط وساتل شي (اقتصادي ثبات) او په لاندې شکل کې هغه په مستقیم خط باندې ښودل شوی مونږ د زکات څخه اغیزمنه استفاده کولی شو. له همدې وجې (د زکات سیستم) له امله ویلی شو چې اسلامي اقتصادي سیستم د غیر اسلامي اقتصادي سیستم په پرتله ډیر اقتصادي ثبات لري چې ستره وجه یې د زکات موجودیت او له سود څخه منع ده.




په پورتني شکل کې مونږ په اقتصاد کې د کار او کسب رول، یا د اقتصادي فعالیت رول (Business cycle) وینو.کله چې اقتصاد په رونق کې وي ]دکار و بار اوج وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Boom) ] عمومي تقاضا، توليدات او د وګړو لپاره د روزګار شرايط برابرېږي (د بيکارۍ سطحه ورسره ټيټېږي) او په عمومي ډول د خلکو د ژوند سطحه لوړېږي پدې حالت کې ډېر کسان د نصاب خاوندان کېږي او د زکات څخه لاسته راغلې پيسې يا بوديجه زياتېږي، خو په مقابل کې دومره غريبان نه پيدا کېږي چې دغه د زکات ټولې روپۍ ورباندې مصرف شي، نو حکومت کولی شي دغه زياتې او يا تفاضلې پيسې وساتي. او کله چې خراب اقتصادي حالت [اقتصادي بحران، اقتصادي رکود] مينځته راشي بيا نوموړې پيسې په کار واچوي. ځکه په خراب اقتصادي حالت کې عمومي توليدات کمېږي، د بيکارۍ سطحه لوړېږي او د شيانو د اخستنې عمومي تقاضا کمېږي [کله چې د شيانو د اخستنې عمومي تقاضا کمه شي، هغه کمپنۍ چې نوموړې تجارتي توکي توليدوي خپل توليد کموي او ډېر کارګران له کاره ګوښه کوي چې دا د بيکارۍ مشکل نور هم زياتوي ] . نو حکومت کولي شي چې هغه د زکات ذخيره شوې پيسې په غريبانو وويشي او پدې ډول عمومي تقاضا بيا پورته او دغه بد اقتصادي حالت (اقتصادي رکود يا تنزيل) له مينځه يوسي . خلاصه دا چې د زکات په وسيله موږ تر ډېره حده د اقتصادي ثبات په ساتنه او مينځته راوړنه کې بريالي کېدی شو.

نوټ: په غوره اقتصادي حالت کې د وګړو عايد (ګټه) زياته وي، نو ځکه د هغوی د لګښت فيصدي راټيټېږي[ (MPC) Marginal Propensity to consume] کمېږي

بالمقابل په خراب اقتصادي حالت (اقتصادي رکود يا تنزيل)کې څرنګه چې د ډېرو وګړو عايد کمېږي نو ډېر خلك د غريبۍ له کرښې نه د لاندې راځي ،که په دغه حالت کې د زکات ذخيره شوې پيسې غريبانو ته ورکړل شي نو عمومي تقاضا ورسره زياتېږي. بايد په ياد ولرو که چيرې د شتمنو خلکو څخه پيسې واخستل شي او غريبو يا نيستمنو خلکو ته ور کړل شي عمومي تقاضا ډېره ورسره لوړېږي ځکه نهايي ميل په مصرف (MPC) او متوسط ميل په مصرف (APC) دواړه لوړېږي.

ځنې خلك دا وايي چې د زکات پيسې غريبان له کار کولو څخه ډډې کولو يا سستۍ



او بيکارۍ ته هڅوي، ځکه دوی وايي چې په مفته د زکات پيسې رارسيږي نو کار کولو ته څه اړتيا؟ خو دغه وهم په ځای نه دی ځکه مسلمانان په دې عقيده دي چې د زکات پيسې يا دولت نا پاکي ده [د زکات ورکولو په وسيله خلك خپل مال پاکوي ] نو ځکه زکات اخستونکي کوښښ کوي چې په خپله ډېر کار وکړي تر څو حلال رزق وګټي او ددې جوګه شي چې په خپله غريبو خلکو ته زکات ورکړي.

## د زکات او ټکس تر منځ توپير:

- زکات د الله (ج) له اړخه په هر بډای مسلمان فرض دی، خو ټکس د حاکم له خوا په عوامو باندې لګول کېږي، معنی داچې زکات ديني وجيبه ده چې په ورکولو يې ثواب او په نه ورکولو يې عذاب دی.
- د زکات حد (کچه، اندازه) معينه ده، پداسې حال کې چې ټکس حاکم په خپله خوښه لګوي او هر څومره چې وغواړي حد يې لوړولی شي.
- .زکا ت دايمي دی، خو ټکس دايمي نه بلکې موقتي دی او د اړتيا په وخت کې د حکومت له خوا په عوامو لګول کېږي هغه هم هغه وخت کله چې د زکات په وسيله مشکل حل نشي.
- د زکا ت مستحقين الله پاك ټاکلي دي، خو ټکس حاکم په هر ځای کې چې وغواړي مصرفولی شي.

## ماليه(ټکس):

په قرآنکريم کې د مالي چارو په برخه کې يوازې د دوو شيانو د اجباري ورکړې امر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شویدی: زکات پر مسلمان او جزیه پر کا فر باندې کوم چې د اسلامي حکومت تر حکم لاندې ژوند کوي. پدې برخه کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم او لومړي خلیفه (رض) احکام تر همدغو دوو پوړې محدود وو, حضرت عمر (رض) د زکات ترڅنګ خراج هم ولګولو. د ټکس مسئله له انفاق او صدقې سره تړلی شو، انفاق او صدقه په قرآنکریم کې ذکر شوی، انفاق تقریبا (۶۰) ځلې او زکات او صدقه تقریبا (۳۰) او (۱۵) وارې په قرآنکریم کی ذکر شویدي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم مستقیم ټکس نه و لګولی، ځکه چې اړتیا ورته نه وه او د ضرورت (جهاد) په وخت کې او یا بل وخت چې به د وسایلو اړتیا وه نو صحابه کرامو (رض) ته به یې وویل چې دا وسایل برابر کړئ هغوی به په داو طلبانه ډول دا کار کولو.

اوس دا سوال پیداکېږي چې اسلامي دولت د زکا ت تر څنګ ټکس لګولی شي او که نه؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث کې فرمایلي:

،،وفي ا موالکم حق معلوم للسائل والمحروم،،

ترجمه: ستاسو په مالونو کی د سوال کونکي او بې برخې فقیر لپاره په فرض زکات سربیره نور حق هم شته

لدینه دا څر ګندیږي چې حکومت ټکس لګولی شي، امام غزالي په خپل وخت کې د حکومت لخوا د ډېر ټکس لګولو خلاف و، ځکه ده ویل چې دغه زیاتوالی د شریعت مطابق ندی، خو هغه وايي چې حکومت کولی شي د عوامو د ګټې پخاطر د زکات تر څنګ ټکس هم ولګوي او هغه په دوه حالتونو کې:

۱-دهیواد د د فاع او د عوامو د امنیت ساتلو لپاره.

۲-که چیرې اسلامي ټولنه د بډایانو (فیوډال، شتمنو) له اړخه له خطر سره مخ وي او یا که چیرې شتمن یا دولت مند په ټولنه کې د ورورګلوۍ فضا ګډوډوي.



لکه څرنګه مو چې مخکې وویل ټکس په دوه ډوله دی مستقیم او غیر مستقیم: غیر مستقیم ټکس ددې لپاره لګول کېږي چې د انفاق نړیوال هدف پوره کړی شي. مستقیم ټکس د لوړ عاید او پر دولت لرونکو خلکو لګیږي تر څو عاید په انصاف او عدل سره وویشل شي او د اسلام د انصاف او عدل اصل تطبیق شي. سره له دې چې دغه غیر مستقیم ټکس به په ځینو غریبو او بیوزلو عوامو بوج وي، خو بیا هم حکومت کولی شي چې د زکات او یا د حکومت له بودیجې نه له هغوی سره مرسته وکړي . په لاندې ګراف کې په ټولنه کې مستقیم او غیر مستقیم مالیات دواړه ښودل شویدي او دا په ډاګه شویده چې د زکات له بودیجې نه د حکومت له خوا له غریبانو سره د مرستې (انتقالي پرداخت) په وسیله پر غریبو او بیوزلو خلکو د غیر مستقیم ټکس مضر اثرات جبران کېدلی شي.




د زکات حد، سبسیډي،مالیاتو(ټکس)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱) د گذران خط (Subsistence Line) د پیسو(عاید) هغه مقدار ښيي چې دومره د ژوند ضروري شیان پرې واخستل شي چې د یوه سړي د ژوندي پاتې کېدلو لپاره بس وي.

هغه خلك چې د غریبۍ له کرښې نه ښکته دي د زکات اخستلو مستحق دي او په دوی بانې ټکس (مستقیم ټکس) نه شته، هغه خلك چې عاید یې د غریبۍ له کرښې نه پورته وي مګر بیا هم د ژوند ټولې اړتیاوې نشي پوره کولی، دوی ته له حکومتي خزانې څخه مرسته ورکول کېدی شي (انتقالي پرداخت، سبسیډي)، او هغه کسان چې حقیقي دولت (حقیقي درآمد) یې د گذران خط (Subsistence Line) پورته وي پر هغوی باندې مستقیم ټکس لګیږي.

## اسلامي پولي پالیسي (**Monetary Policy in Islam**):

پولي پالیسي هم د مالي پالیسۍ په شان په اقتصادي پر مختګ او ثبات کې اهم رول لوبوي، د پولي پالیسۍ په سمې کارونې سره مونږ ډېر اقتصادي اهداف لکه د نرخونو ثبات، د عاید منصفانه ویش، د بیکارۍ له مینځه وړل او داسې نور لاسته راوړی شو. پولي سیاست د یوه هیواد د مرکزي بانك چې زمونږ په هیواد کې د افغانستان بانك په نوم یادیږي اداره کېږي.

مرکزي بانګ د پورته ذکر شویو اهدافو د لاسته راوړلو په خاطر ډېرې لارې یا طریقې لري، چې له دې جملې څخه ځنې داسې طریقې دي چې په سود ولاړې دي (دسود کچه کم وی یا زیاته)اسلامي بانك ته دا لارې نه دي خلاصې مګر ددې څخه علاوه نورې لارې چې سود په کې نه وي موجودې دي لکه: د بسپنې نسبت (Rserve Ratio)، د ګټې



شریکونې نسبت (Profit Sharing Ratio)، دقرض ورکونې نسبت (Lending Ration)، د بیا مالي کولو امداد نسبت (Refinance Ration)،او داسې نورې لارې شته چې په وسیله یې اسلامي بانك پولي سیاست په ښه او موثر ډول سره پر مخ بیولی شي، دا په دې معنی چې د سودي لارو په نه کارولو سره د اسلامي بانك موثریت او د پولي سیاست اداره کول نه زیانمن کېږي. په لاندې کرښو کې به د اسلامي بانك په وسیله د پولي سیا ست دکنټرول لارې تر څیړنې لاندې ونیسو:

- ## د بیا مالي امداد نسبت (**Refinance Ratio**):

د بیا مالي امداد نسبت: د مرکزي بانك له خوا تجارتي بانکونو ته د قرض حسنه، د یوه نسبت دوه وارې تادیه کولو ته وایي کوم چې بانك یې بیرته نشي ترلاسه کولای.

مثلاً: که چیرې تجارتي بانکونو ته قرض حسنه ورکړی شی او څنې قرضونه بیرته واپس نه شي، نو مرکزي بانك ددغه تاوان یوه برخه نوموړي بانك ته ورکوي، د مرکزي بانك په وسیله ددغه نسبت بدلون د تجارتي بانکونو د لنډ مهالي قرض ورکونې په قدرت باندې اثر پریباسي.

- ## د قرض ورکونې نسبت (Lending Ration):

د پور ورکوونې نسبت، د قرض حسنه د هغې نسبت څخه عبارت دی چې تجارتي بانکونه په قانوني توګه مجبور دي چې کم ترکمه هغه ټاکل شوی مقدار قرض حسنه ورکړي او ددې کچه د مرکزي بانك لخوا ټاکل کېږي چې د هغو پیسو یو نسبت دی چې عوامو په بانك کې اچولې (Deman Deposti) وي، مثلا بانك د ټولو هغو پیسو چې په کې اچول شوي ۲٪ په لازمي توګه په قرض ورکړي، دغه نسبت د مرکزي بانك لخوا ټاکل کېږي او په دې سره مرکزي بانك کولی شي چې په اقتصاد یا بازار کې د پیسو عرضه کنټرول کړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ګټې شریکولو نسبت (Profit sharing Ratio )

د تجارتي بانک او پیسو کارونکي یا صنعتکار تر مینځ د ګټې ګډولو نسبت د مرکزي بانك په وسیله کنترول کېدی شي او پدې وسیلې سره مرکزي بانك د پیسو په تقاضا او عرضه باندې اثر پریباسي.

له دې څخه علاوه مرکزي بانك د مضاربوي بودیجې په زیاتولو او یا کمولو سره کولي شي د خپلې بودیجې یوه برخه ګوښې کړي، کومه چې د نورو تجارتي بانکونو سره د مضاربوي پانګې په ډول سره کارول کېدی شي.

- مرکزي بانك کولی شي چې دګټې شریکونې باند (سکوك) مارکېټ ته وړاندې کړي او په دې وسیلې سره د پیسو تقا ضا او عرضه کنټرول کړي



# ماخذونه

## References


1. Quran karim [د قرانکریم کمپیوټري سافټویر]
د قرآنکریم د مبارکو آیتونو ترجمه له قرانکریم څخه [ قرانکریم ترجمه او تقسیر په پښتو ژبه کې، چې د سعودي عربستان لخوا چاپ شویدی] اخستل شوې تر څو له غلطۍ او اشتباه څخه مخنیوی شوی وي

2. Sahahi Sitha (Ahadith) کمپیوټري سافټویر

3. IIE's Blueprint of "Islamic Financial System"؛

4. Dr,Tahir Mansory, "Islamic Law of Contract and Business Transactions"

5. Prof.Abdul Hameed Dar and Pro. Main Muhammad Akram "Islamic Economics"

6. Mivhael P.Todaro ,Stephen C. Smith "Economic Development"

7. Studies in the science of Islamic Economic, Abdurhaman Usri

۸- اسلام مین رباکې حرمت اور بلا سود بینکاري ، دکتور غازي، د نړیوال اسلامي پوهنتون (رئیس).

۹- د اسلامي اقتصاد تر نامه لاندې کنفرانسونو کې د مختلفو اقتصاد پوهانو لخوا وړاندې شوې مقالې

۱۰- د انټر نیټ ځنې ویب پاڼې . پای


و من الله التوفیق

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**